
# احمدشاهي دولتداري ته لنډه کتنه

څېړنپوه دکتور محمد شريف ځدراڼ



# احمدشاهي دولتدارۍ ته لنډه کتنه

ليکوال: څېړنپوه دکتور محمد شريف ځدراڼ

کابل – ۱۴۰۳ ل.




## د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **احمد شاهي دولتدارۍ ته لنډه کتنه** |
| ليکوال : | **څېړنپوه دکتور محمد شريف ځدراڼ** |
| کمپوز او اېډېټ: | **جاويد آفتاب** |
| خپرندوی: | **ليکوال** |
| چاپ کال: | **۱۴۰۳ل./ ۲۰۲۵م.** |
| چاپشمېر: | **۵۰۰ ټوکه** |
| چاپځای: | **سحر مطبعه – کابل** |


د بيا چاپ حقوق له ليکوال سره خوندي دي.

# لیکلړ


سریزه ........................................ ۱

## لومړی څپرکی

د احمد شاه بابا پېژندنه ................................ ۹

الف – اسلاف............................................... ۹

ب - د احمد شاه بابا زېږېدنه.................................. ۱۳

ج – ماشومتوب او ځواني ...................................... ۱۷

## دویم څپرکی

په شېرسرخ لویه جرگه کې د پاچا په توگه د احمد خان ټاکنه ........ ۲۱

الف – د شېرسرخ لویه جرگه چېرې او کله جوړه شوه؟ ............... ۲٤

ب – د شېرسرخ لویې جرگې پرېکړې.................................. ۲۷

ج – د شېرسرخ لویې جرگې اهمیت................................... ۳۰

## درېیم څپرکی

د افغانستان د حکومت او جغرافیایي حدودو بیاجوړونه................ ۳۵

الف – حکومت جوړونه ............................................ ۳۵

ب – د افغانستان د تاریخي او جغرافیه یي حدودو بیاجوړونه ....... ٤٤

ج – د حکومتدارۍ بڼه............................................ ۵۵

## څلورم څپرکی

پوځي او اقتصادي سیاست ........................................ ٦۱

الف – پوځي سیاست ............................................. ٦۱

ب ـ اقتصادي سياست ........................................ ۷۵

## پنځم څپرکی

ټولنيز او فرهنگي سياست ........................................ ۸۹
الف – ټولنيز سياست ........................................ ۸۹
ب – مذهبي سياست ........................................ ۹۳
ج – په احمد شاهي نظام کې د ښځو سياسي او ټولنيز مقام ....... ۹۸
د – فرهنگي سياست ........................................ ۱۰۹
لومړی – د احمد شاه بابا فرهنگي شخصيت ........................ ۱۱۱
دويم – د احمد شاه بابا فرهنگي خدمتونه ........................ ۱۱۵
درېيم - د احمد شاه عمراني خدمتونه ........................ ۱۳۶

## شپږم څپرکی

د احمد شاه بابا بهرنی سياست ........................................ ۱۴۱

## اووم څپرکی

احمد شاه ابدالي او د برتانوي هند ختيځه کمپنی .................. ۱۶۱

## اتم څپرکی

د ختيځپوهانو له انده د احمد شاه بابا شخصيت او دولتداري ...... ۲۰۵
ماخذونه ........................................ ۲۲۳

## سریزه

احمد شاه بابا د افغانستان یو سیاسي، ملي، فرهنګي او پوځي شخصیت و او د معاصر افغانستان بستګر ګڼل کېږي. د احمد شاه بابا د زېږېدو ځای د هرات تاریخي ښار دی او دا چې یو شمېر لیکوال په ملتان کې د ده زېږېدنه ښیي، سمه نه ده او یوه تاریخي تېروتنه ده؛ ځکه چې د ده پلار او نیکه ملتان ته نه دي تللي. که څه هم ملتان په ۳۷۰-۴۰۱هـ. کې د لودیانو د سلطنت پلازمېنه وه او وروسته ډېر پښتانه او په هغه جمله کې د احمد شاه بابا تربرونه د خداداد سلطان زامن هر یو حیات سلطان او لښکر خان هم ورغلل. حیات سلطان ابدالي د احمد شاه بابا د نیکه دولت خان ابدالي پر مهال په ملتان کې اوسېده. عبدالله خان د حیات سلطان زوی د خپل زوی اسدالله خان سره په ۱۷۱۱م.کال له ملتانه هرات ته راغی، په هرات کې یې صفوي حکمران جعفر خان ته ماتې ورکړه او په ۱۷۱٦م.کال د هرات حکمرانۍ ته ورسېد. د عبدالله زوی اسدالله خان په ۱۷۱۹م.کال د خاشرود په جګړه کې د شاه محمود هوتک له خوا ووژل شو، عبدالله خان د خپل زوی د وژلو له امله ډېر غمجن شو او د الکوزیو د مشر عبدالغني خان په مشوره یې د هرات حکومت د دولت خان زوی او د احمد شاه بابا پلار زمان خان ته چې فعال او لایق سړی و، وسپاره.

په دې ډول ویلای شو چې د احمد شاه پلار او نیکه ملتان ته هېڅکله هم نه دي ولاړ شوي، د احمد شاه نیکه دولت خان په ۱٦۴۹م.کال کې د

دویم صفوي شاه عباس له خوا د کندهار ولایت کوتوال وټاکل شو او پنځوس کاله یې په بریالتیوب سره حکومت وکړ، تر څو چې د ۱۷۰۳م.کال په شاوخوا کې د گرگین خان گرجي له خوا ووژل شو. ابدالي قبیلې د دولت خان زوی رستم خان پخپل مشرتوب وټاکه، خو دغه مهال د رستم ورور او د احمد شاه پلار زمان خان په کرمان کې د صفوي حکومت یرغمل و. رستم له څلور کاله حکومت کولو وروسته ومړ او د هرات واک د دوی تربرونو (عبدالله خان او اسد الله) ته انتقال شو.

عبدالله خان د خپل زوی اسدالله خان له وژلو وروسته د غمگینۍ او سپین‌ږیریتوب په وجه د قومي جرگې له پرېکړې سره سم په ۱۷۱۹م.کال د هرات حکومت زمان خان ته وسپاره او هغه تر ۱۱۳۵هـ./۱۷۲۲م.کال پورې د هرات واکمن و. پس معلومېږي چې د احمد شاه د زېږېدو پر مهال د هغه پلار د هرات واکمن و او په ملتان کې د احمد شاه بابا د زېږېدنې نظریه مردوده ده.

احمد خان په ۱۷۲۲م.کال هغه مهال د هرات په اختیارالدین کلا کې وزېږېد چې لا د ده پلار (زمان خان) په هرات کې د ابدالي حکومت واکمن و. موږ ته جوته ده چې د احمد خان پلار زمان خان په ۱۷۱۹م.کال کې قدرت ته ورسېد او داسې کوم سند په لاس کې نه لرو چې هغه له مخې دا ثابته کړو چې نوموړی دې د ۱۷۱۹ - ۱۷۲۲م.کلونو ترمنځ د څه وخت لپاره ملتان ته تللی وي.

غبار هم په ملتان کې د احمد شاه بابا زوکړه ردوي او د خپل اثر «احمد شاه بابا افغان» په ۱۸-۲۰مخونو کې لیکي چې احمد شاه په ۱۱۳۵هـ./

۱۷۲۲م.کال په هرات کې وزیږېد او په ملتان کې د احمد شاه د زېږېدو خبره یوه ښکاره تېروتنه ده چې له ځینو هندوستاني لیکوالو څخه اورېدل شوې او یو شمېر نورو تکرار کړې ده، لکه محمد حسن هندي چې پرته له کوم لاسونده د خپل کتاب په یوه ځای کې وایي: «احمد شاه خطه ملتان مین پیدا هوا... یا دا چې عبدالکریم او نورو احمد شاه د عبدالله خان لمسی ګڼلی او داسې پایله یې اخیستې چې احمد شاه په ملتان کې زېږېدلی دی، خو داسې نه ده، د عبدالله خان او احمد شاه بابا کورنۍ یو تر بله جلا او سیالې کورنۍ دي.

د احمد شاه بابا د عصر نومیالی شاعر حافظ ګل محمد مرغزي د خپل اثر (احمد شاهي شهنامه) په ۲۲ مخ کې چې په ۱۷٦۲م.کال یې کښلې ده، د احمد شاه د زېږېدنې ځای خراسان یعنې هرات ښودلی دی؛ ځکه د ده پلار هغه مهال د هرات د حکومت مشر و او د شعر په ژبه داسې وایي:

دی سکندر کشور کشای دی
و جهان ته رهنمای دی
ښه مولود یې خراسان دی

د احمد شاه بابا واک ته د رسېدو نېټه په یو شمېر تاریخونو کې د ۱۷۴۷م.کال د اکتوبر یا د جون میاشت ښودل شوې، خو د انندرام په تاریخ کې د احمد شاه بابا له خوا یو مکتوب د محمد حسین افریدي په نامه راغلی چې په هغه کې دی د خپلې تاجپوشۍ نېټه د ۱۱٦۰هـ.کال د رجب میاشتې اتلسمه (۱۷۴۷م.کال د جولای پنځلمه) یادوي چې د نورو په پرتله دا سمه او دقیقه نېټه ده. (دراني احمد شاه، لمنلیک،۴۲مخ.)

د احمد شاه بابا د وفات نېټه په یو شمېر تاریخونو کې ۱۷۷۳م.کال ښودل شوی، خو احمد شاه بابا د ۱۱۸٦هـ.کال د رجب میاشتې په شلمه د جمعې پر شپه چې د ۱۷۷۲م.کال د دسمبر له دروېیشتمې نېټې سره سمون لري، وفات شوی دی. دغه راز د احمد شاه بابا د سلطنت موده په تاریخونو کې کله ۲٦ او کله هم ۲۵ کاله ښودل شوې ده چې د هجري قمري سنې له مخې (۱۱٦۰-۱۱۸٦هـ.) ۲٦ کاله او د میلادي سنې (۱۷۷۲-۱۷۴۷م.) له مخې ۲۵ کاله کېږي.

په ۱۷۲۲م. کې د زمانخان له مړینې وروسته د احمد خان پالنه او روزنه د هغه د ننګیالۍ مور (زرغونې انا) او مشر ورور ذوالفقار خان پر غاړه شوه. په ۱۱۴۴هـ.کال د قومي جرګې د پرېکړې پر اساس له ذوالفقار خان څخه د هرات حکومت واخیستل شو، نو دی له خپلې کورنۍ سره لومړی فراه او ورپسې کندهار ته ولاړ. هلته د شاه حسین هوتک له خوا دواړه وروڼه په دې دلیل ۷ کاله بندیان شول چې هغوی یې په کندهار کې خپل سلطنت ته خطر ګڼل. ذوالفقار خان او احمد خان په کندهار کې تر هغه بندیان وو چې نادر افشار کندهار ونیو او د هوتکو حکومت یې راپرځاوه.

نادر افشار د هوتکو د واکمن شاه حسین کورنۍ او ذوالفقار خان ابدالي کورنۍ مازندران ته تبعید کړې. ذوالفقار خان په تبعید کې ومړ او د کورنۍ مشرتوب د احمد خان پر غاړه شو. په ۱۱۵۴هـ.ق (۱۷۳۹م.) کال نادر افشار د هندوستان، بخارا او خوارزم له فتحې وروسته پارس ته راستون شو او دغه مهال په مازندران کې تبعید شوي پښتانه د هغه لیدو ته ورغلل چې

۱۹ یا ۲۱ کلن ځوان احمد خان هم په کې و. په دغه لیدنه کې نادر افشار د پښتنو مشرانو له منځه احمد خان د خانداني اصالت او اعتبار په لحاظ د افغانانو د یوه لښکر مشر وټاکه. احمد خان د نادر افشار په لښکر کې شپږ کاله دنده تر سره کړه او د قفقاز په جګړه کې یې د تورې او مېړانې بیرغ اوچت کړ او د دې مېړانې په وجه نادر شاه افشار احمد خان د خپل شاهي ګارد قوماندان وټاکه.

د نادر افشار له وژلو وروسته له ټولو افغانانو سره کندهار ته راستون شو او افغان مشران په سلا شول چې د پاچا ټاکلو لپاه یوه لویه جرګه راوغواړي.

## د شېرسرخ لویه جرګه

دا لویه او تاریخي جرګه د افغانستان د پښتنو، ازبیکو، تاجیکو، هزاره‌وو او بلوڅو د مشرانو په ګډون په ۱۱۶۰هـ.ق. (۱۷۴۷م.) کال د کندهار په شېرسرخ کې جوړه شوه او تر نهو ورځو یې دوام وکړ، خو په پای کې د دې لویې جرګې پرېکړې دا وې:

۱- احمد خان یې د افغانستان د پاچا په توګه انتخاب کړ.

۲- د افغانستان خپلواکي یې اعلان کړه.

د جرګې لوی اهمیت دا و چې د افغانانو ملي یووالی یې تامین کړ او د ملي اتفاق پر بنسټ یې د افغانستان پاچا انتخاب او د افغانستان خپلواکي یې اعلان او احمد شاه بابا ته یې د یوه پاچا په توګه دنده وسپارله چې د افغانستان د لرغونې او تاریخي خاورې تمامیت او خپلواکي تامین کړي.

احمد شاه بابا د افغانستان د پاچا په توګه د شېرسرخ لويې جرګې د پرېکړې د تامينولو په موخه لاس په کار شو او د خپلې پاچاهۍ په لومړيو څلورو کلونو کې يې د افغانستان د خاورې تماميت او سياسي يووالی له آمو څخه تر عمان پورې او له سند درياب څخه تر مشهد، نېشاپور او کرمان پورې بېرته احيا او بشپړ کړ او د دراني امپراتورۍ بنسټ يې کېښود. دغه امپراتوري په ۱۷٦۱م.کال کې د مساحت له مخې د بل هر وخت څخه پراخه وه، ځکه چې په همدغه وخت کې د احمد شاه دراني قدرت په اوج کې و.

په دې دوره کې د احمد شاه په امپراتورۍ کې د هغو ځمکو نه علاوه چې افغانان ورباندې اوسېدل، د هندوستان، ايران او جنوبي ترکمنستان زياتې برخې په کې شاملې وې. د احمد شاه بابا د ټولواکۍ پر څوارلسم کال چې د ده قدرت اوج ته رسېدلی و او د دراني امپراتورۍ پراختيا ۲،۱۰۰،۰۰۰ کيلومتر مربع ته رسېدله، چې دغه ساحه د ټولې فرانسې، ايټاليې، هسپانيې او برتانيې تر ټاپوګانو لويه وه.

لوی احمد شاه بابا په دغه پراخه امپراتورۍ کې يو داسې سياسي نظام رامنځته کړ چې د درو قواوو (اجرائيه، مقننه او قضائيه) پر بنسټ يې فعاليت کاوه. احمد شاهي دولت چې د مشورې او جرګې پر بنسټ تشکيل شوی و او لااقل د خپل سلطنت په دوره کې يې د جرګې پر بنسټ دوام وموند.

د فيرير په قول «د ده حکومت يو فدرالي جمهوريت ته ورته و او ده د دې پر ځای چې مطلقه پاچاهي وکړي، د دغه جمهوريت مشر و.» د هېواد په عمومي اداره کې له ده سره د لويانو او مشرانو يوې نهه کسيزې شورا مرسته

کوله او هېڅ یو غوره اقدام د دوی له خوښې پرته نهشو کېدلای. ده هېڅ وخت په قبایلي مشرانو د خپل سټروالي او لوړتیا غوښتنه نه کوله، ځکه یو وخت دی له هغوی سره یو برابر و او دوی هغه د پاچاهۍ قدرت ته ورساوه.

احمد شاه د افغانستان په اداره کې د سیاسي یووالي پر بنسټ باکفایته افغانان پرته له کوم تبعیض او پرته د ژبې، قوم او مذهب په پام کې نیولو سره د دولت پر څوکیو وګومارل. د بېلګې په توګه د هغه په قلمرو کې مهم او نامتو والیان دا وو:

په هرات کې درویش علی خان هزاره، په نېشاپور کې عباس قلي خان بیات، په قلات کې اشرف خان غلجي، په شکارپور کې دوست محمد خان کاکړ، په مشهد کې شهرخ افشار، په کشمیر کې خواجه عبدالله خواجه-زاده، په پټیاله کې امیر سنګه سک، په بلوچستان کې نصیر خان بلوچ، په پنجاب کې زین خان مومند، د سند په ولایت کې شجاع خان ابدالي او دغه راز په پلازمېنه کې د احمد شاه د دارالانشأ رئیس میرزا هدی خان قزلباش، د اعلی دیوان مستوفي میرزا علي رضا خان قزلباش، د ټولو خزانو مشر یو هندي یوسف علي نومېده او په التفات خان مشهور و.

ختیځپوهان په دې اند دي چې احمد شاه له موره رهبر زېږېدلی و، یو متین او کلکې ارادې نابغه و. د قبایلو او سرو په اداره کې د ځانګړې وړتیا څښتن و، تکړه پوځي قومندان او د جګړهییزو وړتیاوو لرونکی و، خو تل د سولې قهرمان، نرم او د عفوې خاوند و. جوړه او پخلاینه یې تر جګړې ښه ګڼله. مذهبي او پرهیزګاره شخصیت و، خو مذهبي تعصب یې نه درلود. د ده

په قلمرو کې د اسلام دین تر څنګ نورو ادیانو او مذهبونو ته د فعالیت اجازه وه. دی د آسیا په تاریخ کې یو له وقار لرونکو شخصیتونو څخه ګڼل کېږي.

احمد شاه بابا د خپل سیاسي او پوځي استعداد تر څنګ د یوه مؤرخ او ادیب په حیث هم استعداد درلود او د پوهې او ادبیاتو روزونکی و، د ده په غوښتنه تاریخ لیکنه او شاهنامو لیکنه رواج شوه.

په پای کې باید ووایم چې ۲۷۷ کاله وړاندې احمد شاهي دولتداری په سیمه کې بدیل نه درلود، دا یوه داسې دولتداري وه چې افغانان او افغانستان یې نړۍ ته په لوړ انداز وروپېژندل او زموږ ملي هویت یې په سیاسي او تاریخي لحاظ بیا احیا او ټینګ کړ او افغانان یې د یوه ملت په حیث متشکل کړل، دوی ته یې خپلواکي او یو خپلواک هېواد په میراث پرېښود، نو ځکه دغه لوی شخصیت ته افغانان د «بابا» خطاب کوي.

په درنښت

څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ

۱۴۰۳/۱۰/۰۱ – کابل

## لومړی څپرکی

## د احمد شاه بابا پېژندنه

### الف – اسلاف

احمد شاه بابا په شپږم پښت کې ملک سدو (د سدوزیو ابا) ته او په اتلسم پښت کې سړبڼ ته رسېږي. سدو خان په کندهار کې د سدوزیو د قبیلې مشر نیکه و او د ۹۶۵-۱۰۳۱هـ.ق پورې یې محلي حکومت درلود او د پارس صفوي پاچا لومړي عباس (۹۹۵-۱۰۳۸هـ.ق) هم منلی و.[۱]

لوی احمد شاه د زمان خان زوی، د دولت خان (۱۱۱۵هـ.ق شهید) لمسی، د سرمست خان کړوسی، د شېر خان کوسی، د حضرخان (۱۰۳۶هـ.ق مړ) کودی او د سدو خان (۱۰۳۱هـ.ق مړ) پردی و، په پوپلزۍ قبیله کې د سدوزیو پښه له دغه سدو خان رابېلېږي، د سدو خان کورنۍ د اودلو (ابدالیو) خانان وو او د کندهار په ښارصفا کې اوسېدل.[۲]

حبیبي لیکي چې سدو خان د معروف زوی د کندهار په مشرتوب د شاه عباس صفوي له خوا پېژندل شوی و او مرکز یې ارغستان و.[۳] سدو

---

۱ - عبدالشکور رشاد، د احمد شاهي عصر نومیالي، کندهار: علامه رشاد اکاډیمي، ۱۳۹۴، ۱-۲مخونه.

۲ - خانعلوم، د احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرح، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵٦، سریزه، ۱مخ.

۳ - عبدالحی حبیبي، د افغانستان پېښلیک، لومړی ټوک، د بیهقي کتاب خپرولو موسسه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۳، ۱۳۵مخ.

خان په ۱۰۳۱هـ.ق کال ومړ او مشر زوی یې حضر خان د ابدالیو مشر (محلي امیر) شو. حضر خان پنځه کاله دا مشرتوب وکړ او په ۱۰۳٦هـ.ق دی هم ومړ، زوی یې (سلطان خداداد) چې په سلطان خودکي مشهور و، د ابدالیو مشر او د صفوي پاچاهۍ له خوا د «سلطان» لقب ورکړل شو.

سلطان خودکي تر ژوبه پورې د خپل اقتدار قلمرو ارت کړ او تر دې سوبې وروسته یې د ابدالیو محلي امارت خپل ورور شېرخان ته ورپرېښود او پخپله یې د شېرخان د نایب په توګه کار کاوه. د شېرخان له مړینې وروسته د هغه مشر زوی سرمست خان د ابدالیو مشرتوب پر غاړه واخیست. کله چې سرمست خان ومړ، زوی یې دولت خان کوچنی و، ځکه د قوم مشرتوب د سلطان خودکي زوی حیات سلطان (فیروز خان) ته ورسېد او حیات سلطان د دولت د پلار سرمست خان د اکا زوی و.

د احمد شاه بابا نیکه دولت خان چې څنګه مېړانې وواهه، د کندهار پښتنو د قوم مشرتوب ده ته وسپاره. دولت خان د قوم مشرتوب ته په رسېدو سره سملاسي د کندهار صفوي حاکم ته د جګړې ډولونه وډنګول. صفوي حاکم هم د «فرخ» نومي قزلباش په مشرۍ یو لښکر د پښتنو پر ضد سوق کړ، خو په جګړه کې پښتانه بریالي شول او فرخ قزلباش یې وواژه. د کندهار صفوي حاکم د دې ماتې په وجه نور هم په قهر شو او دویم لښکر یې د دولت خان مقابلې ته راولېږه. دا ځل یې هم ماتې وخوړه او د قزلباشو لښکر بېرته کندهار ته ستون شو. له دې وروسته سلطان حیات (فیروز خان) د خپل وراره مېړانه او مشرتوب ومانه، د خانۍ او مشرتوب له دعوې

يې لاس واخيست، هندوستان ته ولاړ او د صفويانو پر ضد يې د ډهلي له مغول پاچا اورنگزېب (۱۰٦۸-۱۱۱۸هـ.ق) څخه مرسته وغوښتله. اورنگزېب پنځه سوي منصب ورکړ او حکم يې وکړ چې حيات سلطان دې د دکن د شخړې تر فيصله کېدلو پورې په ملتان کې واوسي؛ (ځکه يوشمېر مؤرخين د احمد شاه بابا زېږېدنه په ملتان کې گڼي، په داسې حال کې چې د احمد شاه بابا پلار او نيکه ملتان ته هېڅ ولاړ شوی نه دی او يوازې د احمد شاه بابا تربور سلطان حيات ملتان ته ولاړ شوی دی.)

د حيات سلطان تر تللو وروسته دولت خان د پښتنو بې‌سياله او خپلواک مشر شو. په ۱۱۱۴هـ.ق کال د صفوي حکومت له خوا ظالم «گرگين گرجی» د والي په توگه کندهار ته راواستول شو. سملاسي يې د دولت خان د ځپلو هلې ځلې پيل کړې. لومړی کار يې دا و چې د ابداليو پښتنو دوه کوچني خانان «عزت خان» او «اتل خان» يې د دولت خان پر ضد وپارول او د دغو ناسياله خانانو په لارښوونه او مرسته يې په ۱۱۱۵هـ.ق کال نابېره د شپې له مخې د قزلباشو لښکر د صفا په ښار کې د دولت خان په کلا وروخېژاوه او په دې بريد کې يې دولت خان د خپل مشر زوی په گډون وواژه او د کندهار د پښتنو خپلواکي د دوو ناسياله خانانو د ځان غوښتنې قرباني شوه.

د دولت خان له شهادت وروسته د هغه زوی رستم خان د کندهار د پښتنو مشر وټاکل شو، څلور کاله يې مشرتوب وکړ او په پای کې د صفوي حکومت پر ضد د بلوڅو په لمسون کې د لاس لرلو په گناه د گرگين له خوا بندي شو او هلته په ۱۱۱۹هـ.ق کال ووژل شو. د ده تر وژنې وروسته

قزلباشو د ده کور لوټ او تالا کړ او کهول یې څوک ښوراوک او څوک بکوا ته وتښتېدل.

د دولت خان کشر زوی زمان خان (د احمد شاه بابا پلار) لومړی د ګرګین په دربار کې د برمتې (یرغمل) په توګه ژوند تېراوه، بیا کرمان ته تبعید شو او هلته یې تر ۱۱۲۲هـ.ق کال پورې پردېسي ګالله او د صفوي حکومت تر نګرانۍ لاندې و. په ۱۱۲۲هـ.ق کال شاه حسین صفوي د میرویس هوتک د ځپلو په موخه د ګرګین وراره خسرو خان مامور کړ چې کندهار ته د یوه لښکر سره ولاړ شي. خسرو خان زمان خان او عبدالله خان له ځان سره ملګري کړل او د کندهار په لور وخوځېد، خو په فراه کې دغه دواړه پښتانه له خسرو خان څخه بېل شول، ځکه نه یې غوښتل چې د میرویس هوتک پر ضد وجنګېږي او هم دغو دواړو پښتنو په خپل منځ کې روغه وکړه او زمان خان د عبدالله خان مشرتوب ومانه. عبدالله خان سدوزی په ۱۱۲۹هـ.ق کال هرات له پارسیانو ونیو او د پښتنو پاچاهي یې اعلان کړه او زمان خان یې د مشاور په توګه وټاکه.

هغه مهال د پښتنو دود دا و چې پاچا به د قومي جرګې له خوا ټاکل کېده. په ۱۱۳۲هـ.ق کال د هرات د پښتنو جرګې له عبدالله خان څخه د سپین ږیریتوب په وجه پاچاهي زمان خان ته ورکړه او زمان خان تر مړینې دوه کاله او پنځه میاشتې د پښتنو ملي مشر او د هرات د سیمې خپلواک او رسمي پاچا و. زمان خان په ۱۱۳۵هـ.ق کال ومړ او د ذوالفقار خان او احمد خان په نامه دوه زامن ترې پاتې شول.[1]

---

۱ - عبدالشکور رشاد، د احمد شاهي عصر نومیالي، کندهار: علامه رشاد اکاډیمي، ۱۳۹۴، ۱-۴مخونه.

## ذوالفقار خان

د زمان خان له مړينې (۱۱۳۵/ ۱۷۲۲-۱۷۲۳) وروسته د وژل شوي عبدالله خان زوی محمد خان مشرتابه ته ورسېد. محمد خان په ۱۷۲۲-۱۷۲۳م. کې پر مشهد يرغل وکړ، له څلورو مياشتو کلابندۍ وروسته ناکام شو. د ده ناکامي د دې لامل وګرځېده چې ابدالي قبيلې د ده پر ځای د زمان خان مشر زوی ذوالفقار خان ته د قوم او حکومت مشرتوب ورکړ، خو د عبدالله خان د زوی الله يار خان او ذوالفقار خان د قدرت پر سر شخړه روانه وه او هرات د الله يار خان او ذوالفقار خان ترمنځ لاس په لاس کېده، تر څو چې په ۱۱۴۴هـ.کال نادر افشار هرات ونيو او ذوالفقار خان له خپل کشر ورور احمد خان سره په کندهار کې د شاه حسين هوتک دربار ته ورغی او تر ۱۱۵۰هـ.ق کال يعنې د شاه حسين هوتک د پاچاهۍ تر سقوط پورې بندي و. نادر افشار په ۱۷۳۸م.کال د کندهار له نيولو وروسته دغه دواړه ورونه له کورنۍ سره يوځای مازندران ته تبعيد کړل او ذوالفقار خان په تبعيد کې ومړ.[1]

### ب - د احمد شاه بابا زېږېدنه

غبار په خپل اثر (افغانستان د تاريخ په تګلوري کې) ليکي چې احمد شاه د خپل پلار زمان خان د مړينې په کال د هرات په ښار کې وزېږېد (۱۷۲۲م.).[2] دغه راز غبار په خپل اثر «احمد شاه بابا افغان» کې ليکي

۱ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۶٦، ۱۹-۱۴مخونه.

۲ - مير غلام محمد غبار، افغانستان د تاريخ په تګلوري کې، ژباړن:محمد بشير دوديال، کابل: ميوند د خپرندويې ټولنې مطبعه، ۱۳۹۳، ۴۱۴مخ.

چې احمد شاه پر ۱۱۳۵هـ.ق/۱۷۲۲م. کال په هرات کې وزېږېد.[۱]

گندا سنگهـ د هند یو وتلی مؤرخ چې د ده په قول، له ۱۹۳۳نه تر ۱۹۴٦ پورې یې خپل اثر «درانی احمد شاه» د هند، افغانستان او لندن په کتابتونونو کې بشپړ کړی، لیکي چې احمد شاه درانی په ۱۷۲۲م. کال له الکوزۍ زرغونې څخه په ملتان کې وزېږېد.[۲]

احمد شاه ابدالي د زمان خان سدوزي زوی د زرغونې له نسه په ۱۷۲۲م./۱۱۳۵هـ.ق کال په هرات یا ملتان کې وزېږېد. دغه نېټه د شاه محمود هوتک له خوا د اصفهان له فتحې سره برابره ده.[۳] رشاد لیکي چې احمد خان په یوه روایت په ۱۱۳۳هـ.ق کال د برات د میاشتې په یوولسمه او په بل روایت په ۱۱۳۵هـ.ق کال د هرات په عسقان نومې کلي کې زېږېدلی دی.[٤]

په «احمد شاهي شهنامه» کې چې د احمد شاه بابا هممهالی لیکوال او شاعر حافظ مرغزی په ۱۷٦۲م. کال لیکلی، د احمد شاه بابا د زېږېدو په باب داسې لیکي:

---

۱ - میر غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ۲۰مخ.

۲ - گندا سنگهـ، درانی احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منگل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۲۰مخ.

۳ - عبدالحی حبیبي، د افغانستان بېښلیک، لومړی ټوک، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۳، ۱۵۵-۱۵٦مخونه.

٤ - عبدالشکور رشاد، د احمدشاهي عصر نومیالي، کندهار: علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۹۴، ٦مخ.

دی سکندر کشور کشای دی
و جـهـان تـه راهـنـمای دی
ښـــه مولـد یې خراســـان
پـه مزاج و عـالي شـــان...[1]

په «ملتان» کې د احمد شاه د زېږېدو خبره یوه ښکاره تېروتنه ده چې له ځینو هندوستاني لیکوالو نه اورېدل شوې او یوشمېر نورو یې پېښې کړي، لکه محمد حسن هندي چې پرته له کوم لاسونده د خپل کتاب «مرأت الاشباه» په یوه ځای کې وايي: «احمد شاه خطه ملتان میں پیدا هوا...» یعنې (احمد شاه د ملتان په سیمه کې زېږدېدلی...).

فیض محمد هم د «تاریخ احمدي» له مخې همدا کیسه لیکي چې «د احمد شاه نیکونه د ملتان اوسېدونکي وو، دی هم هلته زېږېدلی او په ماشومتوب کې د ځینو پېښو له امله له خپل پلار (محمد زمان) سره کندهار او له هغه ځایه هرات ته ولاړ دی. موږ پوهېږو چې روایتونه بې-بنسټه دي او «تاریخ احمدي» د «مرأت الاشباه» په څېر یې د احمد شاه کورنۍ د ابدالیانو د پخواني مشر د حیات سلطان د زوی «عبدالله خان» له کورنۍ سره چې په ملتان کې کډوال و، ګډه کړې ده. حیات سلطان چې د کندهار د ابدالیانو د خانۍ تر ړنګېدو وروسته پر یوولسمه لمریزه پېړۍ ملتان ته لاړ، څه موده وروسته یې زوی عبدالله خان پر ۱۱۲۲هـ.ق کال کندهار ته راغی او یو ځل بیا د ابدالیانو د «خان» په توګه هرات ته لاړ

[1] - حافظ ګل محمد مرغزی، احمد شاهي شهنامه، پېژندنه او تعلیقات د علامه رشاد، کندهار: علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۸۷، ۲۲مخ.

او عبدالکریم د «تاریخ احمدي» لیکوال او نورو احمد شاه د نوموړي عبدالله خان لمسی ګڼلی او داسې پایله یې اخیستې چې احمد شاه په ملتان کې زېږدېدلی دی، خو داسې نه ده، دا دواړه یو تر بله جلا او سیالې کورنۍ دي. د احمد شاه کورنۍ له پخوا راهیسې د اوسني کندهار ختیځ خوا ته د صفاښار د ابدالیو په منځ کې اوسېده.

لکه مخکې چې وویل شول، یوازې د احمد شاه پلار (زمان خان) څو کاله په کرمان کې اوسېدلی، له دې نه ښکاري چې په ملتان کې د احمد شاه زوکړې سکالو چوره دروغ ده، په کلک اټکل سره احمد شاه په هرات کې پر ۱۱۳۵هـ.ق کال زېږېدلی دی.

بله خبره دا چې د احمد شاه پلار له ۱۱۲۳هـ.ق کال وروسته بیا تر مړینې (۱۱۳۵هـ.ق) پورې (۱۲کاله) په هرات کې وینو، له دې امله د احمد شاه زېږېدنه په ۱۱۳۵هـ.ق په هرات کې شوې ده.

له پورتنو څرګندونو دا پایله اخلو چې احمد شاه په ۱۱۳۵هـ.ق کال په هرات کې وزېږېد، چې ۱٦ کلن شو، په ۱۱۵۰هـ.ق کال یې په کندهار کې د خراساني نادر شاه له دربار سره اړیکې وموندلې، چې ۲۵ کلن شو، په ۱۱٦۰هـ.ق کال په همدغه ښار کې ټولواکۍ ته ورسېد، چې ۵۰ کلن شو، په ۱۱۸٦هـ.ق کال (۱۷۷۲م. د دسمبر په ۳۳مه) د کندهار په اړوند «توبه‌غر» کې یې له نړۍ سترګې پټې کړې.[1]

۱ - میر غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ۲۰-۱۸ مخونه.

## ج – ماشومتوب او ځواني

د احمد خان د زېږېدو او د پلار د مرگ کال يې يو دی او له هغه وخته چې د ده سترگې پر ژوند رنې شوې، نو د حوادثو او پېښو يو لوی بهير په غېږ کې واخيست. په ۱۱۳۵هـ.ق کال د احمد خان پلار (زمان خان) د عبدالله خان سدوزي د زوی الله يار خان د پلويانو په برید کې د هرات په بالاحصار کلا کې ووژل شو. د زمان خان تر وژلو وروسته د احمد خان مور (زرغونه) چې د الکوزو قبيلې ته منسوبه وه، د هرات حاکم حاجي اسمعيل عليزي ته چې د نورمحمد خان مير افغان پلار و، پناه ور وړه او خپله لور يې هغه ته ورکړه.

د حاجي اسمعيل عليزي په لارښوونه د احمد خان مور له خپل کوچني زوی سره فراه ته واستول شوه او د احمد خان مشر ورور ذوالفقار خان چې د سياسي فعاليتونو په لړ کې تر گواښ لاندې و، هم فراه ته ورسره تللی و.

ذوالفقار خان چې د خپلې قبيلې د واکمنو خانانو له خوا ځارل کېده، نو په دې وجه يې له خپل کوچني ورور سره يوځای په کندهار کې د هوتک شاه حسين دربار ته پناه يووړه. دغه مهال شاه حسين هوتک د نادر افشار فتوحاتو او په ايران کې د هوتکيانو پرله‌پسې ماتو په اندېښنه کې اچولی و او هم په دې لړ کې د ذوالفقار خان او احمد خان په باب تشويشونه ورته پيدا شول، هماغه و چې دوی دواړه ورونه يې تر نظارت لاندې ونيول.

هغه مهال چې نادر افشار د کندهار ښار فتح کړ، نو احمد خان او د ده ورور ذوالفقار خان يې د کندهار له نورو مشرانو سره يوځای د ايران

مازنداران ته وشړل چې ذوالفقار خان یې هلته مسموم کړ او ۲۰ کلن احمد خان یې په افغاني لښکر کې د افسرانو په ډله کې شامل او د افسر په توګه یې وټاکه.[۱]

ګندا سنګهـ لیکي چې دغه مهال احمد خان شپاړس کلن و چې نادر شاه په خپل خصوصي ګارد کې د یساول یعنې د ساتونکي یا د امر ضابط په توګه وګوماره. ورپسې د زیات استعداد په سبب د فارسي فاتح له خوا د هند، ترکیې او نورو جګړو په ترځ کې د خپلې قبیلې د یوې ډلې قوماندانۍ ته را اوچت کړل شو او په زیات شمېر دغو شخړو کې یې په قهرمانۍ سره ونډه واخیستله او په خپلو هڅو او خدمتونو سره یې ځان د بانک باشي یا خزانه‌دار درجې ته ورساوه.

نادرشاه ته دی دومره ګران شو چې کله – کله به یې په عام دربار کې د درباریانو او اشرافو په وړاندې د احمد خان ستاینه کوله او ویل به یې چې ده په ایران، توران او هندوستان کې د احمد خان ابدالي په څېر کوم سړی لیدلی نه دی چې دومره لوړ استعداد ولري. نادر شاه به تل د خپلې شاهي خیمې په دویمه دروازه کې درې یا څلور زره زړور او تجربه کار ابدالي سپاره د احمد خان تر قومندې لاندې ځان ته ساتل.[۲]

احمد خان د لومړي روایت په استناد، د درو کالو او د دویم روایت پر

---

۱ - د احمد شاه بابا دیوان غورچاڼ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، کابل، ۱۳۵۷، ۴-۳مخونه.

۲ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۲۵مخ.

اساس د څو میاشتو و چې پلار یې مړ شو او روزنه یې ننګیالۍ مور (زرغونې انا الکوزۍ) او مشر ورور (ذوالفقار خان) ته ورپاتې شوه.

له ذوالفقار خان څخه چې په ۱۱۴۴هـ.ق کال د قامي جرګې په فیصله د هرات پاچاهي واخیستل شوه، نو دی له خپلې کورنۍ سره کندهار ته ولاړ، خو هلته د اعلیحضرت شاه حسین هوتک (۱۱۳۵-۱۱۵۰هـ.ق) له خوا ذوالفقار خان او کشر ورور یې احمد خان په سیاسي نظربندۍ کې وساتل شول. د ۱۱۵۰هـ.ق کال د لوی اختر په میاشت کې چې نادر افشار (۱۱۴۸-۱۱٦۰هـ.ق) کندهار ونیو، د کندهار پښتون پاچا د شاه حسین هوتک کورنۍ او د احمد خان کورنۍ یې مازندران ته فراري کړې. ذوالفقار په مازندران کې ژر ومړ او د کورنۍ مشرتوب د احمد خان پر غاړه شو.

په ۱۱۵۴هـ.ق کال چې نادر افشار د هندوستان، سند، افغانستان، بخارا او خوارزم تر اېلولو وروسته پارس ته ستون شو، مازندران ته تبعید شوو پښتنو مشرانو او احمد خان ورسره ولیدل، دغه وخت احمد خان ۲۱ کلن یا ۱۹ کلن ځوان و. د نادر افشار په لښکر کې شپاړس زره پښتانه عسکر وو، چې د څوارلسو پښتنو جنرالانو له خوا اداره کېدل. نادر افشار د دغو پښتنو لښکرو پر یوه ډله باندې احمد خان د خانداني اصالت او اعتبار په لحاظ منصبدار مقرر کړ.

احمد خان د خپلې شپږ کلنې منصبدارۍ په زمانه کې ښې تورې وکړې او د مېړانې او توریالیتوب نوم یې ولاړ. د قفقاز په جګړه او نورو مبارزو کې یې دوست او دښمن توره او تدبیر ومنل. د تواریخ خورشید په ۱٦۸مخ کې

راغلي چې په داغستان کې احمد خان ابدالي ډېرې سختې جگړې وکړې او د سرخايي خان لکزي جنگيالي يې مغلوب کړل. تر دغه پرله‌پسې فتوحاتو او برياوو وروسته، نادر افشار احمد خان خپل د شاهي گارډ مشر قومندان (سريساول) مقرر کړ.

د ۱۱٦۰هـ.ق کال د ځلرمې خور په يوولسمه د يکشنبې په شپه (۱۷۴۷م. د جون د نهمې او لسمې ترمنځ شپه چې نادر افشار د خپلې ماينې په ټونگ، د ځينو قزلباشو افسرانو له خوا خبوشان ته نږدې په فتح آباد کې ووژل شو، احمد خان او نورو پښتنو افسرانو يې د بې کالخوايه کورنۍ سيله وکړه او د قزلباشو له لوټ او تالا څخه يې وژغورله. وروسته احمد خان له نورو پښتنو افسرانو سره د سلطان ميدان، ترشيز، تربت حيدري، تون او فراه له لارې مخ پر کندهار را روان شو او په کندهار کې يې د پښتنو په هغه ملي جرگه کې چې د پاچا د انتخاب لپاره نهه ورځې د کندهار په «شير سرخ» کې کېدله، گډون وکړ.[1]

۱ - عبدالشکور رشاد، د احمد شاهي عصر نوميالي، کندهار: علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۹۴، ٦-۷مخونه.

## دویم څپرکی

### په شېرسرخ لویه جرګه کې د پاچا په توګه د احمد خان ټاکنه

جرګه د افغانستان په تاریخ کې یوه لرغونې، تاریخي، سیاسي او ټولنیزه موسسه ده چې د سیمه‌ییزو، ملي او نړیوالو مسالو او ستونزو په حل کې د ولس اراده او پرېکړې انعکاسوي. په ویدي عصر کې د سبها او سمیتي جرګې د آریایانو لومړنۍ جرګې وې چې د کلو او هېواد په کچه د ملي، سیاسي او ټولنیزو مسالو د حل لپاره رابلل کېدې، لازمي مشورې او پریکړې یې کولې. د افغانستان لومړنی پادشاه یما (جمشېد) د جرګې له خوا انتخاب شوی دی، لکه چې د ریګویدا یوه فقره وایي: «ټولو خلکو ته په پاچاهۍ ټاکلی یې»[1]

دغه راز د افغانستان په معاصر تاریخ کې د کوکران او مانجه د ملي او تاریخي جرګو ملي پرېکړې د صفویانو د استعمار د پوپنا کولو لامل شوې، هوتکي قیام یې پیل، رهبري او بري ته یې ورساوه، خو په ایران او افغانستان کې د هوتکیانو د واکمنۍ له پرځېدو وروسته او د نادر افشار په واکمنېدو سره د افغانستان سیاسي واکمني او د ملي لویو جرګو لړۍ تر یوې لس کلنې مودې پورې وشلېده.

---

۱ - احمد علي کهزاد، د افغانستان پخوانی تاریخ، لومړی ټوک، کابل، ۱۳۳۴، ۱۵۲مخ.

د نادر افشار له خوا په ۱۷۲۹م.کال په اصفهان کې د شاه اشرف هوتک په مشرۍ د افغانانو حکومت، په ۱۷۳۱م. کال په هرات کې د ابداليانو حکومت، په ۱۷۳۷م.کال په کندهار کې د شاه حسين هوتکي حکومت په يو بل پسې راوپرځول شول، ټول تاريخي افغانستان د نادر افشار تر واک لاندې راغی.

نادر افشار چې په ايران او افغانستان کې د افغانانو جنګي وړتياوې پخپلو سترګو ليدلې وې او د دوی جنګي ځواک يې په ښه توګه درک کړی و. د افغانستان له نيولو وروسته يې له افغانانو سره د نرمښت او مصالحې لاره خپله کړه او د افغانانو داخلي خودمختارۍ ته يې تر ډېره بريده درنښت وکړ، د بېلګې په توګه عبدالغني خان الکوزی يې د هرات د مشر په توګه، حاجي اسماعيل الکوزی يې د شين ډنډ د مشر په توګه، نور محمد عليزی (مير افغان) د څلوېښت زرو افغان لښکرو د مشر په توګه وټاکل شو. که څه هم نادر افشار په ۱۷۳۸م. کې د احمد شاه ورور ذوالفقار خان ابدالي او شاه حسين هوتکي يې لومړی مازندران ته تبعيد کړل او بيا يې دغه دواړه سياسي مشران په زهرو ووژل، خو احمد خان ابدالي يې له مازندران څخه راوغوښت او د ابدالي لښکرو په مشرتوب يې وټاکه (۱۷۴۱م).[۱]

احمد خان ابدالي د نادر افشار په پوځي سوقياتو کې خپله وړتيا وښودله او تر دومره کچې د نادر افشار د باور وړ وګرځېد چې په عام دربار کې به يې

---

۱ - عبدالحی حبيبي، د افغانستان پېښليک، لومړی ټوک، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۳، ۱۵۱-۱۵۹مخونه.

د ده په اړه داسې ويل: «ما په ايران، توران او هندوستان کې د احمد خان ابدالي په څېر بل داسې سړی نه دی ليدلی چې دومره لوړ استعداد ولري. حتا هغه د خپلې شاهي خېمې په دويمه دروازه کې د احمد خان تر قومندې لاندې درې يا څلور زره زړور افغان جنگيالي سپاره ساتل.»[1]

په «تاريخ جهانگشای نادري» کې راغلي، کله چې سهار وختي د نادر افشار د وژلو خبر خپور شو او د هغه په اردو کې گډوډي راغله، افغانانو او اوزبکو د احمد خان ابدالي په مشرۍ د نادر افشار د ژغورلو په نيت جگړه پيل کړه، افشاريان او پوځ يې په شا وتمبول او د نادر افشار خيمې ته چې ورسېدل، د هغه مړی يې وموند، سملاسي پوه شول چې د دوی هڅې بې‌گټې دي او کومه پايله نه لري. له همدې امله کندهار ته وخوځېدل چې د خپل هېواد برخليک وټاکي.[2]

مينورسکي ورته نظر لري او ليکي چې د ۱۷۴۷م. کال د جون په مياشت کې د نادر افشار له وژلو وروسته ابدالي، اوزبک او افغان پوځونه د احمد خان ابدالي په مشرۍ د کندهار په لور روان شول او دليل دا و چې نور يې په ايران کې د خدمت کولو لپاره کوم جواز نه درلود، ځکه چې امپراتور يې ووژل شو.[3] بې له‌شکه د نادر افشار وژنه د دې لامل شوه چې

۱ - گندا سنگ، دراني احمد شاه، د نصرالله سوبمن ژباړه، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳٦٦، ۲۵مخ.

۲ - محمد مهدي استرآبادي، تاريخ جهانگشای نادري، تهران: دنيای کتاب، ۱۳۸۷، ۴٦۱-۴٦۲مخونه.

۳ - مينورسکي، ايرن در زمان نادر شاه، څلورم چاپ، ژباړن: رشيد ياسمي، تهران: دنيای کتاب، ۱۳۸۵، ۴۵، ۱۹۷مخونه.

د هغه په پوځ کې تنظیم شوي افغان جنګیالي د احمد خان ابدالي او د نور احمد خان علیزي په مشرۍ د مشهد له فتح آباد څخه بېرته هېواد ته راستانه شي او د افغانستان د خپلواکۍ د اعلان او د ملي مشر د انتخاب په اړه د پخوا په څېر لویې جرګې ته مراجعه وکړي.

## الف – د شېرسرخ لویه جرګه چېرې او کله جوړه شوه؟

په «مجمل التواریخ» کې چې د احمد شاه بابا له مړینې (۱۱۸٦هـ.ق) لس کاله وروسته د ۱۱۹۵-۱۱۹٦هـ.ق کلونو په موده کې لیکل شوی دی، راغلي دي چې د نادر له وژلو وروسته افغان او اوزبک لښکرې د کندهار په لور وخوځېدې او درې منزله وړاندې د تم کېدو پر مهال افغان مشرانو په خپلو کې مشوره وکړه چې په دغه اوږده لاره کې یو شخص باید د مشر په توګه وټاکو، څو کندهار ته د هغه تر لارښوونې لاندې خپل خلک له قزلباشو څخه په امن کې ورسوو. په نتیجه کې یوشمېر سردارانو او لښکریانو د احمد خان په مشرتوب موافقه وکړه او د هغه پر سر یې د تاج پر ځای د غنمو وږی وتومبه او کندهار ته روان شول.[1]

د احمد شاه بابا د دربار منشي او د «تاریخ احمد شاهي» لیکوال لیکي چې د نادر له وژلو وروسته ټولو سترو مشرانو، رئیسانو او د لوړ مقام لرونکو مشرانو له خاصو او عامو وګړو سره له مشورې وروسته په یوه اتفاق احمد خان د پادشاهۍ پر تخت وټاکه او د تاج پر ځای یې د ده په پګړۍ

۱ - ابوالحسن بن محمد امین ګلستانه، مجمل التواریخ، تهران: کتابخانه ابن سینا، ۱۳۴۴، ۵۹-٦۰مخونه.

کې د غنمو وړی وتومبه.[1] که څه هم د منشي محمود الحسیني له څرگندونو ښکاري چې افغان مشرانو او چارواکو د یوې لویې غونډې په ترڅ کې احمد خان ابدالي د پاچا په توگه ټاکلی دی، خو د دې غونډې ځای یې نه دی ښودلای.

په هر صورت د «مجمل التواریخ» څرگندونې چې گویا افغان مشرانو د لارې په اوږدو کې نهه ورځې غونډه جوړه کړه او احمد خان یې د پاچا په توگه انتخاب کړ، له واقعیت لرې ښکاري. لومړی په امنیتي لحاظ د یوې داسې غونډې جوړول ناممکن و، ځکه له مشهد نه تر افغانستان پورې ټول واک او سیمه د ایراني چارواکو په لاس کې وه او دویم د یوې داسې تاریخي او ملي غونډې لپاره د مساعد ځای پیدا کول هم یو ناشونی کار و.

دربېیم دا چې پرته له «مجمل التواریخ» نورې ټولې تاریخي منابع په یوه خوله لیکي چې دغه لویه جرگه د کندهار په شېرسرخ کې جوړه شوې ده. د بېلگې په توگه، سر پرسي سایکس د خپل اثر «تاریخ افغانستان» د لومړي ټوک په ۳۴۲مخ، فیریر د خپل اثر «د افغانانو تاریخ» په ٦٧مخ، الفنستن د خپل اثر «د کابل سلطنت بیان» د دویم ټوک په ۲۴۷مخ، گانکوفسکي د خپل اثر «د درانیانو امپراتوري» په ۲۷ مخ، سلطان محمد خان درانی د خپل اثر «تاریخ سلطاني» په ۱۲۲مخ، احمد شاه بابا درانی د خپل اثر «نامه احمد شاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثماني» په ۱۱-۱۲مخونو، میر غلام

۱ - محمود الحسین بن ابراهیم جامی، تاریخ احمد شاهي، تهران: عرفان، ۱۳۸٦، ۵۹-٦٠مخونه.

محمد غبار د خپل اثر «افغانستان در مسیر تاریخ» په ۳۵۴-۳۵۵مخونو، علي احمد جلالي د خپل اثر «مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکري» د دویم ټوک په ۲۴۹مخ، عبدالحی حبیبي د خپل اثر «د افغانستان پېښلیک» د لومړي ټوک په ۱۵۹مخ کې دا تاییدوي چې د نادر افشار له وژلو وروسته افغان مشرانو د کندهار په شېرسرخ کې لویه جرګه جوړه کړه.

په نتیجه کې ویلای شو چې افغان مشرانو او چارواکو د نادر افشار له وژلو وروسته خپله لویه جرګه په لاره کې نه، بلکې د کندهار په شېرسرخ زیارت کې جوړه کړه. دغه ودانۍ چې له پخو خښتو جوړه شوې ده، تر اوسه هم پر خپل ځای جوړه پاتې ده.

دغه راز د شېرسرخ لویې جرګې د جوړېدو د نېټې په باب هم اختلاف موجود دی، د بېلګې په توګه الفنستن لیکي چې دغه لویه جرګه د ۱۷۴۷م.کال د اکتوبر په میاشت کې جوړه شوه.[1] همدا رنګه علي احمد جلالي[2]، میر غلام محمد غبار[3] او قاضي عطاءالله خان او محمد حیات خان[4] په خپلو آثارو کې لیکي چې د شېرسرخ لویه جرګه د ۱۷۴۷م.کال

---

١ - مونټ سټوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بیان، دویم ټوک، ژباړن: محمد حسن کاکړ، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳٦۱، ۱۴۷مخ.

۲ - علي احمد جلالي، مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکري، جلد دوم، کابل: دفاع مطبعه، ۱۳۴۷.

۳ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، چاپ سوم، مرکز نشر باهمکاري جمهوري، ۱۳٦٦، ۲۵مخ.

٤ - قاضي عطاءالله خان، د پښتنو تاریخ، لومړی ټوک، کابل: دفاع مطبعه، ۱۳۵٦، ۱۱۵مخ؛ محمد حیات خان، حیات افغاني، دوهم چاپ، لومړی او دویم ټوک، ژباړن: فرهاد ظریفي او طالبي، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦، ۹۰ مخ.

د اکتوبر په میاشت کې جوړه شوې ده. په داسې حال کې چې دغه لویه جرگه د ۱۷۴۷م.کال د جولای په میاشت کې جوړه شوې وه.

د انندرام په تاریخ کې د احمد شاه له خوا یو مکتوب د محمد حسین اپریدي په نامه راغلی، په هغه کې دی د خپلې تاج پوشۍ نېټه د ۱۱٦۰هـ.کال د رجب د میاشتې اتلسمه د ۱۷۴۷م.کال د جولای پنځلسمه یادوي. معنا دا چې د شېرسرخ لویه جرگه د ۱۷۴۷م.کال په اکتوبر کې نه، بلکې په جولای کې جوړه شوې وه.[1]

## ب – د شېرسرخ لویې جرگې پرېکړې

قاضي عطاءالله خان لیکي چې دغه جرگه د دوو مسالو د حل لپاره راغوښتل شوې وه. لومړۍ د پاچا انتخاب، دویم د افغانستان د خپلواکۍ او استقلال اعلانول.[2]

د پاچا د انتخاب په اړه لویې جرگې نهه پرله‌پسې غونډې وکړې، خو په لومړنیو اتو غونډو کې یې پاچا انتخاب نه کړای شو. دلیل دا و چې نور محمد خان علیزی که څه هم د زیاتې تجربې او نفوذ خاوند و، خو د سخت مزاجۍ له امله انتخاب نه‌شو. دویم کاندید حاجي جمال خان بارکزی د زیات قومي ځواک او د قدرت د انحصارولو په وجه چې مشرانو اندېښنه او وېره ورڅخه لرله، هم د انتخاب وړ ونه‌گرځېد. په جرگه کې د سیاسي او

۱ - گندا سنگ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منگل، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۴۹، لمنلیک، ۴۲مخ.

۲ - قاضي عطاءالله خان، د پښتنو تاریخ، لومړی ټوک، کابل: دفاع مطبعه، ۱۳۵٦، ۱۱۴مخ.

قومي مشرانو غوښتنه دا وه چې يو داسې شخص انتخاب کړي چې په راتلونکي کې پرته له زور زياتي او استبداده پر دوی د جرګه‌ییزو اصولو او ولسواکۍ پر بنسټ حکومت وکړي او هم له ډېرې غښتلې قبيلې څخه نه وي. دا دواړه ځانګړتياوې د احمد خان ابدالي په وجود کې چې يو ۲۵ کلن ځوان و د جرګې د برخه‌والو له خوا تاييد شوې، ځکه هغه يو حليم، خليق، باتجربه او ازمويل شوی ځوان و او د سدوزيو قبيله د نورو قبيلو په پرتله د شمېر له مخې کمه او کمزورې وه.[1]

بالآخره د نهمې غونډې په ترڅ کې د جرګې د يوه برخه‌وال او روحاني شخصيت صابر شاه کابلي له خوا احمد خان ابدالي، چې ځان يې د نورو مشرانو په څېر سلطنت ته کانديد کړی نه و، د پاچاهۍ مقام ته پيشنهاد شو او د جرګې د غړو له خوا په اسانۍ سره ومنل شو او د هغه په دستار (پګړۍ) کې يې د غنمو وږی وټومبه. هغه څه چې د جرګې برخه‌وال يې موافقې ته اړ کړل، تر ټولو غوره د احمد خان ټولنيز او اخلاقي شخصيت، تجربه، پوهه، وطندوستي او د نادر افشار په اداره او پوځي سوقياتو کې برياليتوبونه وو. دغه راز د احمد خان په انتخاب کې د هغه د کورنۍ لوړ ملي او سياسي دريځ هم اغېزمن و، ځکه د هغه نيکه دولت خان ابدالي، کاکا يې رستم خان ابدالي، پلار يې زمان خان ابدالي او ورور يې ذوالفقار خان ابدالي د قوم او د هرات د ابدالي حکومت مشران تېر شوي وو[2] او د هېواد د دفاع او آزادۍ په لاره کې په شهادت رسېدلي وو.

---

۱ - عبدالحی حبيبي، تاريخ مختصر افغانستان، دويم ټوک، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۴۹، ۸٦مخ.

۲ - محمد حسن کاکړ، افغان و افغانستان، کابل پوهنتون، ۱۳۵۷، ۸۲-۸۳مخونه.

د حیات افغاني په قول، زمان خان ابدالي په ۱۷۲۲م. کې د عبدالله خان ابدالي زامنو (الله یار خان او سعدالله خان) له خوا ووژل شو او احمد خان دغه وخت کوچنی و، د دې لپاره چې احمد خان له دښمنانو بچ شي، د خپلې مور (زرغونه انا) په ذریعه د هرات حاکم حاجي اسمعیل خان علیزي ته وروړل شو او هم مېرمن زرغونې خپله لور اسمعیل خان ته ورکړه، څو دوی ته پناه ورکړي. اسمعیل خان علیزي پناه ومنله او د ښه خوندیتوب په خاطر یې فراه ته واستول او له دې نېټې وروسته یې پټ ژوند کول پیل کړل.[۱] دغه راز ګنډا سنګ هم دا خبره تاییدوي چې د احمد خان ابدالي پلار زمان خان د ۱۷۱۹-۱۷۲۲م. کلونو ترمنځ ملتان ته سفر نه دی کړی او نه داسې کوم سند شته چې ملتان ته د هغه د کورنۍ سفر په ډاګه کړي.[۲]

د احمد شاه بابا هممهالی شاعر حافظ مرغزي په ۱۷٦۲م. کې په پښتو ژبه «احمد شاهي شهنامه» وکښله او د علامه رشاد اکاډمۍ له خوا په وروستیو کې چاپ شوې ده. د احمد شاه بابا د زوکړې ځای یې خراسان یعنې هرات په ګوته کړی دی او په لاندې بیتونو کې داسې وایي:

دی سـکندر کشـور کشـای دی
و جـهـان تـه راهـنـمای دی

۱ - محمد حیات خان، حیات افغاني، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦، ۱۴۹مخ.
۲ - ګندا سنګ، درانی احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳٦٦، ۲۱مخ.

نبـــه مـولـد يـې خـراســـان
پــه مـزاج دی عــالي شــــان
د تخت ځــــای يې کندهـــار شه
تمام ملک پرې لا له زار شــــه[1]

په نتيجه کې د حيات افغاني، درانی احمد شاه او د احمد شاهي شهنامې د آثارو د څرګندونو پر بنسټ ويلای شو چې احمد خان ابدالي په ملتان کې نه، بلکې په هرات کې زيږيدلی دی او زه له نن څخه وروسته له ليکوالو او څېړونکو هيله کوم چې په خپلو ليکنو او څېړنو کې پورتنۍ سمونه او واقعيت په پام کې ونيسي.

دويمه مساله چې شېرسرخ لويې جرګې په يوه اتفاق پرېکړه ورباندې وکړه، هغه له پارس سره د اړيکو بشپړ شلول او د افغانستان د خپلواکۍ اعلانول و.[2]

## ج – د شېرسرخ لويې جرګې اهميت

الف – په ملي لحاظ: د جرګې ملي اهميت په دې کې و چې په جرګه کې د بېلابېلو قومونو مشرانو او استازو فعاله برخه واخيسته او د ملت اراده او يووالی يې انعکاس کړ. داسې ملي پرېکړې يې وکړې چې په نتيجه کې

١ -حافظ ګل محمد مرغزی، احمد شاهي شهنامه، کندهار: علامه رشاد اکاډمي، ١٣٨٧، ٢٢مخ.
٢ - ګنداسنګ، درانی احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه، ١٣٦٦، ٣٩مخ.

د افغانانو ملي يووالی، ملي حاکميت او خپلواکي تامين شول. دغو ملي ارزښتونو په مجموع کې زموږ د ملي هويت بنسټ کېښود.

سره له دې چې اوس مهال د ګوتو په شمېر نوي ليکوالان پيدا شوي دي چې د شېرسرخ لويه جرګه يوه قومي جرګه ګڼي او د هغې ملي اهميت تر پوښتنې لاندې راولي. د دې لپاره چې د دوی سر مو خلاص کړی وي، تاريخي منابعو ته مراجعه کوو.

د احمد شاه بابا د دربار منشي او د «تاريخ احمد شاهي» کتاب ليکوال د دې جرګې د ملي ترکيب په اړه داسې ليکي: «ټولو سترو خوانينو، رئيسانو او د لوړو مقامونو چارواکو په يوه شاهانه غونډه کې له خاصو او عامو وګړو سره له مصلت او مشورې وروسته په يوه اتفاق احمد خان پر پادشاهۍ وټاکه... کابليانو او قزلباشو مشرانو چې د احمد شاهي سلطنت په ټينګتيا کې برخه درلوده، پر زياتو انعامونو باندې وویاړل شول.[1] دغه لومړی لاس اثر د پښتنو تر څنګ د کابليانو (تاجکو) او قزلباشو ګډون تاييدوي.

په «مجمل التواريخ» کې راغلي چې د نادر افشار له وژلو وروسته افغان او اوزبک لښکر د کندهار په لور وخوځېدل او کندهار ته په رسېدو سره د محمد تقي خان شېرازي په مشرۍ هغه خزانه چې له هند څخه يې نادر افشار ته وروړله، ونيوله او محمد تقي خان يې په مهربانۍ سره له ځان سره

---

۱ - محمود الحسين بن ابراهيم جامي، تاريخ احمد شاهي، تهران: عرفان، ۱۳۸٦، ۵۹-٦۱مخونه.

وساته او د نادر افشار د وژلو خبر یې ورکړ. محمد تقي خان د دغه خبر له اورېدو وروسته له یوې ډلې قزلباشو سره د احمد خان خدمت قبول کړ او په کندهار کې پاتې شو.[1] دغه راز مینورسکي لیکي چې د نادر افشار له وژلو وروسته د احمد خان ابدالي په مشرۍ د افغان ابدالیانو او اوزبکو لښکر بېرته کندهار ته ستون شو، څو د خپل هېواد برخلیک وټاکي.[2]

سربېره پر دې میر غلام محمد غبار، مونټ سټوارټ الفنستن، قاضي عطاءالله خان، محمد حیات خان، سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل، عبدالحمید مبارز، سلطان محمد خان درانی په خپلو آثارو کې لیکي چې د شېرسرخ په لویه جرگه کې پښتنو، تاجکو، هزاره‌گانو، قزلباشو، بلوڅو او اوزبکو گډون درلود. همدارنگه په تاریخ کې ځینې داسې جرگې هم جوړې شوي دي چې د جوړښت او ترکیب په لحاظ ملي وې، خو د هغوی پرېکړې ملي نه وې یا دا چې جرگې وړې وې، خو پرېکړې یې ملي وې، نو ځکه د ملي اهمیت وړ بلل کېدای شي.

ب – په سیاسي لحاظ: د شېرسرخ لویې جرگې اهمیت دا و چې د افغانستان لپاره یې د جرگه‌ییزو او دموکراتیکو اصولو بر بنسټ سیاسي دولتي مشر وټاکه. د خپلواکۍ او د یوه خپلواک دولت د جوړولو اعلان یې وکړ. د هېواد سیاسي حاکمیت او د هغه د پلي کولو لپاره یې ضروري او

---

۱ - ابوالحسن بن محمد امین گلستانه، مجمل التواریخ، تهران: کتابخانه ابن سینا، ۱۳۴۴، ۶۰-۶۱ مخونه.

۲ - مینورسکي، ایران در زمان نادر شاه، تهران: دنیای کتاب، ۱۳۸۵،۱۹۷مخ.

تاريخي عناصر برابر کړل. احمد شاهي دولت د جرگې او مشورې پر بنسټ جوړ او لااقل د خپل سلطنت په دور کې يې د جرگې پر بنسټ دوام وکړ.[1]

ج – په تاريخي لحاظ: د جرگې تاريخي اهميت په دې کې و چې په حساسو او تاريخي شېبو کې يې تاريخي پرېکړې وکړې. د هېواد د خپلواکۍ اعلانول او د پاچا انتخابول، هغه ستر تاريخي کار و چې د هغوی په نتيجه کې افغانستان يو ځل بيا د خپل ملي، تاريخي، جغرافيايي خپلواک هويت څښتن شو او بېله شکه دغه لويه جرگه د افغانستان د معاصر تاريخ موسسه گڼلای شو. د شېرسرخ لويه جرگه د افغانستان د لرغونو او معاصرو تاريخي جرگو يوه قانونمنده سلسله بللای شو. همدا دليل دی چې لوی اديب او مؤرخ پوهاند حبيبي د شېرسرخ جرگې ته يوه لويه تاريخي جرگه وايي[2] او تاريخپوه غبار ليکي چې دې ملي جرگې د ارزښت وړ تاريخي کار بشپړ کړ[3] او گندا سنگ د شېرسرخ لويې جرگې ته د تاريخي غونډې خطاب کوي.[4]

**نتيجه**

د پورتنۍ څېړنې په نتيجه کې ويلای شو چې د شېرسرخ لويه جرگه د ۱۷۴۷م. کال په جولای کې د افغانستان د خپلواکۍ د اعلانولو او د پاچا

---

۱ - محمد حسن کاکړ، افغان و افغانستان، کابل پوهنتون، ۱۳۵۷، ۸۲-۸۳مخونه.

۲ - عبدالحی حبيبي، تاريخ مختصر افغانستان، دويم ټوک، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۴۹، ۸٦مخ.

۳ - مير غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امين الله دريځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ۴۷ مخونه.

٤ - گندا سنگهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منگل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۳۴ مخونه.

د انتخاب په خاطر د کندهار په شېرسرخ زيارت کې جوړه شوه. د هېواد خپلواکي يې اعلان کړه او احمد خان ابدالي يې د افغانستان د پاچا په توګه وټاکه. دغه لويه جرګه د ترکيب او پرېکړو په لحاظ د ملي، سياسي او تاريخي اهميت لرونکې وه. د دې لويې جرګې له خوا انتخاب شوی پاچا احمد خان ابدالي د شېرشرخ لويې جرګې ملي او تاريخي پرېکړې په بشپړه توګه پلي کړې، د بېلګې په توګه، د افغانستان خپلواکي، د خاورې تماميت، سياسي حاکميت او ملي يووالی يې تامين او لرغونې او تاريخي افغانستان ته يې په سيمه او نړۍ کې سياسي او ملي هويت وګاټه. دغه نوميالی او ملي مشر چې په ۱۷۲۲م. کال د هرات په لرغوني او تاريخي ښار کې زېږېدلی و، له ۲۵ کاله سلطنت وروسته د ۱۷۷۲م.کال د دسمبر په ۲۳ نېټه په کندهار کې وفات شو.

## درېيم څپرکی

## د افغانستان د حکومت او جغرافیایي حدودو بیاجوړونه

### الف – حکومت جوړونه

لوی احمد شاه بابا د شېرسرخ په لويه جرگه (۱۷۴۷م. جولای) کې تر ټاکلو وروسته سملاسي د حکومت کابینه جوړه کړه چې په هغه کې شاه ولي خان بامېزی د صدراعظم په حیث کار کاوه او د اشرف الوزراء لقب يې درلود. سردار جان خان پوپلزی سپه سالار و او شاه پسند خان ساگزی (ساکزی) د امیر لشکر خطاب درلود، چې غبار يې د مرکزي قواوو قومندان گڼي. سربېره پر دوی عبدالله خان پوپلزي ته د مالیې چارې ور وسپارل شوې. برخوردار خان اڅکزی او نورالدین خان بامېزي ته هم لويې دندې ورکړل شوې او قاضي ادریس ته د عدلیې چارې وسپارل شوې.[1]

گندا سنگ لیکي چې احمد شاه د حکومت جوړولو په موخه غوره ټاکنې وکړې او هغه دا چې بامېزي شاه ولي خان ته د اشرف الوزراء لقب ورکړ او د صدراعظم په توگه يې وگوماره. سردار جان خان چې په جهان خان يې شهرت درلود، د جنگ وزیر او سپه سالار په توگه او شاه بسند خان يې د لښکر د قومندان يا د لښکر د امیر په توگه مقرر کړل. په همدې

۱ - عبدالشکور رشاد، د احمد شاهي عصر نومیالي، کندهار: علامه رشاد اکاډیمي، ۱۳۹۴، ۱۲ مخونه.

ډول نور زيات شمېر سرداران، لکه برخوردار خان، عبدالله خان او نورالدين يې د نوي جوړ شوي دولت لوړو مقامونو ته په اوچتولو سره سرلوړي وګرځول.[1]

ګانکوفسکي ليکي چې په احمد شاهي حکومت کې لوړه څوکۍ د وزارت وه، وزير د پاچا نږدې مرستيال ګڼل کېده او د وزير د وظيفې او صلاحيت په چوکاټ کې دغه شيان راتلل:

د پاچا په مشوره د بهرني سياست رهبري، د پاچا له طرفه سياسي مکاتبه، په داخل کې د نظم او امنيت ساتنه او څارنه، د لارو او غريزو درو ساتنه، په ټولو مرکزي دفترونو، ولايتونو او سيمو کې د حاکمانو او عالي رتبه مامورينو کنټرول، د لوړو څوکيو لپاره د کانديدانو انتخاب او هغه د پاچا په امضاء رسول. د احمد شاه بابا لومړی سردار بيګي خان بامېزی و، چې وروسته د شاه ولي خان او اشرف الوزراء لقب ورکړل شو.

په احمد شاهي دولت کې دويمه اداره د «ديوان اعلی» په نامه جوړه شوه، چې مشري يې «ديوان بيګي» کوله او د نوموړي دفتر رئيس ته د احمد شاه د ځايناستو پر مهال «مستوفي» ويل کېده. «ديوان اعلی» د حکومت د ماليې اداره وه او لاندې دندې يې سرته رسولې:

د مستقيمو او غيرمستقيمو ماليو ټولول، پر ټولو دولتي عايداتو او منابعو کنټرول، د دولتي ځمکو «خليصو» اداره، د ټولو لګښتونو حواله، ضرب

---

۱ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۱۹-۱۴مخونه.

خانې، د غذایي موادو، جنسي ذخیرو څارنه او ساتنه او خلکو ته د نغدو روپو پوروته، د دولتي دفترونو ترمیم او جوړونه، د پوځي استحکاماتو ابادي او داسې نور کارونه «دیوان اعلی» ته حواله کېدل. د «دیوان اعلی» څوکۍ د احمد شاه د سلطنت په دوره کې عبدلله بامېزي اداره کوله.

درېیمه مهمه دولتي اداره د «دیوان انشأ» په نامه جوړه شوه. دغه دفتر، شاهي فرمانونه او مکتوبونه صادرول. د دې دفتر په سر کې د پاچا ځانګړي سکرتران «منشي باشیان» یا «شاهي منشیان» ولاړ وو چې معمولاً د دغو منشیانو شمېر دوو کسو ته رسېده. د احمد شاه په وخت کې سعادت خان سدوزی او میرزا شادي خان د شاهي منشیانو وظیفه اجرا کوله.

په دولت کې بل مهم دفتر د «اطلاعاتو اداره» وه چې د دې ادارې آمر ته «خرکار باشي» ویل کېده. نوموړی خرکار باشي نه یوازې د اطلاعاتو د ادارې کارونه کول، بلکې د پستې کار هم د ده په لاس کې و. هغه شاهي فرمانونه او مکتوبونه چې د خرکار باشي ادارې له خوا استول کېدل، د هغوی د لېږدولو لپاره ځانګړي چټک لار وهونکي کسان چې هغوی ته چپاري ویل کېدل، موجود وو. څنګه چې دغه دفتر خاص اهمیت درلود، نو له همدې امله پاچا پخپله د «اطلاعاتو ادارې» مراقبت او څارنه کوله. تاریخي اسناد دا هم وایي چې د دولت په ټولو برخو او په ځانګړې توګه مفتوحه ولایتونو کې خلک د جاسوسانو په وسیله په ترس او ویره کې ساتل کېدل.

قضأ یوه بله مهمه اداره وه چې په مرکز او ولایتونو کې یې مستقل کار کاوه او قاضیان یې د پاچا له خوا ټاکل کېدل. قاضیانو په محکمو کې د

شریعت په اډانه کې پربکړې کولې او شرعي احکام یوازې پر مسلمانانو باندې د عملي کېدو وړ وو، د هندوانو جزایي کارونه، د هندوانو قاضیانو له خوا فیصله کېدل. د پلازمېنې قاضي ته قاضي القضات ویل کېده او اته مرستیالان او کاتبان یې لرل.[1]

غبار هم په تفصیل سره د احمد شاهي حکومت اداري راپېژني، خو موږ یې د نه تکرار په خاطر په لنډو درپېژنو:

## وزارت

د احمد شاه پر مهال د کورنیو چارو وزارت او عظیمي صدارت یوه سړي ته چې «وزیر» نومېده سپارل شوي وو، دا سړی تر پاچا وروسته د هېواد لومړنی څېره وه چې کله – کله به یې د «وکالت» په نامه د نایب السلطنه چارې هم سمبالولې. د دغه وزارت په سر کې وزیر «بگي خان بامېزی» و چې د «اشرف الوزرأ» په رسمي نامه یادېده او په لیکنو کې «وزیر اعظم» ورته ویل کېده.

## اعلی دیوان

یا د مالیې وزارت چې د هېواد مالي چارې یې سمبالولې او د دغه وزارت وزیر ته یې «دیوان بیگي» ویل او تر احمد شاه وروسته پر «مستوفي» واوښت. د احمد شاه دیوان بیگي یا د مالیې وزیر «عبدالله خان بامېزی» نومېده چې تیمور هغه وواژه.

---

۱ - گانکوفسکي یو. و، د درانیانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور گل محمد نورزی، دعلومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۳۶-۴۲مخونه.

## شرعیه محکمه

د احمد شاه پر مهال عدلي شرعي محکمو په شرعي قاضیانو پورې اړه لرله او ملکي چارواکي، لکه پولیس یې پلي کوونکی ځواک بلل کېده. قضایي محکمې هغه وخت خپلواکې وې. د احمد شاه د مهال قاضي «ملا فیض الله خان» و.

## شاهي دارالتحریر یا د انشأ دیوان

نوموړې اداري فرمانونه او مکتوبونه کښل، منشیان او سرلیکونکي یې سعادت سدوزي او میرزا هادي خان وو.

## درباري اداره

د دې اداري په سر کې «ایشک آقاسي» یا د نن ورځې په حساب د دربار وزیر و چې عبدالله خان نومېده.

## عرض بیګي

دې دفتر د خلکو عریضې او غوښتنپاڼې پاچا ته وړاندې کولې او بېرته یې ځواب راوړ. د احمد شاه عرض بیګي «حاجي کریمداد خان» و.

## د اروغه بیګي، اخبار ځانګه او هرکاره باشي

دا د استخباراتو اداره وه چې سیده د پاچا تر څارنې لاندې یې کار کاوه او د خورا پاملرنې وړ وه. په دې څانګه کې پاک‌زړي نرینه او ښځو غړیتوب درلود. د دې اداري له لارې پاچا ته د کارکوونکو د چارو په اړه خبر رسېده.

دغه راز احمد شاهي حکومت نورې اداري څانګې هم درلودې.

## سلاکاره غونډه

احمد شاه بابا پاچاهۍ ته له رسېدو وروسته یوه نهه کسیزه جرګه جوړه کړه چې د احمد شاهي دولت یو مهم رکن ګڼل کېدای شي. غبار دغه د سلاکارې غونډې په نامه یادوي او لیکي چې د احمد شاه پر مهال سلاکاره غونډه په پلازمېنه (کندهار) کې یوه تلپاتې جرګه وه چې د افغاني ټبرونو لوی خانان، سرداران او د سترو ټبرونو اړوند ځینې لوی کار کوونکي او چارواکي یې غړي وو. د غونډې غړي د ژوندانه تر پایه په خپله پاچا ټاکل او ګوښه کول یې هم د ده په خوښه وو.

د غونډې غړو د پاچا او دولت د پلاوي پر وړاندیزونو غور کاوه او د خپلو غوښتنو پایله یې احمد شاه ته وړاندې کوله. سره له دې چې احمد شاه د پاچا په توګه د بشپړ واک خاوند و، د وسله‌وال پوځ لوی قومندان، د ملي شورا د غونډې پر ځای د هېواد ځانګړي مقنن، د قضایي محکمو په سر کې د جزا لوی قاضي او همدا راز د اولي الامر په نامه د ټولو تر لاس لاندې هېوادونو مذهبي لارښود ګڼل کېده، خو سره له دې هم داسې لېږ پېښېده چې د دې غونډې د وړاندیزونو او پرېکړو خنډ شي، همدا لامل و چې ټول افغاني مشران او ټبرونه د احمد شاه د ژوندانه تر پایه د احمد شاهي حکومت په ټولو کورنیو او بهرنیو چارو کې د زړه له کومې ورسره ملګري او چمتو وو.[1]

---

۱ - میر غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ۶۹مخ.

علامه رشاد دغه غونډه د مشاورتي جرګې په نامه نومولې او زیاتوي چې لوی احمد شاه بابا (رح) چې څرنګه په پاچاهۍ وټاکل شو، سمدستي یې د پښتني قبیلو له هغو څوارلسو تنو سردارانو څخه چې د نادر افشار (۱۱۴۸-۱۱۶۰هـ.ق) په وختو کې د اداري او سیاست سره اشنا شوي وو او د ژوند سړې او تودې یې لیدلې وې، یوه مشاورتي جرګه جوړه کړه. په هر مهم اقدام او درنه معامله کې به یې د هغو سلا اخیستله، د هغو بې سلا او مشورې یې هېڅ مهم کار ته اقدام نه کاوه او د هغو فیصله یې هېڅکله نه ماتوله.[1]

ګندا سنګ په خپل اثر «درانی احمد شاه» کې لیکي چې د مشرانو یوه نهه کسیزه شورا چې د ملکي اداري او نظامي عملیاتو د عمومي سیاست په ټولو چارو کې مشوره ورکوله، د پاچا مرستندوی وه. د شورا غړي د افغاني مشرو قبیلو د مشرانو له منځه ټاکل کېدل. د دوی د ټاکنې واک له پاچا سره و. دغو غړو د ټول عمر لپاره د شورا څوکۍ نیوله او یوازې د اعلیحضرت د ډېر خپګان په صورت کې یې له لاسه ورکوله. دوی د هغو مسالو په باب غور او څېړنه کوله چې د پاچا له خوا به ورته وړاندې شوي وې او خپلې فیصلې به یې پاچا ته وړاندې کولې. سره له دې چې پاچا د دولت مطلق رئیس و، په ټولو چارو کې د ټول واک څښتن و، د ملکي اداري رئیس د پوځ اعلی قومندان و، په ټولو چارو کې د ټول واک څښتن و، د ملکي اداري رئیس د پوځ اعلی قومندان او د عقیدې ساتونکی و، تل یې

---

۱ - عبدالشکور رشاد، د احمد شاهي عصر نومیالي، کندهار: علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۹۴، ۱۱مخ.

مجلس له ځان سره لاره او ډېر لږ داسې پېښېدل چې د مجلس سره مخالف واقع شي. د جرگې غړو د ده د ژوند تر وروستۍ سلگۍ پورې له ده څخه د کورني او بهرني سیاست په ټولو مسالو کې ملاتړ کاوه.[1]

احمد شاه د قدرت اصلي منابع او اتوریته له ځان سره ساتل او د قبایلو کورنۍ چارې یې د هغوی مشرانو ته وسپارلې یا په بل عبارت خلک یې د هغوی د قومي مشرانو په وسیله تر اداري لاندې راوستل. د دې لپاره چې پرېکړې یې په ښه ډول د ملت له خوا اعملي شي، یوه نهه کسیزه شورا (جرگه) یې جوړه کړه او د هغوی په مشوره یې د هېواد چارې مخکې وړلې. د احمد شاه دغه لومړنی اقدام د هغه د واکمنۍ په لومړي پړاو کې د خلکو د ملاتړ د جلبولو سبب وگرځېد او هغه په دې ډول وکولای شول چې افغانان په یوه واحد ملت کې راغونډ کړي.[2]

احمد شاه په ۱۷۴۷م. کې ډگر ته راووت او د افغانستان د تاریخ ټول مسیر او تگلاره یې واړوله. دی چې د افغانانو په منځ کې پیدا او رالوی شوی و او افغاني وینه یې په رگو کې چلېدله، ویې کولی شول چې د خپلو خلکو په نبض پوه شي او د دوی په ارواحو او احساساتو کې ورننوځي. له دې امله هغه د خپلو خلکو او رعایاوو په خوی او تعصباتو برابر خپل حکومت جوړ کړ. په داسې حال کې چې د قدرت اصلي مزي یې په خپل

---

۱ - گندا سنگهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منگل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ٤٦٦مخونه.

۲ - علي احمد جلالي، مطالعه تاريخ افغانستان از نگاه عسکري، جلد دوم، کابل: ملی دفاع مطبعه، ۱۳۴۷، ۲۵۲-۲۵۲ مخونه.

ځان کې متمرکز کړل، د قبیلو اداره یې خپلو مشرانو ته پرېښودله او په مقابل کې هغوی صرف دا ژمنه وکړه چې د خپل قوت په اندازه د سپرو یو – یو کنډک له ده سره په پوځي عملیاتو کې مرسته وکړي.

د قیریر په قول، «د ده حکومت یو فدرالي جمهوریت ته ورته و او ده د دې په ځای چې مطلقه پاچاهي وکړي د دغه جمهوریت مشر و.» د هېواد په عمومي اداره کې له ده سره د لویانو او مشرانو یوې نهه کسیزې شورا مرسته کوله او هېڅ یو غوره اقدام د دوی له خوښې پرته کېدلی نه‌شو. ده هېڅ وخت پر قبایلي مشرانو باندې د خپل ستروالي او لوړتیا غوښتنه نه کوله، ځکه یو وخت دی له هغوی سره یو برابر و او دوی د پاچاهۍ قدرت ته راپورته کړ.[1]

احمد شاه بابا د نوي افغاني حکومت په اډانه کې د اردو جوړولو ته هم پاملرنه وکړه. هغه په لومړي سر کې هغه شپاړس زره عسکر چې د نادر افشار له وژلو وروسته کندهار ته ورسره راغلل، په خپله قومنده کې واخیستل او تنظیم یې کړل، خو د زیاتو عسکرو د تنظیم او ساتلو لپاره یې پیسې نه درلودې، له همدې امله یې قومي مشران د قومونو او قبایلو د ادارې مسؤل وګرځول او له هغوی یې وغوښتل چې د پوځي سفرونو لپاره قومي لښکرې برابرې او تیارې کړي. په دې ډول یې د عسکرو او جنګیالو ستونزه تر یوې اندازې حل کړه. له بلې خوا تقي خان اخته بیګي شېرازي

---

۱ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۴۵۴ مخونه.

چې د نادر افشار په حکم د پېښور او کابل مالیه راغونډه کړې وه، دغه مهال کندهار ته راورسېد او احمد شاه دغه مالیه ترې راوګرځوله او خپلې مالي ستونزې یې ورباندې لرې کړې. له دې وروسته احمد شاه د افغانستان د خاورې د تمامیت د تامینولو او د یوه مقتدر او ځواکمن مرکزي نظام د جوړولو لپاره پوځي هڅې پیل کړې.

## ب – د افغانستان د تاریخي او جغرافیه یي حدودو بیاجوړونه

احمد شاه د یوه امیر او افغان امپراتور په توګه د لسو ستراتیژیکو او پوځي سفرونو په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه د پخوانۍ آریانا له ځمکو او قلمرو سره برابر پراخ کړل، د افغانستان نوم یې یو ځل بیا د آسیا په زړه کې ژوندی کړ او د پخوانۍ آریانا د وخت له لاسه تللې ځمکې یې ببرته په لاس راوړې. د افغانستان د بریو او سوبو بیرغ یې د مرکزي او جنوبي آسیا په ټولو مهمو ښارونو کې ورپاوه او په دې ډول یې د افغانستان سیاسي سرحدونه د پخوانۍ آریانا له سرحدونو سره برابر کړل یا په بل عبارت د پخوانۍ آریانا سرحدونه یې بیا له سره احیا کړل چې د افغانستان په تاریخ کې لوړ او ارزښتمن مقام لري. د احمد شاه بابا پوځي سفرونه په لاندې ډول دي:

لومړی سفر: احمد شاه بابا پر ۱۷۴۷م. کال وکولای شول له غزني، کابل، جلال آباد او پېښور څخه په تېرېدو د سند (اټک) سیند تر غاړې ځان ورسوي او په سند او د سند په ښۍ غاړه کې ټولو مېشتو قبایلو چې ژوند کاوه، له احمد شاه بابا سره یې بیعت وکړ او خپل تابعیت یې له وینو

تویولو پرته اعلان کړ. ورپسې د سند سیند له لودیانې سیمې څخه تېر شو او د سیمه‌ییزو دسیسو او توطیو او د دې سیمې له نیولو وروسته د ۱۷۴۸م.کال په پای کې بېرته کندهار ته راستون شو.

دویم سفر: احمد شاه بابا پر ۱۷۴۹م.کال د خپلو سوبو او فتوحاتو لمن د لوېدیځ په لور خوره کړه، د هرات ښار یې ونیو او له مروې تر بلخ، بدخشان، تخارستان او بامیان یې په خپل اختیار کې راوستل. وروسته یې د مشهد په لوري خپلو پوځي سوقیاتو ته دوام ورکړ. د جام، باخزر، خاف، تربت او ترشیز سیمې یې د خراسان له ولایت څخه راجلا او د هرات په ولایت پورې یې وصل کړې او له مشهده نېشاپور ته وخوځېد او له نېشاپوره کندهار ته او له کندهاره یې د پنجاب په لور سفر پیل کړ. له سیالکوټ، اورنګ آباد، ګجرات او سپرسرور څخه یې مالیات راغونډ او په مرکزي حکومت پورې یې وتړل.

درېیم سفر: احمد شاه بابا پر ۱۷۵۰م.کال د نېشاپور د بشپړ نیولو لپاره دوباره هماغلته ولاړ او نېشاپور یې د دسیسو له شنډولو او حل وروسته دوباره د کندهار مرکزي حکومت تر بېرغ لاندې اطاعت ته اړ کړ.

څلورم سفر: پر ۱۷۵۱م.کال د پنجاب والي د مالیاتو له ورکړې سرغړونه وکړه، له همدې امله احمد شاه بابا د پنجاب په لوري خپلو عسکري سوقیاتو ته ادامه ورکړه او د کشمیر نیولو ته یې هم اقدام وکړ او هغه یې وینو. له هغه وروسته د پنجاب په لوري وخوځېد، پنجاب او ملتان د احمد

شاه بابا د قلمرو برخه وګرځېدل. په همدې ډول کشمیر، پنجاب، ملتان او سند ټول د افغانستان د خاورې جز وګرځېدل او د دغو سیمو مالیه د افغانستان په مرکزي دولت پورې اړونده شوه.

پنځم سفر: احمد شاه بابا په ۱۷۵٦م.کال په بنجاب کې د سیمه‌ییزو نارامیو او ناقراریو له امله کندهاره بلوچستان، سند او وروسته پنجاب ته روان شو، لاهور ته راغی، تر ستلج سیند ورتېر شو، ډهلي په لور وخوځېد او په لاهور کې یې د سیمه‌ییزو مشرانو له خوا هرکلی وشو. څنګه چې د ۱۷۵۷م. کال په جنورۍ کې ډهلي ته ننوت، تر اګرې مخکې ولاړ، د ورهیله او اودې سیمې یې متابعت ته مجبورې کړې او مغولي پاچا عالمګیر ثاني په دغه مرحله کې خپله لور شهزاده تیمور ته ورکړه.

شپږم سفر: د ډهلي او د هغه د شاوخوا سیمو له نیولو وروسته کله چې احمد شاه بېرته کندهار ته راستون شو، د ډهلي شاوخوا سیمو په اغتشاش لاس پورې کړ او د مراټه سیمې هم دغه قیام ته د احمد شاه د حکومت پرضد چټکتیا ورکړه، تر څو چې مراټې قواوو د ډهلي له قواوو واک واخیست.

اووم سفر: احمد شاه په ۱۷٦۰م. کال د مراټیانو پر لور وخوځېد، ځکه د احمد شاه بابا حکومت په ډهلي او مراټه کې راپرځېدلی و او د اورنګزېب لمسي قدرت په لاس کې اخیستی و، خو د احمد شاه بابا پر وړاندې ډهلي ژر مات شو او یو ځل بیا احمد شاه بابا ډهلي ته ننوت. مراټې قواوې په تګاپوی کې د عسکرو په راغونډولو بوختې شوې، افغاني عسکر ډېر زیات

تلف شول او احمد شاه بابا مجبور شو چې تر جمنا ورتېر شي، د تلفاتو په منلو سره له جمنا ورتېر شو. د مراټيانو اردو د پاني پت په ډگر کې د جگړې انتظار کاوه، احمد شاه پاني پت ته ورسېد، پوره درې مياشتې مانوريزې جگړې وشوې او د مراټيانو لښکر تيت او پرک شو، ۲۲ زره اسير شول، پنځه سوه فيلان، څو زره اوښان، پنځوس زره اسونه او دوه زره حيوانات يې د جگړې په ډگر کې له لاسه ورکړل. د افغانانو تلفات هم له لسو څخه تر پنځلسو زرو کسانو پورې وو، خو په دغه تاريخي جگړه کې د مراټيانو د قواوو غوڅې ماتې يو ځل بيا د افغانانو د ځواکونو لوړتيا او برتري له هېواده لرې په ډهلي کې په اثبات ورسوله.

هغوی چې د احمد شاه بابا روش د مراټيانو په مقابله او ځپلو کې نقدوي او وايي چې هغه د مراټيانو په کمزوري کولو سره د شرق الهند کمپنۍ د نفوذ او پراختيا او بالوسيله د انگرېزانو د حاکميت لپاره په هند کې زمينه برابره کړه، بايد په پام کې ولري چې هغه په دې برخه کې يوازې دومره غوښتل چې د خپلو سرحدونو امنيت تامين کړي او په داسې شرايطو کې چې مراټيان تر اټک پورې رارسېدلي وو او ورځ په ورځ د هغوی د قدرت لوړتيا او پياوړتيا د دراني امپراتورۍ لپاره د يوه لوی خطر لامل گڼل کېده، نو ځکه يې د هغوی مقابلې ته ور ودانگل او له بلې خوا احمد شاه د يوه لوی مسلمان واکمن په توگه د خپلې امپراتورۍ د امنيت او پرستيژ ساتلو او د هند پر مسلمانانو باندې د مراټيانو د ظلم، قساوت، استبداد او واک د پای ته رسولو په موخه مقابله پيل او د پاني پت په ډگر کې يې لوی بری

په نصیب شو. باید په یاد ولرو چې یوازې د مراتیانو د کمزورۍ په پایله کې د شرق الهند کمپنۍ بری ته ونه رسېده، بلکې نور لاملونه یې هم درلودل.[1]

اتم سفر: پنجاب په ۱۷٦۲م.کال کې دوباره په اعتشاش لاس پورې کړ، نو ځکه احمد شاه بابا پنجاب ته ولاړ، د سیکانو ځواک یې تس نس کړ او کشمیر یې هم غلی کړ.

نهم سفر: احمد شاه په ۱۷٦۷م.کال یو ځل بیا پنجاب ته ورغی او د سیکانو ځواک یې مات کړ.

لسم سفر: د افغانستان لوېدیځې سیمې پر داخلي امنیت باندې متکې وې. پر ۱۷٦۹م.کال د خاص خراسان وضعه خړه پړه شوه، ځکه احمد شاه بابا مشهد ته ولاړ، هغه یې کلابند کړ او طبس یې هم تر خپل واک لاندې راوسته او خراسان یې د پخوا په څېر د افغانستان د خاورې برخه وګرځاوه.

په ۱۷۷۲م.کال د احمد شاه بابا ناروغي زیاته شوه، خپل دویم زوی شهزاده تیمور یې د ځان ولیعهد وټاکه. چون احمد شاه بابا د ۱۷۷۲م.کال د دسمبر په میاشت کې د پنځوس کلنۍ په عمر له دنیا سترګې پټې کړې. (د احمد شاه بابا د مړینې سمه نېټه د ۱۱۸٦م.کال د رجب شلمه (۱۷۷۲م.کال د دسمبر ۲۳ د جمعې شپه ده.)

د احمد شاه بابا د حکومت سیاسي سرحدونه له مروې او آمو څخه تر عربو بحیرې، بلوچستان، سند، ګجرات، له ډهلي او د هغه له شاوخوا څخه

---

۱ - علي احمد جلالي، مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکري، جلد دوم، کابل: مطبعه وزارت دفاع ملي، ۱۳۴۷، ۲٦۰-۲٦۱مخونه.

تر کشمير پورې پراختيا درلوده.[1] فخر افغان چې هنديان سرحدي ګاندي ورته وايي، ليکي چې احمد شاه بابا راپورته شو، ايرانيانو او مراټيانو ته يې ماتې ورکړه او د راستنېدو پر مهال د جيلم سيند پر غاړه ودرېد او د پښتنو ټول خېلونه او قبيلې ورسره وې، هغوی ته يې وويل چې له دې ځايه تر امو سيند پورې ستاسو هېواد پښتونخوا ده.[2]

دراني امپراتوري په ۱۷٦۱م.کال د مساحت له مخې د بل هر وخت نه پراخه وه، ځکه چې په همدغه وخت کې د احمد شاه دراني قدرت په اوج کې و. په دې دوره کې د احمد شاه په امپراتورۍ کې د هغو ځمکو نه علاوه چې پښتانه ورباندې اوسېدل، د هندوستان، ايران او جنوبي ترکمنستان زياتې برخې په‌کې شاملې وې.

دغې لويې امپراتورۍ څه د پاسه دوه ميليونه کيلومتره مربع مساحت درلود او دغه اندازه د کارل کبير د امپراتورۍ په نسبت تقريباً دوه چنده زياته وه.[3]

د احمد شاهي دولت په قلمرو کې لاندې ولايتونه او حکومتونه شامل وو:

---

۱ - غلام جيلاني عارض، د تاريخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري وېش، ژباړن: محمد شريف ځدراڼ، د علومو اکاډمي، کابل: لايف ستار مطبعه، ۱۴۰۱، ۴۰-۴۴ مخونه.

۲ - عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳٦۲، ٦-۷مخونه.

۳ - ګانکوفسکي يو. و، د درانيانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور ګل محمد نورزی، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۱-۸ مخونه.

**الف – ولایتونه:**

۱- د کندهار ولایت

۲- د کابل ولایت

۳- د خراسان ولایت

۴- د پنجاب ولایت

۵- د هرات ولایت

٦- د مزار شریف ولایت

۷- د بدخشان ولایت

۸- د کشمیر ولایت

**ب – اعلی حکومتونه:**

۱- د فراه اعلی حکومتونه

۲- د میمنې اعلی حکومت

۳- د بلوچستان اعلی حکومت

۴- د لغمان اعلی حکومت

۵- د پېښور اعلی حکومت

٦- د غزني اعلی حکومت

۷- د ډېره اسماعیل خان اعلی حکومت

۸- د ډېره غازي خان اعلی حکومت

۹- د شکارپور اعلی حکومت

۱۰ـ د سیوي (Siwi) اعلی حکومت

۱۱- د سند اعلی حکومت

۱۲- د چچه هزاره اعلی حکومت

۱۳- د ملتان اعلی حکومت

۱۴- د لیه (Leih) اعلی حکومت

۱۵- د سرهند (Sirhind) اعلی حکومت[۱]

احمد شاه بابا سره له دې چې یو لوی فاتح و او د متحد او لوی افغانستان بنسټ یې کېښود، په تاریخ کې د یوه مدبر واکمن او لایق اداره- چي په توګه پېژندل کېږي او هغه د خپلې واکمنۍ پر مهال په تدبیر او په بشپړ درایت سره د افغانستان پراخ هېواد په منظمو واحدونو ووېشه، هر ولایت یا اعلی حکومت یې په سیمو او هره سیمه یې په کلو او بانډو ووېشله چې اداري چارو ته په اسانۍ رسېدنه کېدای شوه. د ولایتونو او اعلی حکومتونو یا د حاکم مېشتو حوزو حکمرانان د پاچا د فرمانونو په وسیله ټاکل کېدل. دغه راز د پوځي ځواکونو قومندانان چې د لښکر د امیر یا سردار په نامه یادېدل، د شاهي فرمانونو په وسیله ټاکل کېدل، په داسې حال کې چې د ولایتونو او اعلی حکومتونو مامورین د سیمه‌ییزو حکمرانانو یا د مرکزي حکومت د وزیرانو په وړاندیز او د پاچا د امرونو په وسیله مقررېدل. احمد شاه بابا د افغانستان په اداره کې د سیاسي یووالي بنیاد

۱ - غلام جیلاني عارض، د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري وېش، ژباړن: محمد شریف ځدراڼ، د علومو اکاډمي، کابل: لایف سټار مطبعه، ۱۴۰۱، ۴۴-۴۵مخونه.

ټینګول یو اساس ګرځولی و او د دغه مرام د پلي کولو لپاره یې د افغانستان د خلکو ترمنځ حقوقي مساوات په پام کې ونیو.[1]

احمد شاه د افغانستان په اداره کې د سیاسي یووالي بنسټ کلک کړ او هېواد یې په سیاسي یووالي ودراو. د دغې موخې د تر لاسه کولو لپاره یې د افغانستان په خلکو کې حقوقي مساوات په پام کې ونیو او د مذهب، ژبې، نژاد، سیمې او قبیلو ترمنځ یې هر ډول توپیرونه او تبعیض کم کړ، ښکاري چې پخپله احمد شاه په عمل کې د وینا په پرتله ډېر عادل و او ملت ولیدل چې باکفایته خلک پرته له کوم تبعیض او پرته د ژبې، قوم او مذهب په پام کې نیولو څخه د دولت په چارو کې ګډون لري. د بېلګې په توګه د احمد شاه قلمرو دننه هغه مهم او نامتو والیان دا وو:

په هرات کې درویش علی خان هزاره، په نېشاپور کې عباس قلي خان بیات، په قلات ولایت کې اشرف خان غلجي، په شکارپور کې دوست محمد خان کاکړ، په مشهد ولایت کې شاهرخ افشار، په کشمیر کې خواجه عبدالله خواجه زاده، په پتیاله کې امیر سنګه سک، په بلوچستان کې نصیر خان بلوڅ، په پنجاب کې زین خان مومند، د سند په ولایت کې نور محمد چې په شهنواز خان سندي سره یادېده، په ډېره اسماعیل خان کې موسی خان او په ملتان کې شجاع خان ابدالي، په پلازمېنه کې د احمد شاه د دارالانشا رئیس یا مشر میرزا هدي خان قزلباش، د اعلی

---

۱ - هماغه اثر، ۴۵-۴٦مخونه.

ديوان مستوفي ميرزا علي رضا خان قزلباش او د ټولو خزانو مشر يو هندی يوسف علي نومېده او په التفات خان سره يادېده.

همدارنګه احمد شاه ۲۵ کاله د هېواد دننه د اداري او سياسي چارو په منظمولو تېر کړل، يو بشپړ د حساب وړ دولت او منظم پوځ يې جوړ کړ او په هېواد کې يې ملکوک الطوايفی او تجزيه طلبی له منځه يوړې او يو متمرکز دولت يې جوړ کړ.[1]

دا چې احمد شاه بابا د افغانستان تاريخي جغرافيه څه ډول په يوه سياسي متمرکز دولت کې دوباره احيا کړه، امريکايي ليکوال او مؤرخ رابرت کروز په دې اړه ليکي چې احمد شاه د پراخو ځمکو د فتح کولو هيله په سر کې لرله او ځان يې د هند، ايران او ماورأ النهر واکمن ګاڼه. هغه په ۱۷۴۸م. کال غزني، کابل او پېښور تر خپل واک لاندې راوستل، په ۱۷۵۲م.کال يې د موجودو سختو شرايطو سره – سره کشمير فتح کړ، ملتان او پنجاب يې له مغولو بېرته ونيول. په ۱۷۵۴م. کال يې مشهد ونيو او محلي حاکم خراج ورکول ومنل. د خراسان نورې سيمې، لکه قوچان، شېروان او نېشاپور د ده د قومندانانو له خوا ونيول شوې او د سيستان زياتره برخه يې تر واک لاندې راوستله. په ۱۷۵۰م. کې د احمد شاه لښکرو د هندوکش په شمال کې د ازبکو له خانانو بلخ، ميمنه، اندخوی او شبرغان ونيول. تر ۱۷۵۷م. پورې يې بلوچستان او سند هم ونيول او د

---

۱ - مير غلام محمد غبار، افغانستان د تاريخ په تګلوري کې، بشپړ لومړی او دويم ټوک، ژباړن:محمد بشير دودیال، کابل: ميوند د خپرندويې ټولنې مطبعه، ۱۳۹۳، ۴۲۰-۴۲۱مخونه.

ډهلي په جوماتونو کې د ده په نامه خطبې ویل کېدې. په ۱۷٦۱م. کې یې د پاني پت په ډګر کې مراټیان تس نس کړل، نو ځکه افغان ملي ګرایان ده ته د درنښت په موخه «بابا» وایي او د ده د وخت دراني امپراتوري د افغانستان د یوه لوړ او عظیم دولت او ملت استازیتوب کاوه.[۱]

احمد شاه بابا په سیاست کې تل د اسلامي ورورګلوۍ، نرمۍ او دوستۍ پلوی و. په ډهلي، بخارا، خراسان، بلوچستان او سند کې یې له خپلو معاصرو امیرانو سره د روغې له لارې سوله‌ییزه رویه درلودله او د شهنشاهۍ عظمت او عسکري اقتدار باوجود یې هغو ټولو امیرانو ته څو وارې عفوه وکړه چې سرکښي یې کوله او د تاج بخښنې یې وکړې، چې حتا د هغه وخت سترګور او د نظر خاوندان د ده دې تاج بخښنې او د نظر پراخوالي ته هک حیران پاتې شول. د شاه ولي الله دهلوي په قول، د ابدالي احمد شاه دا رویه د دې مادي دنیا په چارو کې حساب نه وه. احمد شاه د جهانګیرۍ سره – سره د مسلمان له وینو تویولو څخه ځان ژغوره، د جهاندارۍ په چارو کې یې له عدالت او انصاف څخه کار اخیست او خلک یې د خپلو زامنو په شان پالل، نو ځکه افغانان ده ته «بابا» وایي او دا د هغه لقب دی چې بې له میرویس او رحمانه د بل چا په برخه شوی نه دی.[۲]

---

۱ - رابرت کروز، افغان مدرن؛ تاریخ یک ملت جهاني، مترجم: عبدالله محمدي، کابل: نشر ناسوت،۱۴۰۰، ٦۵-٦٦ مخونه.

۲ - عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن: عبدالروف بینوا، دوهم چاپ، کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹، ۴۱۸-۴۱۲مخونه.

## ج – د حکومتدارۍ بڼه

د احمد شاه بابا د حکومتدارۍ بڼه یو فدرالي جمهوریت ته ورته وه، ده د دې په ځای چې مطلقه پاچاهي وکړي، د دغه جمهوریت مشر و او د هېواد په عمومي اداره کې له ده سره د لویانو او مشرانو یوې نهه کسیزې شورا مرسته کوله او هېڅ یو غوره اقدام د دوی له خوښې پرته نه‌شو کېدلی. احمد شاه هېڅکله پر قبایلي مشرانو د خپل سټروالي او لوړتیا غوښتنه نه کوله، ځکه دی یو وخت له هغوی سره یو برابر او دوی د پاچاهۍ قدرت ته راپورته کړ، ده د افغانانو برابرۍ او خپلواکۍ روحیې ته درانه کتل او دا روحیه یې لا په کې پیاوړې کړه.[1]

احمد شاه په دولتي چارو کې د چارواکو وړتیا او پر هغوی باور بنسټیز توکي ګڼل او تر ډېره چارواکي او کارکوونکي د ژوندانه تر پایه پر رسمي چارو پاتې کېدل. سربېره پر دې احمد شاه ټولې دولتي چارې د یوې ستړې او پټې کړۍ په مرسته څارلې او پر سزا او ستاینه یې لاس نه نیوه، همدا هڅې وې چې ده له ستلجه تر خراسان او سیستانه او له آمو تر عمانه د افغانستان سیاسي او ملي یووالی بشپړ او ملیونونه افغان وګړي یې پر یوه ملي غولي (مرکز) راغونډ کړای شول.[2]

---

۱ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۴۵۴ مخ.

۲ - میر غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ۵٦ مخ.

احمد شاه په دې پوهېده چې په هره اندازه یو متمرکز ځواکمن دولت جوړ کړي، په هماغه اندازه به یې د فتوحاتو د هضم توان زیات وي. ده د نادر افشار ځواکمنه اداره لیدلې وه او د کورګاني هند د ادارې مطالعه یې هم پخپله وکړه او هم یې خلک مؤظف کړل چې د افغاني امپراتورۍ لپاره یوه منظمه نقشه طرح او پلي کړي.

تر احمد شاه پخوا دلته افغانستان د تجزیې دوه نیم سوه کلنه دوره تېره کړې وه، د افغانانو مرکزي او خپلواک دولت او اداري نظام موجود نه و، نو ځکه احمد شاه بشپړ نوی حکومت او نظام جوړ کړ، خو دا نظام د ایران د صفوي او د هند د مغولي تشکیلاتو او وظایفو له پلوه یو ترکیب و او هم پخپله د افغان ټولنې د قبیلوي عرف عناصر پکې ګډ وو.

اداري نظام په سر کې په دوو برخو وېشل کېده چې هغه ملکي او نظامي برخې وې او ملکي برخه یې هم پر دوو نورو برخو وېشل شوې وه، چې هغه امنیت او عامه خدمتونه وو. د دې ټولې ادارې او نظامي برخو په سر کې صدراعظم چې د اشرف الوزرأ په نامه یادېده ولاړو او هغه هم د پاچا د مشاور حیثیت درلود او د حکم اصلي مصدر پاچا و، اشرف الوزرأ ملکي او نظامي چارې پر مخ بېولې. تر پاچا را لاندې ډېر ستر مقام هغه د قبیلوي خانانو، سترو نظامي قومندانانو او روحاني مرشدانو شورا وه چې احمد شاه تر خپل انتخاب وروسته له هغو مشرانو څخه جوړه کړه چې د شېرسرخ په جرګه کې یې ګډون درلود او هغه قومندانان چې له ده سره یې د نادر شاه افشار په پوځ کې برخه درلوده او هغه روحانیون چې په

ټولنه کې د معنوي نفوذ خاوندان وو، د دې شورا غړي شول. احمد شاه ټولې حکومتي چارې د دغې شورا له نظر سره سمې سرته رسولې.

قاضي القضات لوی قاضي و او په اداره کې د لوی صلاحیت خاوند و، هغه پر ټولو قاضیانو د امر په حیث حکم کاوه. په عسکري نظام کې هم قاضیان په دنده بوخت وو او لویو افسرانو له هغوی سترګه کوله.

د احمد شاهي دربار د سیاست بنسټ پر روحانیت او معنویت تکیه و او احمد شاه د لویو روحانیونو څخه د خپل سیاست په پر مخ بیولو کې کار اخیست، د بېلګې په توګه، میا عمر د پېښور د څوکنو پیر چې په قبایلو کې د لوی نفوذ خاوند و، احمد شاه د هغه په وسیله قبایل په خپله ولکه کې ساتل. دوهم لوی روحاني شاولي الله دهلوي و، چې د ډهلي په کورګاني دربار کې یې خپل نفوذ د احمد شاه په ګټه استعمالاوه او احمد شاه د مراهټیانو جګړې ته د دغه روحاني په دعوت ور روان شو. درېیم لوی روحاني میا فقیرالله جلال آبادي شکارپوري و چې د سند په دربار کې یې د احمد شاه ګټې ساتلې، دغو پیرانو ته احمد شاه د لنګرونو لګښتونه ورکول. دا د احمد شاه یو سیاسي ابتکار و چې د خپلې حکومتدارۍ د عملي کولو او پیاوړتیا په موخه یې روحانیون ځان ته جلب کړي وو.[1]

احمد شاه یو لایق سیاسي او نظامي شخصیت و، د خپل ۲۵ کلن سلطنت په موده کې یې د افغانستان لپاره ډېر مهم او اړین خدمتونه وکړل، د دولت او

---

۱ - محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، کابل: د میوند خپرندویې ټولنې مطبعه، ۱۳۸۹، ۳۲-۳۴مخونه.

پوځ له جوړولو وروسته یې لومړی د افغانستان ټول طبیعي ولایتونه، لکه بدخشان او قطغن، بلخ او میمنه، مرو او مرغاب، طوس او نېشاپور (د خراسان اوسني ولایتونه)، سیستان او کرمان، بلوچستان او سند، کشمیر او چترال، کابل او غور، پېښور او پنجاب د یوه اداري مرکز تابع کړل، وروسته یې د شمال ساتنې لپاره یو ځل له جیحون سینده او څو ځلې له ستلج سینده ورتېر شو او په ټولو سوقیاتو کې بریالی و. په ۱۱۷۴هـ.ق/ ۱۷٦۱م. کال یې له نیم میلیون مراټې پوځ سره د پاني پت جګړه بریالۍ سرته ورسوله او دا د احمد شاه له بهرنیو جګړو څخه یوه تر ټولو مشهوره او بریالۍ جګړه ګڼل کېږي، ځکه احمد شاه یې د افغانستان او هند په تاریخ کې د جګړې اتل په صفت ثبت کړی دی. احمد شاه تر ډېره عادلانه چلند کاوه، د کورنې نفاق او قبیلوي تعصب د له منځه وړلو لپاره یې د همت ملا تړلې وه او کله چې احمد شاه بابا له نړۍ سترګې پټې کړې؛ نو یو ځواکمن، لوی او پر نفوسه افغانستان یې په میراث پرېښود.[1]

انګرېز مؤرخ، کلنل جي بي ملي سون په خپل اثر «د افغانستان تاریخ» کې لیکي چې احمد شاه یو اتحادي حکومت جوړ کړ او د ملت سرداران یې پر دندو وګومارل. له خپل ملت یې وغوښتل چې یو موټی شي. دغه راز یو بل انګرېز مؤرخ سرجان ملکم لیکي چې ده د قوم له فکر سره سم حکومت کاوه، ټول ملت په احترام ورته کتل؛ د افغانستان او هندوستان لوی فاتح دی.[2]

ځوان احمد شاه د افغاني مزاج او له دود سره سم حکومت تشکیل کړ،

---

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان په یوه نظر، ژباړن: جاوید آفتاب، د علومو اکاډمي، کابل: بهیر مطبعه، ۱۴۰۲، ۱۹۳-۱۹۴مخونه.

۲ - د احمد شاه بابا دیوان، سمونه او تحشیه دعلامه عبدالحی حبیبي، علامه حبیبي څېړنیز مرکز، ۱۴۰۴، ۸۳-۸۲مخونه.

شورا يې له قومي سردارانو جوړه کړه او له هغوی سره يې په مهمو چارو کې مشوره کوله. هدف يې دا و چې د خپلوانو او مشرانو په منځ کې د لومړي کس په توګه حکومت وکړي، که څه هم په آسيا کې د دولت او حکومتدارۍ دغه مفکوره نادره ده، خو بريالۍ ثابته شوه.[1]

د احمد شاه بابا د حکومتدارۍ يوه مهمه موضوع د افغانستان د خلکو ترمنځ ملي يووالي او د ملت کېدو درجې ته لوړول وو. احمد شاه د ملي يووالي د تامين په موخه نه يوازې پښتانه د اساس په توګه په پام کې ونيول، بلکې د افغانستان ټول اوسېدونکي يې د افغان په نامه ياد کړل او په يوه ملت کې يې راغونډ کړل، لکه چې د ايماقو او بلوڅو ډېر خلک يې د فراه او هلمند په سيمو کې مېشت کړل او په يوه هېواد کې د افغانانو د راغونډولو په مقصد يې له هېواده بهر افغانان افغانستان ته راوستل. د ملي کلتور، عنعناتو او دودونو د بيا ژوندي کولو لپاره يې په هغوی کې په يوه واحد افغان ملت پورې د اړوندتيا احساس وروزه. د احمد شاه بابا ستراتيژي دا وه چې ځواکمن او منظم حکومت د افغانستان په تاريخي او جغرافيه‌يي حدودو کې رامنځته کړي او په دغه لوی او ملي کار کې بريالی راووت.[2]

احمد شاه بابا يو داسې دولت منځه ته راوړ چې په واقعيت کې په هرات او کندهار کې د درانيانو او غلجيو د تېرو دولتونو يو پرمختللی شکل و. احمد شاهي دولت د جرګې او مشورې په وسيله منځته راغلی و او لاقل د خپل سلطنت په دوره کې يې د جرګې پر بنسټ دوام وموند. علاوه پر دې د احمد

---

١ - آرنولد فلېچر، افغانستان د سوبې لويه لار، د علومو اکاډمي، کابل: د پوهنې وزارت مطبعه، ١٣٦٩، ٥٧مخ.

٢ - محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، کابل: د ميوند خپرندويې ټولنې مطبعه، ١٣٨٩، ٣٢ مخونه.

شاهي دولت موسس، د صفوي، بابري او نادري امپراتوريو د بنسټ اېښودونکو، شاه اسماعیل صفوي، ظهیرالدین محمد بابر او نادر شاه افشار پر خلاف د جرګې او مشورې له لارې، نه د زور او قوت له لارې واک ته ورسېد او په افغانستان کې یې یو مرکزي دولت پر خپله اصلي آریایي خاوره جوړ کړ.[1]

له پورته بحث څخه دې پایلې ته رسېږو چې احمد شاه بابا په هېواد کې د درې ګونو قواوو (اجرائیه، مقننه او قضائیه) پر بنسټ د یوه ملي او خپلواک دولت او حکومت بنسټ کېښود، که څه هم دا یې یو ابتدایي شکل و، خو د راتلونکي لپاره ښه پیل و. هغه مهال د احمد شاه بابا په مشرۍ یوه داسې حکومتداري وه چې ملت یې پکې شریک کړی و او احمد شاه بابا د یوه لایق، عادل، هېوادپال مشر په توګه د هغه په سر کې ولاړ و.

احمد شاه په دې پوهېده چې په هره اندازه یو متمرکز قوي دولت قایم کړي، په هماغه اندازه به یې د فتوحاتو د هضم توان زیات وي. ده د نادر افشار مقتدره اداره لیدلې وه او د کورګاني هند د ادارې مطالعه یې هم پخپله وکړه او هم یې خلک مؤظف کړل چې د افغاني امپراتورۍ لپاره منظمه نقشه طرحه او تطبیق کړي. تر احمد شاه پخوا دلته افغانستان اداري نظام نه درلود، نو ځکه هغه یو بشپړ نظام جوړ کړ، داسې یو نظام چې په سیمه کې یې ساری نه درلود. د افغانستان او د تحت الحمایه سیمو د ټولو قومونو استازي پکې شامل وو.[2]

---

۱ - محمد حسن کاکړ، افغان و افغانستان، پوهنتون کابل، پوهنځی ادبیات، ۱۳۵۷، ۸۳-۸۴ مخونه.

۲ - محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، کابل: د میوند خپرندویې ټولنې مطبعه، ۱۳۸۹، ۳۲ مخونه.

## څلورم څپرکی

## پوځي او اقتصادي سیاست

### الف – پوځي سیاست

د شېرسرخ په لویه تاریخي جرګه کې د احمد شاه بابا پر انتخاب سربېره دوې نورې مهمې او تاریخي پرېکړې وشوې، له صفویانو سره د اړیکو شلول او د هېواد د خپلواکۍ اعلانول او د تاریخي افغانستان د خاورې د تمامیت او سرحدونو تامینول. جلالي په دې اړه لیکي چې هغه مهال مختلف افغان قبایل تیت او پرک وو او د افغانستان په لرغونې خاوره کې یووالی نه لیدل کېده. له دې امله احمد شاه اړ و چې د امپراتورۍ د هستې د جوړولو لپاره لومړني شرایط برابر کړي، خو له دوو جدي ستونزو سره مخامخ و. یو د یوه ملت په بڼه د ټولو افغان قبایلو راغونډول او دویم د افغانستان د مختلفو سیمو راغونډول په یوه سیاسي تمامیت کې.

احمد شاه بابا پورته ملي هدفونو ته د رسېدو لپاره پوځي ځواک ته اړتیا درلوده، هغه په لومړیو کې شپاړس زره عسکر چې د نادر افشار له وژلو وروسته یوځای کندهار ته ورسره راغلي وو، په اختیار کې درلودل، مالي امکانات یې هم تر دې وخته نه درلودل چې زیاتې لښکرې استخدام کړي، له دې امله یې قومي مشران د قبایلو د اداره کولو مسؤل وټاکل، تر څو د

عسکري سفرونو پر مهال د قبایلو د شمېر په پام کې نیولو سره یې پوځي ټولګي د پاچا په واک کې ورکړي او په دې ډول یې د عسکرو د استخدام ستونزه تر یوه بریده حل کړه. له بلې خوا تقي خان اخته بیګي شېرازي چې د نادر افشار په لارښوونه یې د کابل او پېښور (په نورو آثارو کې سند او پنجاب ښودل شوي) مالیات راغونډ کړي وو، دغه مهال کندهار ته راورسېد. احمد شاه دغه مالیات د ځان حق وګاڼه او ویې نیول او پر دغو مالیاتو یې په لومړۍ مرحله کې خپلې مالي ستونزې تر یوې اندازې حل کړې.

احمد شاه د همدغه ځواک په وسیله چې د سلطنت په سر کې یې درلود، خپل پوځي سیاست تنظیم کړ، هغه لازمه وګڼله چې تر ټولو مخکې د افغانستان مختلف ولایتونه له مرکز سره ونښلوي او د مرکزي حکومت تر اداري لاندې یې راولي. له هغه وروسته د مالي بنسټ او د عسکرو د جګړه-ییز قدرت د پیاوړتیا په موخه بهرني پوځي سفرونه پیل کړي. هغه عقیده درلوده چې د ده ملت په هغه شرایطو کې کولای شي چې یو ځواکمن دولت تشکیل کړي چې همېشه اکتیف او فعال وي او د دغه هدف د تامینولو لپاره له هېواده بهر فتوحات یو له خورا ښو وسایلو ګڼل کېږي. په حقیقت کې لیدل کېږي چې د دې پالیسۍ په تعقیب سره افغانان همېش ځواکمن وو، خو کله چې د احمد شاه اولادې له دې پالیسۍ څخه انحراف وکړ، د هغوی د انحطاط مقدمات برابر شول.[1]

---

۱ - علي احمد جلالي، مطالعه تاریخ افغانستان از نگار عسکري، جلد دوم، کابل: مطبعه دفاع ملي، ۱۳۴۷، ۲۵۴-۲۵۱ مخونه.

په احمد شاهي دولت کې د پوځ اعلى قومندان پخپله احمد شاه و او تر پاچا لاندې سپه سالار و چې د اعلى قومندان (پاچا) او سپه سالار ترمنځ اړيکه د «دفتر نظام» په وسيله ټينګېده. د احمد شاه دراني د سلطنت په دوران کې د شاهي پوځ سپه سالار جهان خان پوپلزی و.

په احمد شاهي پوځ کې تر ټولو مهمه اداره «نظامي دفتر» و. د نظامي دفتر وظيفه دا وه، چې د منظم پوځ شمېر هر وخت معلوم کړي، د پوځ خزانې او ذخايرو راپور واخلي، همدا ډول نظاميانو ته د دولتي ذخيرو خوراکي مواد او نور ټول ضروري شيان ورکړي. د دې دفتر مسؤل منصبدار امر ته د احمد شاه دراني د ځايناستو په وخت کې «لښکر نويس» ويل کېده. د ټولو عسکري ټولګيو د افرادو د نومونو لستونه په يوه ځانګړي دفتر کې ساتل کېدل، چې «سنچهره» يې باله. د لښکر د خوراکي موادو او حيواناتو د ښو برابرولو لپاره ځانګړې اداره چې د هغې ادارې امر ته «سور ستچي باشي» ويل کېده. سور ستچي باشي په ځينو ولايتونو کې ماليات په جنسي ډول ټولول او د هماغه ولايتو د پوځونو اړتياوې يې ورباندې پوره کولې.

جبه خانه (کورخانه) د کورچي باشي تر امر لاندې وه. کورچي باشي د پوځ لپاره وسلې، مهمات ساتل او د ترميم دنده يې هم پر غاړه وه. په کندهار کې «باروت خانه» او د باروتو د جوړولو ورکشاپونه موجود وو، چې تر نن ورځې پورې شته دي.

نظامي قاضي يا نظامي محکمه په پوځ کې موجوده وه، په ځينو وختونو

کې عسکري د سپلین په کلکه مراعات کېدل. د گناه په وخت د گناهگارو عسکرو پزې غوڅېدې، دغه ډول گناه کاران له جزا نه وروسته د نورو د عبرت لپاره د عسکرو کمپونو ته بېول کېدل، جزاگانې نه یوازې ساده عسکرو ته ورکول کېدې، بلکې لوړ عسکري مامورین هم تر دې جزا لاندې راتلل.

په پوځ کې محتسبان هم وو چې په عسکرو کې یې د شریعت قوانین عملي کول، څرنگه چې د دولتي ادارو په منځ کې د وظیفو څرگند وېش نه و، نو زیاتره وختونه په پوځ کې ستر بستونه ملکي کسانو یا درباریانو ته ورکول کېدل. د مثال په ډول شاپسند خان چې د احمد شاه دراني د طویلې «داروغه» په حیث کار کاوه، د پاني پت په جگړه کې نوموړي «داروغه» ته د دولسو زرو سپرو پوځ قومنداني ورکړ شوه چې د پښتنو، قزلباشو، ازبکو او ایماقو څخه تشکیل شوی و.

بله دا چې د پوځ زیاتره برخه د غیرمنظمو ټولگیو څخه جوړېده او په نظامي چارو کې مهم رول مالیې وزارت ته سپارل شوی و. په دې صورت کې د مالیې دفتر مجبور و چې د عسکرو ټولو ټولگیو حساب له ځان سره وساتي. په اردو کې د وسلې او اسونو کتنه وخت پر وخت کېده. د همدغې کتنې په نتیجو پورې د نامنظمو عسکري ټولگیو قومندانانو د معاشونو لوړوالی او ټیټوالی تړلی و. دغه نامنظم عسکري ټولگي د مالیې دفتر په حساب کې راتلل. سور ستچي باشي هم تر یوې اندازې پورې د مالیې دفتر تر امر لاندې و.

کومې پوځي قواوې چې په ولايتونو کې ځای پر ځای شوې وې، د هغوی اداره د پاچا په امر سره قومندانانو ته ورکول کېده. دغو پوځي قومندانانو ته د «لښکر امير» ويل کېده. پورتني د لښکر اميران نه يوازې د مرکز تابع وو، بلکې د اړوند ولايت حاکم او خپلو نوابانو فرمانونه يې هم منل.

هغه پوځونه چې په لويو کلاګانو کې ځای پر ځای شوي وو، د هغوی قومندانان «کلادار» نومېدل. په هغه وخت کې د افغانانو زياتره کلاګانې او چونۍ مربع ډوله يا يې د مستطيل بڼه درلوده. پلن دېوالونه يې لرل چې د ټوپک ويشتو لپاره سوري پکې جوړ شوي وو او پر دېوالونو يې دوه کسه ځنګ په ځنګ تېرېدل، د کلاوو په دېوالونو کې برجونه جوړېدل او حتا په ځينو دېوالونو کې د توپونو لپاره هم ځايونه جوړ شوي وو. احمد شاه بابا هغه وخت په تاشقرغان (خلم) او مشهد کې ۹۴ چونۍ جوړې کړې وې.[۱]

داسې اټکل کېږي چې د احمد شاهي پوځي عسکرو د يوې مياشتې معاش به دولس روپۍ او د پلو سرتېرو معاش شپږ نغدي او جنسي روپۍ وې. د احمد شاه پر مهال د افغانستان کلنی جنسي او نغدي ماليات (د ځمکو سيده او ناسيده ماليات په ګډون) څه ناڅه ۳۱ ميليونه روپۍ کېدې چې د هغوی دربيمه برخه په نظامي او ملکي چارو کې لګول کېدې او بله دربيمه برخه يې د دولت په خزانه کې سپما او ذخيره کېدې.[۲]

---

۱ - ګانکوفسکي يو. و، د درانيانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور ګل محمد نورزی، دعلومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۱۷۹-۱۸۳ مخونه.

۲ - مير غلام محمد غبار، افغانستان د تاريخ په تګلوري کې، بشپړ لومړی او دويم ټوک، ژباړن:محمد بشير دوديال، کابل: ميوند د خپرندويې ټولنې مطبعه، ۱۳۹۳، ۴۱۹ مخونه.

د دراني امپراتوري نظامي ځواک د هېواد له سياسي جوړښت سره په مطابقت کې جوړ شوی و. اردو په تدريج سره لږ – لږ پراخېده. کله چې افغان رهبرانو د خپل هېواد لمنې پراخولې، نور خلک به يې تر حاکميت لاندې راتلل. د اردو د ودې او مپراتورۍ د پراختيا ترمنځ يو نږدې تناسب موجود و. پرمختګ لويې اردو ته اړتيا درلوده او د لويې اردو جوړول سرچينو ته اړتيا درلوده. دغه سرچينې له نورو سيمو څخه لاس ته راتلې. دا سرچينې معمولاً په نظامي عملياتو او فتوحاتو کې له بهايو هېوادونو تر لاسه کېدې؛ نو پر دې اساس د ځواک لاس ته راوړلو په موخه پراختيا اړينه وه او دې کار ته منظم او لوی پوځ په کار و. پر دې سربېره د نيول شوو ځمکو د کنټرول لپاره پوځي ځواک او ډېرې مادي سرچينې په کار وې؛ نو ځکه هغه امپراتوري چې احمد شاه دراني جوړه کړه، زياتره يې د نظامي ځواک په زور وه. د دراني امپراتورۍ د پوځ يوه برخه منظم مسلکي پوځونه وو، (پوځي نظام) بلل کېده او نوره زياته برخه يې نامنظمې قومي ملېشې وې چې د قومي مشرانو له خوا د نقد معاش پر اساس راټولېدې او (فوج ګشاده) يې بلل. دې خلکو پر معاش سربېره مالي او نور عوايد راټولول او هم يې د هر هغه خان او قومي مشر له ملېشې سره متناسبه اندازه ځمکه برابروله چې ملېشه يې جوړوله.

منظم پوځ په غونډونو وېشل شوی و چې تل يې د پاچاهۍ ساتنه کوله او ځانګړي قطعات پکې شامل وو چې په بېلابېلو نومونو، لکه (غلام صف شکن)، (رساله شاهی)، (غلام خانه) او (غلام شاه) يادېدل. د منځنيو پېړيو

په ځېر دغه «غلام» ټولګي له غیرقبایلي خلکو جوړ شوی و. دوی له پاچا پرته په بل هېڅ رهبر او قومي مشر پورې تړلي نه وو. فرانسوي کپیټان جین (Captian Jaen law) چې په ۱۷۵۸م.کې یې ډهلي لیدلی و، لیکي چې افغانه اردو د لوړ دسپلین لرونکي پوځ دی. په کنډکونو وېشل شوی او په هر کنډک کې یې زر کسه سپاره دي. هر کنډک بېل رنګ خولۍ لري او د یوې قبیلې د مشر تر امر لاندې دي. هر مشر یې له وقفې پرته ابدالۍ ته په ورځ کې دوه واره راپور ورکوي... که څه هم په عام ډول د ابدالي قطعات ښه دي، خو ځینې یې په استثنایي ډول ډېر عالي دي. دوی هغه څوک دي چې مېړانه او توره یې څو ځله ازمویل شوې او خپله مېړانه یې ثابته کړې ده. دغه شهزاده چې یو وار جګړې ته داخلېږي، ۱۲ یا ۱۵ خاص کنډکونه د خپل پوځ ریزرف ساتي. همدا ریزرف دی چې په جګړه کې غوڅ بدلون راولي. مراټیانو د دغو پوځونو دروندوالی څو واره حس کړی دی.

د هغه وخت محاسبات د اتلسمې پېړۍ په پای کې د دراني اردو ترکیب داسې ښيي:

۱۲ زره غلام صف شکن شاهي ګارد، ۳۰ زره نامنظم دراني او غلجي سپاره، ۲۳ زره هغه قبیلوي سرتېري دي چې د پېښور، خټک، بنګښ، مومند او یوسفزو خانانو ټول کړي وو. پنځه تر شپږ زره پورې بلوڅ غونډ وو چې د بلوچستان امیر تیار کړی و، ۱۸ زره سپاره چې وردګ، سلېمانخېل، خوګیاڼي، شینواري، اپریدي، کوټوال او چڅ هزاره په کې ګډ وو، ۱۲ زره

شاهي ساتونکي (کیسیکچي)، ۷ زره د دربار او حرام سرای خدمه وو، ۳ زره خیبري او اپریدي پوځونه، ۱۲ زره سپاره د خراسان او ۱۵ زره د سند، ملتان، ډېره اسماعیل خان او ډېره غازي خان سرتېري وو چې ټولټال له ۱۵ زره تر ۱۱۵ زره پورې رسېدل.

احمد شاه ابدالي له نورو فاتحانو خاص توپیر درلود. ده نور هېوادونه نیول چې خپل هېواد پرې آباد کړي، خو دی د پخوانو نورو افغان پاچاهانو په باور نه و چې هند ونیسي یا د هوتکو په شان چې نور ملکونه اشغال کړي او هلته مېشت شي. الکساندر داو (۱۷۳۵-۱۷۷۹م.) یو برتانوي ختیځ پېژندونکی و، د احمد شاه ابدالي په اړه یې لیکلي وو چې افغان پاچا په هغه وخت کې یوازېنی رهبر و چې هر څه یې تنظیم او اداره کړي وو. ده کولای شول چې امپراتوري جوړه او له ډهلي یې اداره کړي. دا تشویقي وړاندیز و، خو په هند کې وضعیت بدلېدونکی و او د ځواکونو توازن هم ورسره په بدلېدو و. د احمد شاه له کړنو داسې ښکاري چې ده نه غوښتل ځان په هند کې ښکېل کړي او غوښتنه یې دا وه چې د امو او باسین ترمنځ افغان هېواد اباد کړي. د ۲٦ کلن حکومت په دوره کې یې له هیچا سره معامله ونه کړه، نه یې د هند شمال او نه یې په لوېدیځ کې د پارس دننه د ځمکو دایمي نیولو ته زړه ښه کړ.[۱]

د غبار په وینا په احمد شاهي پوځ کې لویې پوځي ځانګې دا وې:

۱ - علي احمد جلالي، د افغانستان نظامي تاریخ، لومړی چاپ، ژباړن: شېر محمد کریمي، سروش کتابپلورنځي، ۱۴۰۱، ۹۲-۹۳ مخونه.

### ۱- نظام دفتر

دا دفتر د هماغه مهال تر ټولو لویه پوځي څانګه وه چې د اړتیا وړ لوښیو او شمېرنو، کارکوونکو، لښکتونو او پوځي خوندیینو او زېرمو د ستري برخې چارې یې سمبالوي او څارلې. نظام دفتر د نننی دفاع وزارت انډول و، په دې معنا چې سرتېرو او افسرانو ته یې معاشونه ورکول، د اردو د غلې لګښت یې ورکاوه، د افسرانو دوسیې او د سرتېرو شمېر یې جوړاوه، پوځي زېرمې یې برابرولې او څارلې او د ټول پوځ د ټولو چارو سمبالونکی ځای ګڼل کېده.[۱]

### ۲- سیور ساتچي

د احمد شاه پر مهال د سیور ساتچي په نامه یو سړی د پوځ د خوړو او وښو د برابرولو دنده پر غاړه درلوده او له وګړو یې راغونډول او پر سرتېرو یې وېشل.

### ۳- قورخانه (وسله‌تون)

پوځي وسله‌تونونه د «قورخانه» په نامه د یوه لوی زېرمه‌وال (قورچې باشي) تر لاس لاندې وو، چې نن یې «وسله‌پال» بولي. وسله‌پال ته اورني توکي او وسلې سپارل کېدې، هغه ساتلې او له اړتیا سره سم یې پوځ ته رسولې. ده د باروت جوړونې دستګاوې هم څارلې، لکه څرګنده ده چې احمد شاه وسلې او مرمۍ جوړونې کارخونې لرلې او اورنیو توکو ته یې ځانګړې پاملرنه لرله، له همدې امله یې د باروتو داسې نورو وسلو کارخونې په کندهار کې دننه د سلطنتي ارګ کېڼ اړخ (لوېدیځ) ته جوړې کړې وې

---

۱ - میر غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ۷۲مخ.

او پخپله يې ځارلې. دغه سيمه د احمد شاه له مهاله تر ننه د «باروت خانې» په نامه يادېږي. احمد شاه اورنيو وسلو ته زيات اهميت ورکاوه او هغه سترتوپ يادولای شو چې پر ۱۱۶۸هـ.ق کال يې په نېشاپور کې د جګړې په ډګر کې جوړ کړ، د ځينو مؤرخينو په وينا دغه هېښندهتوپ ۲۰ منه (۱۲ کابلۍ منه) مرمۍ خوړه چې د نېشاپور ښار يې ورباندې ړنګ کړ.[1]

د احمد شاه پوځ له پوځيانو او نيمه پوځيانو جوړ و، لومړۍ ډلې د «پوځ نظام» په نامه د پوځ درېيمه برخه جوړوله او دويمې ډلې د «ارت پوځ» يا «سپاره خانان» په نامه د ټول پوځ دويمه برخه وه. پوځي سرتېري په درېيو برخو (سپرو، پلو او توپچي ټولګيو) کې بوخت وو.

### ۱- سپور ټولګی

د پوځ درې  برخې ترې جوړېدې. وسلې ی پتيلهيي ټوپک، تورې، کرابين ټوپک او نېزې وې. شاهي سپاره د زغرې په لرلو له نورو سپرو ټولګيو ښخه غوره ګڼل کېدل. ټول سرتېري د بېلابېلو وسلو، لکه ډال، خنجر او تبر په لرلو کې خپلواک وو. د سپاره ټولګي سپرلۍ آس او (د جماز سوار) په نامه مهار شوی اوښ و، چې د اړتيا له مخې له سيندونو نه د تېرېدو پر مهال د پلي ټولګي په اوچتولو هم اړ و.

### ۲- پلی ټولګي

د پوځ يوه برخه ترې جوړېده، وسله يې ټوپک او چاړه وه او د نورو وسلو د کارولو خپلواکي يې هم لرله.

---

۱ - هماغه اثر، ۷۳-۷۴مخونه.

## ۳- توپ ټولگی

دغه ټولگي دوې برخې لرلې چې يوه يې سپک او بله يې درانه توپونه وو. درانه توپونه په آسونو وړل کېدل او د احمد شاه په پوځ کې يې ارزښتمن ځای لاره، لکه د پاني پت په جگړه کې (۱۱۷۴هـ.) چې د احمد شاه شپېته زريز پوځ د دښمن له درې سوه او څلوېښت زريز پوځ سره جنگېده او د احمد شاه توپونو (گڼشمېر درنو توپونو) پر دښمن اور وراوه.

سپک توپونه يو ډول کوچني توپونه وو چې د «زنبورک يا شاهين و شهنگ» په نامه يادېدل او د اوښ په شا وړل کېدل. دا توپونه په هوسايۍ سره له يوه ځايه بل ته خوځېدل او د جگړې پر ډگر د درنو توپونو په توپير «چې د کرښو تر شا درېدل» په لومړۍ کرښه کې ځای پر ځای کېدل او پرته له دې چې پر ځمکه خپاره شي، د چو شوي اوښ له شانه يې د دښمن ليکې ويشتې، يا په بله وينا، ننني ماشينگړو ته ورته وو.

د احمد شاه د بدرگه‌والو سپکو توپونو شمېر د هغه د پاچاهۍ پر لومړي کال ۷۰۰ زنبورک لرونکو اوښانو ته رسېده او همدا شمېر يې د سرهند په جگړه کې (۱۱٦۱هـ.) د دښمن پر وړاندې کارولي دي. څرگنده ده چې احمد شاه وروسته د هغوی شمېر لاپسې ډېر کړ.

د احمد شاه توپچي قومندان (توپچي باشي) رحمان خان بارکزی و چې تر اوسه يې کور د کندهار ښار د توپخانې په سيمه کې دی او رسول خان هم د احمد شاه د شاهي لښکر قومندان (قللراقاسي) و.

## لښکري جوړښتونه

يو دلگی لس کسه او لس دلگي سل کسه يو ټولی کېده. يو کنډک لس ټولي (۱۰۰۰) کسه وو چې دوه يا څو کنډکونه به يو ځای شول يوه قطعه يا مفرزه ترې جوړېده.

د پوځ د افسرانو (خورد ضابط، ضابط، آمران، ارکان) جوړښت او نومونه په لاندې ډول وو:

ده باشي (دلگی مشر)، یوزماشي (ټولی مشر)، منگباشي يا بيگباشي (کنډکمشر)، امير لښکر (غونډمشر).

د سپرو شاهي ټولگيو (لښکر ماتوونکو زلمو) قومندانانو ته «قللر آقاشي» ويل کېده او دکشيکچي (د شاه ساتونکو ډلې) قومندان «کشيکچي باشي» و. د سپکو توپونو قومندان «شاهين چي باشي» يا «جزايرچي باشي» او جنگيالو ته يې «زنبورک چي يا شهنگ چي» ويل. د ټولو توپونو قومندان «توپچي باشي يا مير آتش» و.

د پوځ لېږدونې د آس، اوښ، خره، غوايي او فيل په مرسته کېدې. د جگړې په ډگر کې جنگيالي پيلان هم د يرغل پر مهال د دښمن د کرښو د ړنگولو لپاره کارېدل.[1]

## نيم پوځي سرتېري

د احمد شاه د ټول پوځ دوې برخې د «قاضي لښکر يا سپاره خانان» په

---

۱ - هماغه اثر، ۷۵-۷۷مخونه.

نامه نیم پوځي سرتېري وو. دغه ستر ولسي ځواک له درېیو برخو سپرو ټولګیو او یوې برخې پلي ټولګي څخه جوړ او په لاندې ډول وېشل شوي وو:

لومړی: هغه ډلې چې د جګړې پر مهال د هېواد له ځانګړو سیمو څخه تر ټاکلو آرونو لاندې په وسله‌واله بڼه چمتو کېدل او د احمد شاه له پوځ سره جګړې ته تللې او تر جګړې وروسته بېرته خپلو کورونو ته ستنېدې چې دولت بیا پر هماغه کال د نومړې سیمې دیوان مالیه وربښله، لکه د کرم سیند پر غاړه مېشتو مروتو چې د دولت دیواني مالیه د جنس په بڼه د کال دوه سوه او څلوېښت مهار شوي اوښان ورکول، خو د جګړې پر مهال یې د نومړي مالیې پر ځای پرته له دولتي معاش ۲۰۰ سپاره جګړې ته چمتو کول.

دویم: د قامي لښکر ډلې بېرته سره بېلېدلې او پر خپلو کارونو بوختېدلې دا ډله پرته له هغو ورځو چې د جګړې پر مهال یې دولت ته سوبتیا ورکوله، نور یې له ملکي او پوځي څانګو سره اړیکې نه درلودې او یوازې یې مشرانو له دولت څخه د خپلې اړوندې ډلې د معاش او لګښتونو په نامه د کال یوه اندازه پیسې او جنس تر لاسه کاوه. نومړي تنخاوې د دولت له خوا په ځانګړي ځای کې د قومندان د جاګیر په توګه ټاکل شوې وې. دا ډله په تم (رخصت) ورځو کې له نورو ملکي او پوځي چارو څخه ګوښه وه او دولت د کورنۍ او بهرنۍ جګړې له ورځو پرته هغه نه پېژنده.

درېیم: د سپرو خانانو ډلې چې په تم ورځو کې هم د پوځي سرتېرو په څېر وسله‌والې وې او په ټاکلي وار یې په هېواد کې دغه لاندې دندې پر مخ بیوې:

د سرحدونو ساتنه، د پورونو راټولول، د دولتي زېرمو ساتل، د کوټوالۍ پر ځای د سیمه‌ییزو حکومتونو د اداري چارو سرته رسول او داسې نور.

د احمد شاه د واکمنۍ پر مهال د عسکرو شمېره څه د پاسه یو سل او شل زره کسان وو، د دغه پوځ دوه پر درې برخې (اتیا زره سرتېري) نیم پوځیان او یو پر درې برخه یې (څلوېښت زره سرتېري) پوځیان وو. د ټول پوځ درې برخې (نوي زره کسان) سپاره ټولګي او یوه برخه (دېرش زره کسان) یې پلي ټولګي وو او د درنو او سپکو توپونو لوی ټولګي هم په دغه شمېر کې راتلل.[1]

د احمد شاه منظم او غیرمنظم پوځ ۱۲۰ زره کسانو څخه جوړ شوی و چې ۹۰ زره یې سپاره او دېرش زره یې پیاده وو او د دغه پوځ کالنۍ لګښت ۱۹ میلیونو ته رسېده او د مملکت ټول عایدات ۳۱ میلیونه روپۍ و.[2] دغه راز علامه حبیبي ورته نظر لري او لیکي چې احمد شاه په اوسط ډول یو لک عسکر ساتل او له پنجاب، کشمیر او سنده نیولې د آمو تر سیند او تر مشهد او بحیره عرب پورې د ده د هېواد ټول عایدات ۳۱ میلیونه روپو ته رسېدل، خو جنګي اولجې، خزانې او نور زیات ثروتونه چې د هند په جګړو کې لاس ته ورتله، له دې حسابه مستثنا دي.[3]

---

۱ - هماغه اثر، ۷۷-۸۱ مخونه.

۲ - محمد ابراهیم عطایي، «سریزه»، د احمد شاه بابا د دېوان غورچاڼ، د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۵۷، ۷ مخ.

۳ - عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن: عبدالروف بینوا، دوهم چاپ، کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹، ۴۰۵ مخونه.

## ب ـ اقتصادي سیاست

په کندهار کې د فیوډالېزم پرمختیا او د بهرنیو پر وړاندې د خلکو اوږدو مبارزو په افغانستان کې د یوه قوي مرکزي دولت جوړېدو ته لاره هواره کړه او د احمد شاه تر مشرۍ لاندې ابدالي دولت جوړ شو. دغه راز د هېواد دننه مالدارو او بزگرانو یعنې د ملت اکثرت وگړو، ښاري او کسبگرې طبقې ټولو د اوږدو کلونو په ترخ کې د ملک الطوایفي ادارې او پوځي اخ و ډب په ترخ کې ډېر ملا ماتوونکي مالیات ورکول او درندو گمرکاتو او سیورساتونو (د لښکرو د خوراکي موادو او وښو د راټولولو) له امله ټوک – ټوک شوي وو او د یوه ځواکمن، خپلواک او مرکزي دولت او د بشپړ امنیت غوښتونکي وو. په دغسې شرایطو کې ابدالي احمد خان د احمد شاه په نامه د هېواد پاچا شو.

احمد شاه د کورنیو او بهرنیو مساعدو شرایطو څخه په گټې اخیستنې نه یوازې خپلواک مرکزي دولت، عمومي امنیت او سیاسي یووالی تامین کړ، بلکې د درانیانو لویه امپراتوري یې جوړه کړه. د احمد شاه د پنځه ویشت کلنې دورې په موده کې د دولت مرکزیت او عمومي امنیت داسې کلک شوی و چې فیوډالو او ملاکو د بزگرانو په وړاندې خپل مسؤلیت او د دولت په وړاندې خپل کړه وړه وپېژندل. ښاري منځینو طبقو، سوداگرو او کسبگرو هم د فعالیت نسبتاً آزاد ډگر وموند. دغه وضعیت د فیوډالي متمرکز سیستم دننه د دولت د ټینگېدو زمینه چمتو کړه. له بلې خوا احمد شاه ډېر ځواکمن فیوډالان په نظامي او مسلکي چارو کې راگډ کړل او هغوی یې خوشحاله

کړل او د موقوتو جرګو په ترځ کې یې د هغوی نظریاتو ته غوږ ونیو او هغوی یې په جګړه‌ییزو سفرونو کې بوخت وساتل، له همدې امله پرته له یو دوه ځله نور د هغوی له اړ و دوړ او سرغړونې سره مخامخ نه شو.[1]

الفنستن لیکي چې احمد شاه بابا سیاست دا و چې د خپل قوم مینه او دایمي ملاتړ جلب کړي، ځکه هغه د دوی مرستې ته اړتیا درلوده، نو ځکه یې د دوی ځمکې د هغوی په لاس کې پرېښودلې او له دوی یې یوازینۍ غوښتنه دا وه چې د پوځ په لیکو کې حاضر اوسي. ده تل د مشرانو امتیازونه وساتل او نه یې غوښتل پر خپلو هېوادوالو کړاوونه راولي.[2]

د احمد شاه د تاجپوشۍ خوشحالۍ لا روانې وې چې ده ته خبر ورسېد چې د نادر افشار افسر د سند او پنجاب راغونډه کړې مالیه چې دیارلس لکه او شپېته زره پونډه کېږي او نور مالونه هم ورسره دي، د کندهار په لار روانې کړې، هغه سملاسي دا خزانه راوګرځوله، ځکه چې نادر افشار وژل شوی و او کوم جایز وارث یې لا د ایران پر تخت ناست نه و او په ایران کې کورنۍ جګړه روانه وه. احمد شاه دغه خزانه د خپل پوځ د معاش او د نورو ملکي چارو لپاره ځانګړې کړه.[3]

---

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان د تاریخ په تګلوري کې، بشپړ لومړی او دویم ټوک، ژباړن:محمد بشیر دودیال، کابل: میوند د خپرندویې ټولنې مطبعه، ۱۳۹۳، ۴۱۹ مخونه.

۲ - مونټ سټوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بیان، دویم ټوک، ژباړن: محمد حسن کاکړ، د علومو اکاډمي، کابل: ګوندي مطبعه، ۱۳۶۱، ۲۴۹-۲۵۰ مخونه.

۳ - قاضي عطاءالله خان، د پښتنو تاریخ، لومړی ټوک، کابل: دفاع مطبعه، ۱۳۵٦، ۱۱۵-۱۱٦ مخونه.

احمد شاه د نادر افشار د خزانو او غنیمت مالونو کاروان راوګرځاوه او د خپل نوي دولت د بنسټ پخولو لپاره یې یو اقتصادي بیز شو. په دې توګه شاهي خزانه وار له واره ډکه شوه او پر تخت کېناسته یې ونمانځل او د پېښو لیکونکي دا پېښه د ده ښې طالع بولي.[1] جلالي لیکي چې تقي خان اخته بیګي شېرازي د نادر افشار په لارښوونه د کابل او پېښور مالیات راغونډ کړي وو او دغه مهال کندهار ته راورسېد. احمد شاه دغه مالیه د ځان حق وګڼله او هغه یې ونیوه او په دې ډول یې د خپل حکومت مالي ستونزې په پیل کې تر یوې اندازې پورې ورباندې حل کړې.[2]

د احمد شاه پر مهال د افغانستان کلنی جنسي او نغدي مالیات (د ځمکو د سیده او ناسیده مالیاتو په ګډون) څه ناڅه ۳۱ میلیونه روپۍ کېدې چې د هغو درېیمه برخه په نظامي او ملکي چارو کې لګول کېدې او بله درېیمه برخه یې د دولت په خزانه کې سپما او ذخیره کېدې.[3]

د احمد شاه د افغانستان اقتصادي عواید سیده او ناسیده مالیې وې چې د «دېواني مالیو» او «باج اخیستنې یا خرڅ اخیستنې» په نومونو له کرنیزو ځکمو، بڼونو، کورنیو څارویو، کورنیو او بهرنیو سوداګریزو شیانو او کورنیو سوداګریزو صنعتي توکو څخه اخیستل کېدې. د ناسیده مالیو

---

۱ - سراولف کارو، پښتانه، ژباړن: شېرمحمد کریمي، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۸، ۳۸۴مخ.

۲ - علي احمد جلالي، مطالعه تاریخ افغانستان از نګاه عسکري، جلد دوم، کابل: د ملي دفاع مطبعه، ۱۳۴۷، ۲۵۳مخ.

۳ - میر غلام محمد غبار، افغانستان د تاریخ په تګلوري کې، ژباړن:محمد بشیر دودیال، کابل: میوند د خپرندویې ټولنې مطبعه، ۱۳۹۳، ۴۱۹مخ.

شمېر ډېر و او له يوه شي نه د هېواد په بېلابېلو ځايونو کې څو ځلې اخيستل کېدې.

سربېره پر دې د «خالصه‌جات» په نامه دولتي ځمکې د ګټې غوره سرچينه وه چې د کرنې يوه پر درې برخه يې دولت ته رسېده، د دغو چارو کارکوونکو ته «د ثالثات کار کوونکي ويل کېده او فيض محمد يې هم يادونه کړې ده.

د سيده مالیې يوه برخه د ملکي او پوځي چارو د مشرانو، سيمه‌ييزو خانانو او داسې نورو د معاشونو او جاګير لګښتونه وو او پاتې يې د دولت نغدي او جنسي خزانو ته تله. سيده او ناسيده ماليه اجاره‌والو (ټېکه‌دارانو) ته په اجاره (ټېکه) هم ورکول کېده. ټېکه‌دار چې په دې اړه د ملت واکمن و، د پراخ واک په مرسته يې ماليې راټولولې او دولت ته يې خپله برخه روپۍ په وار ورکولې. دوی له مالي څانګو سره د شمېر پر مهال د مالي څانګو د حوالو او سپارښتليکونو، د زېرمو رسيد پاڼو، د ټاکلو اشخاصو د ماليو د بښنليکونو يا هم د بدو پېښو له امله د کرنيزو توکو د له منځه تګ اندازې مجرايي اخيسته، خو که د پاتې برخې په سپارلو کې به يې پښه ګوډه کړه، نو د اخيستونکي څانګې له خوا به ترې غوښتل کېده.

له پورته کرښو موخه دا ده چې د احمد شاه مهال د ماليې د ټېکه‌دارۍ او پور اخيستنې د ډول يوه بېلګه چې تر دې وروستيو (د سراج الملت والدين تر مهاله) په افغانستان کې دود وه، وړاندې شي.

موږ وينو چې د احمد شاه پر مهال (۱۱۷۰هـ.ق کال) د افغاني پنجاب د والايتونو د زمول شوو مراتيانو کلنۍ ماليه د هغه ځای د مشر آدينه له ژمنې سره سمه اووه نيم ميليونه روپۍ ټاکل شوې وه. يا دا چې احمد شاه د «بنو» له سيمې نه د ماليې او لښکر د لګښت او خواړو په نامه اتلس زره روپۍ اخيستې. يا احمد شاه پر ۱۱۸۱هـ.ق کال د ډېره اسماعيل خان د کوچنۍ سيمې «مياوالي» ماليه له څلوېښتو جريبو څخه يوه روپۍ وټاکله. همدارنګه د احمد شاه تر مړينې وروسته د سند د شکارپور د سيمې ماليه د کال په شپږ سوه زرو روپيو ټېکه وه.[۱]

د احمد شاهي دولت کلنۍ عوايد يوازې ۳۱ ميليونه روپۍ ګڼلای نه-شو، سره له دې چې دغه شمېر هم دولتي بوديجه بشپړوله او لګښتونو ته بس وه او يو څه يې د سپما په توګه خزانې ته هم تلله، خو د دولت نور عوايد نادر افشار د مېرمنې ډالۍ چې قيمتي ډبرې او په ځانګړې توګه «کوه نور» په کې و، هم ستره شتمني ګڼل کېده. هغه خزانه چې د پنجاب د نيولو پر کال (۱۱٦۵هـ.) مېرمنو احمد شاه ته وسپارله، د هندي مؤرخينو په قول، لس ميليون روپۍ وې، همدا راز پر ۱۱۷۰هـ. کال چې احمد شاه په ډهلي کې د وزير قمرالدين زوی «نظام الدوله» ته د هندوستان وزارت ورکاوه، هغه شمېر پيسې چې د نوموړي شتمنۍ نه د احمد شاه خزانې ته وسپارل شوې، شل ميليون روپۍ وې. په هندوستان کې د احمد شاه د

---

۱ - مير غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امين الله دريځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ۸٦-۸۴مخونه.

یوې جګړې (پاني پت) ولجه میلیونونه روپۍ، لوښي، څاروي، وسلې او داسې نور وو. همدا راز د هند د نورو راجه‌ګانو او مشرانو ډالۍ او د جګړو ولجې هم پر پورتنیو څرګندونو زیاتوالی شو.

په هر ډول، دومره ویلای شو چې د احمد شاه خزانه د ځای او مهال په پرتله خورا بډایه وه او تر مړینې وروسته یې اوږده کلونه د هغه د ځایناستو لپاره ستره هوساینه ګڼل کېده.[1]

د احمد شاه پوځ «یو لک شل زره» کسان لرل چې ۹۰۰۰۰ یې سپاره او ۳۰۰۰۰ یې پلي ټولګي وو او د هر سپاره میاشتنی معاش ۱۲ روپۍ او خس وو، چې په کال کې ټولې «دولس میلیونه او نه سوه اوه شپېته زرو» روپۍ کېدې او هر پلي هم د میاشتې شپږ روپۍ او جنس چې په کال کې ټولې «دوه میلیونه او یو سل و شپېتو زور» روپیو ته رسېدې.

همدا راز د پوځ د افسرانو نغد او جنسي معاش چې د جاګیر په توګه له هېواد نه تر لاسه کېده، د وسلو د پیرودلو او د وسلوتونونو د ډکولو او د لېږدولو او د داسې نورو کالنی لګښت «درې میلیونه» روپۍ کېدې، په دې توګه د احمد شاه د پوځ ټول کلنی لګښت څه د پاسه نولس میلیونه روپۍ وې چې د هېواد د ټولې کلنۍ ګټې (عوایدو) په پرتله ۳۱ میلیونه روپۍ د دولتي پانګې دوې برخې ترې جوړېدې.[2]

---

۱ - هماغه اثر، ۸۷-۸۸ مخونه.

۲ - هاغه اثر، ۸۸ مخ.

احمد شاه په افغانستان کې نه يوازې اداري، مالي او مدني تشکيلات تاسيس کړل او وزيران يې وټاکل چې اشرف الوزرا بيګي خان باميزی مشهور په شاه ولي خان د ده وزير اعظم و، بلکې په هېواد کې يې د راکړې ورکړې او اقتصادي پرمختيا په موخه په کندهار، مشهد، اټک، ډهلي، روهليکنډ، پېښور، ټټه، ډېره غازي خان، کشمير، کابل، ملتان او هرات کې يې پخپل نامه سکه ووهله او د ده د سرو زرو، سپينو زرو او مسو پر سکو د احمد شاهي دولت رسمي نښان، دوې څوکې لرونکې توره، د غنمو وږی او ستوری کېندل شوي وو او پر ځينو سکو دا بيت هم و:

حکم شد از قادر بيچون با حـمد پـادشاه
سکه زن برسيم و زر از پشت ماهی تابماه[1]

احمد شاه د اقتصادي چارو د تنظيم او پرمختګ لپاره «د ماليې اعلی ديوان» اداره ارمنځته کړه او د دې ادارې مشر ته يې «ديوان بيګي» ويل. د ماليې د اعلی ديوان په وظايفو کې د ټولو مستقيمو او غيرمستقيمو ماليو ټولول، په ټولو دولتي عايداتو او منابعو باندې کنترول، د دولتي ځمکو (خالصه) اداره، د ټولو لګښتونو حواله، د ضراب خانو، د جنسي موادو د ذخيرو او عامو خلکو ته د پوروتو ځارنه او اجراات شامل وو.[2]

---

۱ - عبدالحی حبيبي، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن: عبدالروف بينوا، دوهم چاپ، کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۹، ۴۰۵ مخ.

۲ - محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، کابل: ميوند خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۹، ۳۳ مخ.

د دراني شاهانو د عايداتو اساسي منابع هغه هندي ولايتونه وو چې د فتوحاتو په وخت کې د احمد شاه درانی لاس ته ورغلی وو. هغه ماليات او محصولات چې د کابلستان، کندهار او هرات سيمو يا قبايلو دولت ته ورکول، د دولت د عمومي عايداتو په قوت کې يې دومره اغېز نه درلود.

د درانيانو په امپراتورۍ کې له هندي سيمو څخه تر ټولو شتمن ولايت د کشمير برخه وه. له دې ولايت څخه په کال کې ټولې څلوېښت لکه روپۍ د ماليې په نامه دولتي خزانې ته تحويلېدلې. له دې څلوېښت لکو روپيو څخه د کشمير حاکم هر کال دوه ويشت لکه روپۍ شاه ته ورکولې چې يوه برخه يې په جنسي ډول يعنې کشميري شالونه رالېږل.

د احمد شاه دراني د سلطنت په دوره کې د سند او پنجاب له سيمو څخه زيات عايدات د ماليې په نامه مرکزي حکومت ته راتلل. د لاهور او ملتان له صوبو څخه په کال کې ټولې پنځوس لکه روپۍ د ماليې په توګه ټولېدلې، يوازې د پنجاب شمال لوېديځو څلورو سيمو څخه احمد شاه دراني ته ۱۴ لکه روپۍ ماليات ورکول کېدل.

د احمد شاه دراني د واکمنۍ په دوره کې له ټولو هندي سيمو څخه له يوه کروړ نه زيات عايدات د ماليې په نامه راغونډېدل، خو برعکس د امپراتورۍ له لوېديځو ولايتونو څخه شاهی خزانې ته د ختيځو ولايتونو په نسبت لږ عايدات راتلل. د پېښور حاکم په کال کې ۱۱/۹۱ لکه روپۍ له دې ولايت څخه د ماليې په نوم ټولولې او شاهي خزانې ته يې ټولې ۲،۹۵

را استولې. جلال آباد له ۲ – ۴ لکو پورې، کابل له ۲،٦ څخه تر پنځو لکو پورې، غزني نږدې يو لک، غوربند ۵،٦ لکه، کلات يو لک، چاريکار او پنجشير يو لک، کندهار نږدې دوه لکه، فراه ۲،٦ لکه روپۍ، هرات څلور لکه، باميان او هزاره‌جات دواړو يوځای يو لک، خراسان او سيستان په کال کې نږدې څلوېښت لکه او بلخ پنځه لکه روپۍ دولت ته ماليه ورکوله.

له پورتنۍ محاسبې څخه په جوته څرګندېږي چې د دراني امپراتورۍ له لوېديځو ولايتونو څخه په کال کې ټولې ۵۰ لکه روپۍ ماليه ټولېده او شاهي مرکزي خزانې ته په کال کې له ۱۷ لکو روپيو څخه زياتې نه لېږل کېدې.[1]

احمد شاه د ارضي سياست په برخه کې له نادر افشار څخه پيروي وکړه او د دغه سياست څرګنده ځانګړتيا دا وه چې د «اقطاع» او «تيول» يعنې د جاګيردارۍ رسم او دود يې په رسميت وپېژند او له هغه يې ملاتړ وکړ. په دې ډول احمد شاه نه يوازې د نادر افشار اقتصادي سياست (فيوډالي اقتصاد) تاييد کړ، بلکې هغه يې پياوړی هم کړ او وروسته يې چې کابل، هرات، بلخ، پېښور، پنجاب او کشمير فتح کړل، زيات املاک يې د قبايلو او طايفو مشرانو ته وبښل.

د احمد شاه دراني د وخت ډېر مشهور تيولداران يا جاګيرداران عبارت وو له شاه ولي خان بامېزی، سردار جهانخان پوپلزی، عبدالله خان

۱ - ګانکوفسکي يو. و، د درانيانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور ګل محمد نورزی، دعلومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۱۲۷ - ۱۳۳مخونه.

پوپلزی، سردار دلاور خان اسحاقزی، کریمداد خان، سردار مراد خان پوپلزی، حاجي جمال خان بارکزی، سردار قلندر خان پوپلزی، حاجي دریا خان پوپلزی، بهادر خان اندړ او نور.[1]

د احمد شاه او د هغه د ځیناستو پر مهال ځمکې یوازې درانو او پښتنو مشرانو ته د ډالۍ په توګه ځانګړې شوې نه وې، بلکې نورو سیمه‌ییزو بانفوذه شخصیتونو د قزلباشو، تاجیکو، هزاره‌وو او ازبکو د طایفو او قبایلو مشرانو ته هم دغه ډول امتیازات ورکول کېدل.[2]

د احمد شاه او د هغه د ځیناستو پر مهال د زمینداری ډولونه عبارت وو له: خالصه (شاهي) املاک، دولتي املاک، تیول یا جاګیر املاک، اربابي املاک، کوچني بزګري املاک، وقفي یا موقوفات املاک، ګډ عمومي څړ ځایونو املاک چې په ټوله دراني امپراتوري کې موجود وو.

۱- شاهي یا خالصه املاک: دغه املاک په پاچا، ولیعهد او د سلطنتي کورنۍ په غړو پورې اړوند وو چې په معمولي توګه ډېر ښه او ډېر حاصل ورکوونکي املاک ګڼل کېدل.

۲- د جاګیر یا تیول املاک: احمد شاه بابا د قبایلو مشرانو او بانفوذه شخصیتونو ته د تیول او جاګیر د ورکړې رسم او رواج پاله او د هغوی په

---

۱ - اعظم سیستاني بارکزی، ظهور افغانستان معاصر و احمد شاه ابدالي، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦، ۳٦۹-۳٦۸ مخونه.

۲ - هماغه اثر، ۳۷۲مخ.

وسیله یې د امپراتورۍ په پراختیا او پیاوړتیا کې د دوی له نظامي ځواکونو ګټه اخیستله او هم یې شرعي احکام د افرادو خصوصي مالکیتونو په اړه په درنښت سره رعایت کول. پاچا د تیول او جاګیر ځمکې د فرمان په وسیله د قبایلو مشرانو او شخصیتونو ته د دې په خاطر ورکولې چې د دغو ځمکو له مالیاتو څخه خپل حقوق او مستمري معاش واخلي او نور پاتې یې د دولت خزانې ته ولېږي، خو تیولدارانو د تیول له ملاکینو څو برابره حقوق اخیستل او هېڅ دینار یې دولتي خزانې ته نه تحویلاوه، ټول هغه عواید یې د ځان او کورنیو د تجمل او خواهشاتو په لاره کې لګول.

۳- اربابي املاک: دغه املاک د اشرافو، ښاري ملاکانو، قبایلي خانانو او لویو روحانیونو په ملکیت کې وو او غالباً له مختلفو لارو، د پېرلو یا د غصب، زور، ګواښ او له نورو لارو یې په لاس راوړي وو.

۴- د کوچنیو بزګرانو املاک: دا د ملکیت یو بل شکل و، بزګري واړه واحدونه یا کوچني ملکیتونه وو.

۵- موقوفه املاک: دغه املاک په خپل وار کرنیزې ځمکې، باغونه او دښتې وې چې په هېواد کې جوماتونو، د اولیاوو زیارتونو، دیني مدرسو او نورو ته وقف شوې وې او د روحانیونو، متولیانو او اوقافو تر څارنې لاندې وې.

٦- مشترک املاک: دا په قبایلو او کلو پورې اړوند ملکیتونه وو چې زیاتره یې دښتې، څرځایونه او طبیعي ځنګلونه وو چې په ټولو خلکو پورې اړوند وو. که څه هم په ځینو سیمو کې زورواکو د هغوی د تر لاسه کولو په موخه اسناد جوړول او شرعي بڼه یې ورکوله. بزګران که څه هم په شرعي

او عرفي لحاظ آزاد ګڼل کېدل، خو په واقعیت کې په ځمکې پورې تړلي کسان ګڼل کېدل، مالکانو او روحانیونو ته په مالکانه، عشر، ذکات او خمس ورکړو باندې مکلف وو او د ژوند دغه دروند بار یې پر اوږو و.[1]

احمد شاه د خپل نوی سلطنت د یووالي او پیاوړتیا په موخه زیات سیاسي او اقتصادي اقدامات وکړل. هغه د خلکو د ملاتړ د جلبولو په خاطر له قبایلو سره د ښو اړیکو د ساتلو سیاست، روحانیونو او قومي مشرانو ته د درنښت او د افغاني ملي احساس، روحیې او ننګ پر بنسټ د مختلفو قبایلو سره د دوستۍ له لارې خپلې اړیکې ټینګې او غښتلې کړې. د اقتصادي پرمختیا او اتحاد لپاره یې خپله سکه ضرب کړه او هڅه یې وکړه چې خپل دولتي عواید او مالیات په منظم ډول راغونډ کړي. د منظم پوځ په جوړولو سره یې د قبایلو له لاسوهنو پرته دولتي نظام جوړ کړ او د توسعه طلبۍ سیاست یې په خپلو پوځي لښکرکشیو سره پلی او یو واحد افغان ملت یې منځته راوړ، هغه د سلطنت او د افغان او غیرافغان مختلفو قبایلو ترمنځ نوې او ټینګې اړیکې د نوو فتح شوو ځمکو په معقول وېش سره رامنځته کړې.

سره د دومره لویو بریو بیا هم احمد شاه ونه کولای شول چې د خپل سلطنت په قلمرو کې یو جامع او سیستماتیک فیوډالي جوړښت رامنځته کړي یا یو دوامدار چوکاټ د علایقو او دندو لپاره برقرار کړي، له دې امله چې د قبایلو له نفوذ پرته د خلکو ترمنځ یو ځواکمن خپلواک ښاري اقتصاد کمزوری او ناګارا و. هغه خپله ټوله هڅه وکړه او لوړ کارونه یې د کندهار

---

۱ - هماغه اثر، ۳۷۳-۳۷۵مخونه.

مدرن ښار جوړول، د کابل ښار بياجوړونه، د افغانستان په شمال تاشقرغان کې د وادنيو جوړول، د ډبرو او لرګو د تراشلو له حرفې ملاتړ، د پښتو ادبياتو حمايت او له هنده د فعالو فني کارګرانو راوستل وو.[1]

الفنستن ليکي چې د پاچا د عوايدو لويه منبع د ځمکو ماليات دي چې هغه د ټاکلو اندازو له مخې په حاصلاتو حواله کېږي او هغه د ځمک د ماهيت له مخې توپير کوي، په بېلابېلو ولايتونو کې مختلف وي؛ ځينې پښتانه قومونه او هغوی چې په لرو سيمو کې اوسي د مالياتو تر دغه ډول لاندې نه راځي، خو هر کال يو ټاکلي مبلغ د ماليې په ډول ورکوي.

د عوايدو نور منابع ښاري محصولات، ګمرکي محصولات، د سرکاري ځمکو محصولات، د جريمو محصولات، د ضراب خانې ګټې او ممکن يو څو نور واړه قلمونه وي. ځينې ځانګړې سيمې او قومونه چې لښکرې يې بايد برابرې کړې وای، د هغو پر ځای دولت ته پيسې ورکوي.[2]

د احمد شاه او د هغه د ځايناستو پر مهال د ځمکو ماليات په عمده ډول د درېيو کټګوريو يعنې سه يکه، پنج يکه او ده يکه په ډول مروج وو او دغه رسم د ځمکې د نوعيت او موقعيت په لحاظ د اوبو موجوديت او د نهرونو، کارېزونو، چينو او باران په وسيله د ځمکو د اوبو کولو د امکاناتو په پام کې نيولو سره يو له بله تفاوت کاوه او د دغو ځانګړتياوو پر بنسټ د

١ - وارتان ګريګوريان، ظهور افغانستان نوين، چاپ دوم، مترجم: علي عالمي کرماني، تهران: عرفان، ١٣٨٨، ٧٠ مخ.

٢ - مونټ سټوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بيان، دويم ټوک، ژباړن: محمد حسن کاکړ، د علومو اکاډمي، کابل: ګوندي مطبعه، ١٣٦١، ٢٢٦-٢٢٧ مخونه.

ځمکو مالیه درجه بندي کېده.

دویم دا چې د احمد شاه په قلمرو کې د مالیاتو راغونډول یوازې په دراني خانانو او مشرانو پورې اړوند نه وو او که چېرې داسې فرض کړو، شاید د درانیانو ټول مشران د دراني امپراتورۍ د ټولو سیمو څخه د مالیاتو د راغونډولو لپاره کافي نه وو. واقعیت دا دی چې په هر ولایت کې د «ثالثات» په نامه مالیاتي اداره موجوده وه، د هماغه ولایت حاکم یا والي د خپل قلمرو مالیات سیمه‌ییزو مخورو مشرانو ته په اجاره ورکوله. بیا دغو کسانو له خپلې خوا نور کسان د ځمکو د مالیاتو په راغونډولو گومارل. په طبیعي ډول په دغسې شرایطو کې یو څه پیسې یا یوه اندازه اضافه نغدي او جنسي مالیه د اصل مالیې څخه زیاته پر بزگرانو د سیورسات، پیشکشي او عوارضو په نامه حواله کېدله او دغه رسم د مغولو، تیموریانو، صفوریانو او بابریانو په دورو کې معمول و. د احمد شاه او تیمور شاه دراني پر مهال دغه رسم رعایت کېده.[1]

د دراني امپراتورۍ مختلفو سیمو مالیه او باج ورکاوه، د افغانستان ځینو قومونو او سیمو یا هېڅ مالیه نه ورکوله یا ډېره کمه وه. د احمد شاهي دولت لگښتونه زیاتره د فتوحاتو له غنایمو او باج څخه تمویل کېدل. له دې امله د افغانستان پر خلکو د زیاتو او درنو مالیاتو تحمیلولو ته اړتیا پیدا نه شوه او په پایله کې د حکومت او وگړو ترمنځ ضدیت زیات نه‌شو.[2]

---

۱ - اعظم سیستاني، ظهور افغانستان معاصر و احمد شاه ابدالي، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦، ۳۷۷-۳۷۸مخونه.

۲ - محمد حسن کاکړ، افغان و افغانستان، پوهنتون کابل، پوهنځی ادبیات، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۸۴ مخ.

# پنځم څپرکی

## ټولنيز او فرهنگي سياست

### الف – ټولنيز سياست

احمد شاه درانی د ۱۷۴۷م.کال د جولای مياشتې په شېرسرخ لويه جرگه کې چې په ټولنيز لحاظ يوه معتبره جرگه وه، پښتنو، بلوڅو، ازبکو، تاجيکو او هزاره‌وو په کې گډون کړی و، انتخاب شو. دی يو داسې پاچا و چې افغاني واکمني يې پراخه کړه، افغان ملت يې منځ ته راوړ او افغاني عقيدې او نظريې يې خپرې کړې. ده د افغانستان ټولو قبيلو او قبايلو ته يوشان کتل او بې‌سارې هڅه يې وکړه چې ټول سره نږدې کړی او هغوی يې د يوه متجانس وجود په توگه سره واوډل.

ده په همدې روحيه تل په آزادو او خپل سرو قبيلو له بريد کولو ډډه وکړه او دا به يې ويل چې دی هېڅکله هيله نه لري چې پر خپلو هېوادوالو کوم کړاو راولي. هغه په خپل دولت کې د افغانستان د ټولو وگړو گډون تامين کړ او د يوه مهربان واکمن په توگه يې بې دليله او بې احتياطه توره نه ايستله. ده هېڅ وخت دا ميل نه درلود چې حتا خپل سخت دښمنان مجازات کړي او تل يې رحم کاوه. ده د هرې گناه سره – سره د مجرمينو د پزې او غوږ پرېکول بند کړل، د مريی وژلو حق يې له خاوند څخه واخيست.

خپل مشر زوی یې د یاغي سردار، زال بیګ خان د وژلو له امله محکوم کړ.[1] احمد شاه د فرمان په وسیله حکم صادر کړ چې هر چا خپل مریی (غلام) وواژه د مریی بادار دې د قاتل په توګه قصاص شي.[2]

احمد شاه زیار وکېښ چې د افغانستان وګړي وپوهوي چې دوی سره ورونه، په ګډه، تاوان او د حکومت په چارو کې سره ګډ دي، له همدې امله یې په پلازمېنه کې د افغاني قومونو د مشرانو یوه تلپاتې جرګه جوړه او په ټولو ارزښتمنو هېوادنیو چارو کې یې له هغوی سره سلا او پوښتنه کوله.[3]

د احمد شاه د پنځه ویشت کلنې دورې په موده کې د دولت مرکزیت او عموي امنیت داسې کلک شوی و چې فیوډالانو او ملاکو د بزګرانو په وړاندې خپل مسؤلیت او د دولت په وړاندې خپل کړه وړه وپېژندل. ښاري منځنو طبقو، سوداګرو او کسبګرو هم د فعالیت نسبتاً آزاد ډګر وموند. دغه وضعیت د فیوډالي متمرکز سیستم دننه د دولت د ټینګېدو زمینه برابره کړه. له بلې خوا احمد شاه ډېر ځواکمن فیوډالان په پوځي او مسلکي چارو کې راګډ کړل او هغوی یې خوشحاله کړل او د موقوتو جرګو په ترڅ کې یې د هغوی نظریاتو ته غوږ ونیو، هغوی یې په جګړه‌ییزو سفرونو کې بوخت وساتل، له همدې امله له یو دوه ځله نور د هغوی له اړو دوړ او سرغړونې سره مخامخ نه شو.

---

۱ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ١٣٦٦، ۴۵۰ مخ.

۲ - ګانکوفسکي یو. و، د درانیانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور ګل محمد نورزی، دعلومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۴۳ مخ.

۳ - میر غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ۵۳ مخ.

احمد شاه قبايلي لوی فيوډالان له خپلو قبايلو لرې او په دربار کې ساتل او دې کار ته يې نه پرېښودل، چې په پلازمېنه کې وسله‌والې ډلې او لښکرې ولري. روحيانيون هم له احمد شاه څخه خوښ وو، دا ځکه چې احمد شاه هغوی ته درناوی درلود او ټول جوماتونه او محکمې د همدوی په واک کې وې. هغه ټول قوانين په کلکه رعايتول، هغه چې په خپله يې جوړ کړي وو. د خپلو هېوادوالو په وړاندې متواضع او نرم و، خپله کورنۍ او خپلوان يې د دولت په چارو کې له لاسوهنې او ګډون څخه لرې وساتل، هغه يوازې تيمور يعنې خپل وليعهد يې د جهان خان پوپلزي تر لارښوونې لاندې د هېواد په لوېديځو او ختيځو څنډو کې د سياسي او نظامي چارو په تمرين او مشق کولو کې بوخت پرېښود. له خپلوانو او کورنۍ څخه د ده لرې‌والې دومره زيات و چې تاريخ او خلک پرته له تيمور او سليمان څخه د هغه نور اولادونه پوره نه پېژني، حال دا چې اته زامن يې درلودل.

احمد شاه په سزا ورکولو کې د انسان د بدن د غړو پرې کول او په تشريفاتو کې يې خشوع او د ملا ټيټول هم تحريم کړل. هغه د دربار لګښتونه راکم کړل، پوځي او ملکي مامورينو ته يې پر وخت تکرار معاشونه ورکول. احمد شاه په اداره او حکومت کې د سياسي يووالي بنسټ کلک کړ او د دغې موخې د تر لاسه کولو لپاره يې د افغانستان په خلکو کې حقوقي مساوات په پام کې ونيول، د مذهب، ژبې، نژاد، سيمې او قبيلې ترمنځ يې هر ډول توپيرونه او تبعيض کم کړ، دی په عمل کې عادل و او باکفايته افغانان يې پرته له کوم تبعيض او پرته د ژبې، قوم او مذهب په

پام کې نیولو ځخه پر دولتي چارو وگومارل. د ده په دولت کې د هزاره‌وو، بیاتو، غلجو، کاکړو، افشارو، سیکانو، بلوڅو، سندیانو، قزلباشو، هندیانو لوړ چارواکي شامل وو.[1]

گندا سنگ لیکي چې احمد شاه په افغان ولس کې د خپلې خپلواکې روحیې ژوندي کولو سره د هغوی غرور اوچت کړ او هغه د کورنش غلام ډوله دود (د ځان ټیټولو او مځکې ښکلولو عادت) یې بند کړ چې چا به د ده سلام ته د راتگ پر مهال تر سره کاوه او امر یې وکړ چې د سلام لپاره یوازې تندي ته د لاس پورته کول بسنه کوي.[2]

آرنولد فلېچر ورته نظر لري او زیاتوي چې احمد شاه د تعظیم لپاره غلامانه ټیټېدنه چې په آسیا کې مانوسه وه، له منځه یووړه او پر ځای یې د لاس یو عادي سلام دود کړ. جنایي قانون یې آسانه کړ او شل او شوټ کول یې د یوې جزا په توگه منع کړل. دی د خپلو خلکو په برخه کې مهربان او خیر رسوونکی و، د مقام له غرور ځخه آزاد و او د یوه ډېر غریب له خوا ورسره تماس نیول کېدای شو.[3]

قاضی عطاءالله لیکي چې احمد شاه د حکومت د انتظام لپاره رسمي

---

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان د تاریخ په تگلوري کې، بشپړ لومړی او دویم ټوک، ژباړن:محمد بشیر دودیال، کابل: میوند د خپرندویې ټولنې مطبعه، ۱۳۹۳، ۴۱۷-۴۲۰ مخونه.

۲ - گندا سنگهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منگل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۴۵۴ مخ.

۳ - آرنولډ فلېچر، افغانستان د سوبې لویه لار، ژباړن: عبدالجبار نادر، د علومو اکاډمي، کابل: د پوهنې وزارت مطبعه، ۱۳٦۹، ۷٦مخ.

قوانین جوړ کړي وو؛ خلک، خپل ځای، وزیران او نور حکومتي چارواکي، خپل زامن او عزیزان یې د همدغو قوانینو ماتحت ګڼل او د هغوی په نافذولو کې یې د وېښته په څېر سستي او بې‌انصافي ډېر سخت جرم ګڼلو. له خلکو سره یې ښه سلوک کاوه او د خپلو وګړو له حال څخه خبر و، عدالت یې کاوه او د خلکو رضایت او مینه یې ګټلې وه.[1]

## ب – مذهبي سیاست

جارج فاسټر پخپله سفرنامه کې چې «A Tourney from Bengal to England» نومېږي، لیکلي دي:

«احمد شاه له مذهب سره ډېره مینه درلوده، خو متعصب نه و، د دغه وسیع النظره پاچا په قلمرو کې هندوان، عیسایان او یهودان خپل مذهبي دودونه په خورا آزادۍ سره تر سره کوي، د افغانستان سوداګري د هندوانو په لاس کې ده، هغه عیسویان چې نادر افشار د ایران له شمال څخه فراري کړل او اوس په کابل کې اوسي. هندوان، یهودان او عیسایان په افغانستان کې ډېر هوسا او خوندي ژوند لري.»[2] دغه راز ګانکوفسکي لیکي چې شرعي احکام یوازې پر مسلمانانو پلي کېدل. د هندوانو جزایي کارونه، د هندوانو قاضیانو له خوا فیصله کېدل.[3]

---

۱ - قاضي عطاءالله، د پښتنو تاریخ، لومړی ټوک، حربي پوهنتون، کابل: د ملي دفاع مطبعه، ۱۳۵٦، ۱۴٦ مخ.

۲ - عبدالشکور رشاد، د احمد شاهي عصر نومیالي، کندهار: علامه رشاد اکاډیمي، ۱۳۹۴، ۷۰-۷۱مخونه.

۳ - ګانکوفسکي یو. و، د درانیانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور ګل محمد نورزی، دعلومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۴۴-۴۵مخونه.

علامه حبيبي ليکي چې احمد شاه بابا يو متشرع، حنفي مذهبه، عالم او په ديني احکامو پابند باسواده سړی و. د ده په کلام کې د تصوف ښه ښه ښکاره ده او ځينې اخلاقي او وطني اشعار هم په کې شته. ده د خپل عصر دوو عارفانو؛ د جلال آباد د حصار شاه فقيرالله ته چې ښکارپور کې ښخ دی او د پېښور ميا محمد عمر ته (چې په ۱۱۹۰هـ. کې مړ دی) ارادت درلود او له ده څخه په تصوف او عرفان کې هم ځينې منثور کلمات او ملفوظات پاتې دي چې د پېښور قاضي ملا محمد غوث پر هغو باندې د «شرح الشرح» په نامه په فارسي ژبه شرح ليکلې وه.[۱]

که څه هم افغان هېواد زياتره له مسلمانانو څخه ډک دی، په کلو او باندېو کې هندوان او سکان نه ليدل کېږي، خو بيا هم په ښارونو او ښارګوټو کې يوه ښايسته اندازه هغوی تيت او پرک دي. جارج فورسټر چې په ۱۷۸۳م. کې د احمد شاه له مړينې څخه يوازې يوه لسيزه وروسته په افغانستان کې وګرځېد، وايي: «په ښارونو کې زياتره هندوان او د پنجاب ماهومتيان ژوند کوي.» همدغه مسافر ليکي: «په کندهار کې زياتره ملتاني او راجپوتي هندي کورنۍ مېشتې شوي دي. دوی د خپلې صنعتي او تجارتي پوهې په لرلو سره خپله سوداګري او شتمني پراخه کړې ده. د بخارا او سمرقند ترکمني تجاران او سوداګران په وار – وار دغه بازار ته راځي او له دغه ځايه خپل هېواد ته په زياته اندازه نيل لېږدوي. کندهار

۱ - عبدالحی حبيبي، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن: عبدالروف بينوا، دوهم چاپ، کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۹، ۴۱۸مخ.

ته هر کال د پاسني هند له بېلابېلو برخو څخه دغه ماده رارسېږي. د هغوی د سوداګرانو له خوا د زياتو هڅيو نيول چې په چلولو او لېږدولو کې يې آساني او هوساينه شته، په کندهار کې د دوی د آزادۍ او مصؤنيت او خونديتوب شهادت ورکوي.»

مذهبي حوصله د افغان ولس يوه غوره خاصه ده. که څه هم د خپل سلطنت په دوران کې احمد شاه او د ده سني هېوادوالو د خراسان د شيعهګانو او د هند د هندوانو او سکانو په خلاف عمل وکړ او غالباً يې د کفارو پر ضد له جهاد څخه د سيالانو د ځپلو لپاره د يوې سياسي وسلې په توګه کار واخيست، بيا هم ده په ندرت سره په دغه برخه کې مذهبي تعصب په افراطي حد په کار وړی دی. شاه هغه وخت چې له مراټيانو سره جګړې ته تياری نيوه، د ۱۱۷۳هـ. کال د شعبان په ديارلسمه (۱۷۶۰م.) د احمد خان بنګښ له ليدو وروسته د نغارې په وهلو سره دا اعلان کړه چې د «ولايت» يعنې د افغانستان له خلکو څخه هېڅ يو د هندوستان هندوانو يا مسلمانانو ته بايد مذهبي تعصب ونه ښيي او هم فاتحان (د شاه سربازان) نه بايد د کمزورو په مقابل کې د تيري، ظلم او ځورولو څخه کار واخلي، هېڅوک بايد دې ته مجبور نه شي چې د بل مذهبي او ټولنيز مراسم په زور ومني.»

شاه له مراټيانو سره د خبرو اترو لپاره هندو وکيلان (انندرام او کلراج) وګومارل او د کشمير او لاهور د واليانو په توګه يې په ترتيب سره هندو سکجيون او کابلی مال وټاکل.

هندوانو او سکانو دلته د تجارت د بشپړې خپلواکۍ او مصؤنیت تر څنګ د خپلو مذهبي عباداتو په برخه کې د تجارت پوره آزادي درلوده او د دوی په معابدو او ګوردوارو کې هېڅکله مداخله نه کېدله. ځینو هندوانو او سکانو له پېړیو راهیسې په افغانستان کې له کومې وېرې او بدبینۍ پرته د افغاني ګاونډیانو سره ژوند کړی دی. د دغې خبرې ستر ثبوت دا دی چې په ۱۹۴۷م.کال کې هغه وخت چې د پاکستان نوی ګاونډی دولت جوړ شو، په هغه کې هندوان او سکان د لیدل کېدو په صورت کې وژل کېدل او نرینه، ښځې او کوچیان په عامه توګه ووژل شول یا یې وربرول، خو دا شان غیرانساني چلند او پېښه هېڅکله په افغانستان کې ونه لیدل شوه.

د کابل له بالاحصار سره نږدې د ارمني عیسویانو او مهاجرینو یو ټاټوبی موجود و. دوی لومړی ځل د نادر شاه افشار له خوا د ترکیې په جنګي عملیاتو کې نیول شوي وو او په شمالي فارس کې یې مېشت کړي وو، خو احمد شاه بابا له دغه ځایه افغانستان ته راوستل. د فورسټر د ۱۷۸۳م.کال د بیان په اساس دوی په خپلو منځو کې ودونه کول او د عیسوي دین د مراسمو په اجرا کې هغوی ته بشپړه اجازه ورکړل شوې وه چې د خپل یوه ملي مذهبي مشر تر رهبرۍ یې سرته ورسوي. دوی د مرحوم (احمد شاه) په ګارد کې شامل وو او د ده په بېلابېلو پوځي عملیاتو کې یې حضور درلود.

د سنیانو په مقابل کې د پارس د شیعه‌ګانو د ژورو تعصبونو سره – سره احمد شاه چې پخپله سني و، له هغوی سره په لبراله توګه چلند وکړ.

فورسټر وايي: «شيعه‌ګانو زيات مذهبي تعصبات په ځان کې نغښتي وو او د مذهبي تعصب په اور کې سوځېدل او په نتيجه کې د سنيانو په نسبت د نورو مذهبي ډلو سره بې حوصلې وو. په پارس کې دوی يوه سني ته د دې اجازه نه ورکوله چې له دوی سره يوځای ډوډۍ وخوري او په عامه اصطلاح دوی پرته له کوم قهر او غضب څخه په هغه د کافر حکم کاوه... د خراسان په برخه کې چې د افغان امپراتور (احمد شاه) تر واک لاندې وه، پارسيانو پوره کورنۍ او مذهبي آزادی درلوده او په ندرت سره کېدلی شول چې يو چا په سپکه سترګه ورته کتلي وای.[1]

احمد شاه بابا د اسلامي علومو د ودې او پرمختيا په موخه په کندهار، پېښور او هرات کې لويې ديني مدرسې جوړې کړې او په دغو مدرسو کې به همېشه د وخت ديني علماوو پر مسايلو مجلسونه کول. د کندهار د زړی جامع مدرسه يې ډېره مشهوره وه، احمد شاه پخپله هم د هغې په غونډو کې برخه اخيستله.[2] په دراني امپراتورۍ کې روحانيونو د ټولنې ممتازه بڼه غوره کړه. دوی له دولتي مالياتو، عسکري خدمت او نورو ټولنيزو ستونزو څخه معاف وو او افغان ټولنې ته يې قاضيان تربيه کول، دولتي خيريه کارونه هم د دوی پر غاړه وو. سربېره پر دې د هېواد ټولې تعليمي موسسې د دوی له خوا اداره کېدلې. پاچا د روحانيونو ډېرو استازو ته ځمکې او

---

۱ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۴۵۷-۴۵۵ مخونه.

۲ - محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، کابل: د ميوند خپرندويې ټولنې مطبعه، ۱۳۸۹، ٢٦مخ.

مستمري معاشونه ورکول، د مثال په توګه، احمد شاه ملا سید حاجي ته د کونړ کلی په جاګیر کې ورکړ، خو دا هم باید هېر نه شي چې صوفي صابر شاه د احمد شاه په انتخاب کې لوی رول لوبولی و. ګانکوفسکي وړاندې زیاتوي چې احمد شاه هر وخت ډوډۍ ته عالمان او پوهان بلل، له دوی سره یې پر مذهبي او علمي موضوعاتو خبرې اترې کولې.[۱]

د احمد شاه د واکمنۍ پر مهال عدلي شرعي محکمې په مرکز او ولایتونو کې فعالې او خپلواکې وې او د دوی رهبري په مرکز کې د قاضي القضات او په ولایتونو کې د قاضیانو پر غاړه وه.[۲]

## ج – په احمد شاهي نظام کې د ښځو سیاسي او ټولنیز مقام

احمد شاه بابا چې په ۱۷۴۷م.کال کې د نادر افشار له مړینې وروسته د شېرسرخ په ملي او تاریخي جرګه کې د افغانستان د واکمن او پاچا په حیث انتخاب شو، نو تر ټولو مخکې یې د ملي یووالي، آزاد او خپلواک دولت بنسټ کېښود او په ډېره کمه موده کې یې د خپلو هېوادوالو په ملاتړ نه یوازې د افغانانو ملي یووالی، سیاسي حاکمیت او د خاورې تمامیت بشپړ او تامین کړ، بلکې د کندهار د هوتکیانو او د هرات د ابدالیانو د ملي آزادۍ بخښوونکو مبارزو او ملي حکومتونو د کړنلارې په دوام یې په غرب، شرق او شمال کې ټول ګاونډي استعمارګر قوتونه په ګونډو کړل.

۱ - ګانکوفسکي یو. و، د درانیانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور ګل محمد نورزی، دعلومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۴۵مخونه.

۲ - میر غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ٦۲مخ.

واقعیت دا دی چې احمد شاه بابا نه یوازې د معاصر افغانستان بنسټ ایښودونکی دی، بلکې هغه د افغانستان په تاریخ کې د افغانانو د ملي وحدت سمبول، سپېڅلی مسلمان او سوله خوښونکي، د تورې او سیاست اتل، ادیب، شاعر او مفکر پاچا و. د دې خبرې د ثبوت لپاره د المان د یوه تکړه سیاستمدار او تاریخ لیکونکي ف. انګلس بې طرفانه نقل قول وړاندې کوو: «احمد شاه ابدالي له خراسان څخه تر ډهلي پورې سیمه تر خپل فرمان لاندې ساتله، خو د سولې له روش څخه بې برخې نه و، دی یو شاعر او مؤرخ هم و.»[۱]

همدارنګه پوهاند عبدالحی حبیبي د احمد شاه بابا لوړو کارنامو ته د اشارې په ترڅ کې د هغه د ملي وحدت مفکوره داسې تعریفوي: «د احمد شاه بابا په لوړو کارنامو کې د افغانستان د خلکو «ملي وحدت» دی چې ده ټول ولس په یوه نامه سره راټول کړ او د هغو تفرقو او جرړو څخه چې د غلجي او دراني یا د پښتون او تاجک په منځ کې وې، وژغوره.»[۲]

احمد شاه بابا د افغانستان د آزاد او خپلواک دولت له بنسټ ایښودلو او د استعمارګرو قوتونو له شړلو وروسته سملاسي د هېواد دننه سیاسي، نظامي، اقتصادي او ټولنیز بدلونونه پیل کړل، چې د دغو بدلونونو په جریان کې د افغان ښځو په ګټه یو شمېر د یادولو وړ سیاسي او ټولنیز بدلونونه تر سره شول چې په افغان ټولنه کې یې د ښځو مقام لوړ او راڅرګند کړ. د احمد شاه بابا لومړی اقدام چې ښځو ته د احترام او درناوي

۱ - کارل مارکس او فردریک انګلس، پیرامون استعمار، اداره نشراتي پروګرس، مسکو، ۱۹۸۴م، ۸۴مخ.
۲ - علامه حبیبي، لوی احمد شاه بابا، کابل، ۱۳۱۹، ۲۸مخ.

له امله د قدر او ستاینې وړ دی او په ناموس ساتنه کې د هغه له عالي اخلاقو نه حکایت کوي، هماغه د نادر افشار د حرم ساتنه او په سلامتیا سره خپل وطن ته د هغوی رسول او د نادر افشار له مخالفینو څخه هغوی ته نجات ورکول وو.[1]

احمد شاه بابا د هغه درناوي له امله چې مور (زرغونه انا) او په مجموع کې یې ښځو ته درلود، د سلطنت په ټولو دولتي چارو کې یې د خپلې مور ګټورو مشورو ته غوږ کېده او د علم په ډګر کې یې ورڅخه ګټه کوله. د بېلګې په توګه، په ۱۱۷۴هـ.کال احمد شاه بابا د پښتنو مشرانو او د نورو ارکانو په مشوره د کندهار د نوي ښار د جوړولو نقشه طرحه او د ښار پر شاوخوا باید اووه دېوالونه او څو ژور خندقونه د دښمن حملې پر وړاندې جوړ شوی وای، مګر کله چې د احمد شاه بابا مور (زرغونه انا) خبرېږي، نو سملاسي احمد شاه کور ته غواړي او ورته وایي:

«زویه! دا خبره ټینګه په غوږ کې ونیسه چې پښتون هېڅکله د خاورو دېوالونو ته پناه نه وړي او نه په خندقونو ځان له غلیمه خوندي کوي، پښتون د خدای په مرسته او په خپلو وچو متو ځان او وطن ساتي. خوشې دېوالونه او خندقونه مه جوړوه.» هغه و چې احمد شاه بابا د خپلې مور زرغونې انا خبره ومنله او یوازې یوه معمولي کلا یې جوړه کړه.[2] د زرغونې

---

۱ - معصومه عصمتي، موقف و نقش زنان از اواخر قرن هژده الی اخیر قرن نزده، اکادمي علوم افغانستان، کابل، ۱۳٦۵، ۲-۳ مخونه.

۲ - عبدالروف بېنوا، پښتنې مېرمنې، کابل، ۱۳۲۳، ٦۵-٦٦ مخونه.

انا ځخه وروسته د احمد شاه بابا په دولتي او سیاسي چارو کې د هغه لومړۍ ښځې (نوم یې په تاریخ کې نه دی یاد شوی.) چې د تیمور شاه مور کېده، خورا ستر مقام درلود او د احمد شاه بابا د پاچا کېدو په لومړي کال یې په خپل ابتکار سره د هرات د حکومت چارې د تیمور شاه تر نامه لاندې پر خپله غاړه واخیستې او په ۱۱۶۰هـ. کې یې د یو کلن تیمور شاه په نامه سکه ووهله او احمد شاه بابا ته یې خبر ورکړ. احمد شاه بابا د دغه خبر په اورېدو سره خپل کشر زوی (تیمور شاه) د هرات د حکمران په حیث مقرر کړ. مګر اولیت او زیات واک یې د سلطنت په سیاسي چارو کې د تیمور شاه مور ته ورکړ او مهرونه یې (د امضا کولو په ځای) ورته جوړ کړل.[۱]

د ۱۷۵۳م. کال د نومبر په درېیمه د پنجاب د ګورنر میرمنو له مړینې وروسته د پنجاب د حکومت پر سر د حاکمانو ترمنځ سیالي او سازشونه جوړ شول او په ملک کې الې ګولې پیدا شوې. احمد شاه بابا د خپلو اصولو مطابق د ګورنرۍ دنده د میرمنو زوی محمد امین ته ورکړه. چون هغه نابالغ و، نو له دې امله احمد شاه بابا د هغه مور مغلاني بیګم د هغه ولیه مقرره کړه، خو د مغلاني بیګم په مقررۍ سره د پنجاب امیران ناراضي شول او له دغې ناخوالې ځخه په استفادې سره د ډهلي شاهنشاه د عماد الملک تر قوماندانۍ لاندې په پنجاب یرغل وکړ او د لاهور له نیولو وروسته یې مغلاني بیګم له قدرت ځخه لرې او بندي کړه. ولې احمد شاه بابا دا

۱ - عزیزالدین وکیلي پوپلزی، تیمور شاه درانی، جلد اول، طبع دوم، انجمن تاریخ، کابل، ۱۳۶۶، ۳۵ مخ؛ معصومه عصمتي، موقف و نقش زنان از اواخر قرن هژده الی اخیر قرن نزده، اکادمي علوم افغانستان، کابل، ۱۳۶۵، ۱۲-۱۳ مخونه.

ځل هم د مغلاني بیگم د ژغورنې په خاطر د ۱۷۵٦م. په نومبر کې له کندهاره پنجاب ته او له هغه ځایه نېغ په نېغه پر ډهلي ورغی او د میرمنو د کونډې (مغلاني بیگم) د بې‌عزتۍ د اعاده او د جنگ تاوان د ورکولو څخه د انکار په صورت کې یې ډهلي فتحه کړ.[1] د کهول په یوه مجله کې دا لاندې څرگندونې لولو:

مطابق سال ۱۱۷۲م. یعنې موقع جنگ مشهور پانی پت در حالیکه موفقیت نصیب احمد شاه بابا و لشکریان شان بود و شهرت احمد شاه بابا را دو چند ساخته بود، از جانب بعضی مخالفین چنین پروپاگند نظامی و سیاسی پخش میشود که گویا احمد شاه بابا و لښکریان شان شکست خورده است، حتا که این اوازه ها بگوش زرغونه انا نیز رسید. زرغونه انا در برابر این افواهات چنین گفت: «کامیابی و شکست بدست تقدیر می‌باشد، ولی احمد شاه جان خود را از دست میدهد ولی شکست رانمی پذیرد.»

این گفتار زرغونه انا به احمد شاه بابا نیز رسید و چنین حمایه معنوی مادری بر روحیه جنگجویی احمد شاه بابا تاثیر خوب نمود. چنانچه موفقیت و کامرانی نصیب لشکریان افغانی در هندوستان شد.[2]

هو! د پوهېدو وړ خبره ده چې احمد شاه بابا له خپلې مور سره څومره مینه درلوده او د هغې په مشوره، خبره او لارښوونو یې څومره عقیده درلوده

---

۱ - قاضي عطاءالله، د پښتنو تاریخ، لومړی ټوک، حربي پوهنتون، کابل: د ملي دفاع مطبعه، ۱۳۵٦، ۱۲۸ مخ.

۲ - مجله کهول، سال دوم، شماره پنجم، قوس و جدی، ۱۳۵٦، ۲۲-۲۳ مخونه.

او هم د هغې خبرې د ده لپاره په شخصي او ټولنيز ژوند کې څومره الهام بخښوونکې وې. د کندهار خلکو دا خبره پر ځای کړې ده، چې وايي: «مهذبه ښځه مهذب زامن زېږوي.»[1]

د احمد شاه دراني د سلطنت په وخت کې هغه بدلون چې د افغاني ټولنې په فرماسيون کې منځته راغی او قبيلوي ټولنې خپل ځای په تدريجي ډول فيوډالي ټولنې ته پرېښود او د ښځو ژوند هم بې‌تاثيره پاتې نه‌شو. د ارستو کراسۍ او اشرافيت په پيدا کولو او راڅرګنديدو سره منظم طبقات تشکيل او په اشرافو پورې مربوطې ښځې په کور کېناستلې او مخ پټې شوې او د جګو دېوالونو او محکمو کلاګانو په منځ کې چې د حرمسرای په نامه يادېدې، اسيرې شوې. دا طرز تر اوسه هم د افغانستان په کلو او بانډو کې موجود دی. په داسې حال کې چې د کلو د عادي اوسېدونکو، د پښتنو کوچيانو او نيمه کوچيانو، هزاره‌ګانو، ازبکو، تاجکو او د نورو قومونو ښځې په څلورو دېوالونو کې کلابندې نه وې، بلکې د يوه ستر ټيکري په سرولو سره چې د بدن زياته برخه يې پرې پټېده، له نرينه‌وو سره اوږه په اوږه په زراعتي، اوبو لګولو، شپنې کولو او په نورو توليدي چارو کې په کار لګيا او دا کار تر اوسه هم دوام لري.[2]

که څه هم د احمد شاه بابا د سلطنت په وخت کې د شاه او درباريانو

---

۱ - عزيز الدين وکيلي پوپلزی، درة الزمان فی تاريخ شاه زمان، کابل: مطبعه دولتي دارالسلطنه، ۱۳۳۷، ۳ مخ.

۲ - معصومه عصمتي، موقف و نقش زنان افغان از اواخر قرن هژده الی اخير قرن نزده، اکادمی علوم، کابل، ۱۳٦٥، ۳ مخ.

او د ټيټو طبقو د ښځو ترمنځ ښېلابېل توپيرونه موجود وو، خو احمد شاه بابا په عمومي ډول د ښځو په اړوند ډېر له درناوۍ ډک سياست درلود او په خپل سياسي او ټولنيز سياست کې يې د ښځو په ګټه د يادولو وړ کارونه سرته رسولي دي. د بېلګې په توګه، احمد شاه د ښځو موقف اوچت کړ. ده د طلاق نابرابر دود ته چې په هغو کې نر تر ښځې زيات امتيازات لرل، له منځه يووړ. ده په جدي توګه د کونډو په زور ودول منع کړل. د مېړه تر مړينې وروسته شاه وويل چې يوازې د کونډې نږدې خپلوان لکه پلار، زوی او سکه ورور کولی شي هغه واده کړي. که چېرې خپلوان يې نه وی، نو د خپل متوفي مېړه په کور کې بايد ژوند وکړي او د هغه په شتو سره د مرګ تر وخته واوسي. کله چې کومه واده شوې ښځه د کوم ماشوم له پيدا کېدو پرته مړه شي، د هغې پلار، ورور يا نور خپلوان د هغې له مېړه څخه ميراث غوښتی نه شي. سره د دې هم شاه وويل چې ميراث يوازې د زوی برخه ده او لوڼې ترې څه غوښتلی نه‌شي. تر دغه وخته لوڼو د پلار په جايداد کې برخه اخيستله او کله – کله به يې خپلو غيرافغاني مېړو ته له خپل پلار څخه برخه راشکوله.[1]

داسې برېښي چې احمد شاه بابا نه يوازې د شاهي حرمسرای ښځو ته، بلکې د نورو طبقو ښځو ته هم په دولتي چارو کې ځای او مقام ورکړی و. د مثال په ډول، د پټو چارو خدمتونه (استخبارات) يوازې په نرينه‌وو

---

۱ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۴۵۸ مخونه.

پورې محدود نه وو، بلکې مخبرې ښځې هم په کې شاملې وې. د ښځو برخه ډېره مهمه وه، ځکه چې زيات پټ خبرونه له هغو ځايونو څخه چې د پام نه لرې او پټ وو، د دې نمايندګۍ په واسطه تر لاسه کېدل.[1] احمد شاه بابا د هغه درناوی له امله چې ښځو ته يې درلود، نه يوازې د مملکت په چارو کې يې د دوی ګډون جايز ګاڼه، بلکې د ښځو لپاره يې القاب هم منظور کړل. د احمد شاه بابا په عصر او د هغه په کورنۍ کې القاب چې د کندهار او د افغانستان له اصولو او عنعناتو سره سموالی درلود، په رسميت پېژندل شوي دي. د شاهي کورنۍ او د دربار اوسېدونکو ښځو ته د شاه ککو، شاه ببو، شاه بي‌بي، شاه ادې، لويه ادې، خورې، بي‌بي خورې، اده-کو، بي‌بي کلان او داسې نور القاب مروج وو. علاوه پر دې القابو د عليا حضرت عليجاه ملکه، شاه بيګم، امير بيګم، وزير بيګم، شاه خانم، شازاده خانم، امير بي‌بي، آقا بي‌بي، سردار بي‌بي، القاب هم قيد شوي دي.

علاوه پر دې چې د حرم او د دربار ښځو په دولتي چارو کې د ګډون حق درلود، احمد شاه بابا د نورو ښځو، چې شجاعت او لياقت يې ښودلی، درناوی کړی او هغوی ته يې نوازش ورکړی دی. د هغوی له جملې څخه کولای شو د ميرمنو د ښځو (مغلاني بيګم) يادونه وکړو. دغه راز د مېرمن عينو شهامت ته د احمد شاه بابا د درناوي او وياړلو مساله د خپل قول د ثبوت په خاطر وړاندې کړو.[2] وايي چې د دې مېرې د احمد شاه په لښکرو

---

۱ - هماغه اثر، ۴۷۲ مخ.

۲ - معصومه عصمتي، موقف و نقش زنان افغان از اواخر قرن هژده الی اخیر قرن نزده، اکادمی علوم، کابل، ۱۳٦۵، ۲۸-۳۰ مخونه.

کې هند ته تللی و. د هند له فتحه کولو وروسته کندهار ته نږدې احمد شاه بابا خپلو پوځونو ته امر وکړ چې دلته تر سهاره دمه او استراحت وکړي او سبا ته په رڼا ورځ به د کندهار ښار ته ننوځو. د مېرمن عینو مېړه چې له جدایي او بېلتون څخه په تنګ راغلی و، تر سهاره یې حوصله ونه کړای شوه او د کور په طرف را روان شو. کله چې کور ته له نورو عسکرو جلا راغی او مېرمن عینو ولید، نو په وارخطایۍ یې ورڅخه وپوښتل، چې ته راغلې؟ غازي احمد شاه څه شو؟ ژر ووایه فتحه د چا په نصیب شوه؟ ځوان عسکر هغې ته ډاډه ورکړ او ورته یې وویل چې فتحه د غازي احمد شاه په نصیب شوه او د عسکرو د ځنډېدو جریان او د خپل راتګ عوامل یې ورته بیان کړل.

مېرمن عینو چې په رګونو کې یې د پښتنولۍ د وینو او غیرت څپې خورې شوې، په چیغو یې ورته وویل: «نورو نارینه‌وو د خپلو ښځو سره مینه نه درلوده، هغوی ارزو نه درلوده چې کور ته ژر راشي، ته څوک یې چې له احمد شاه غازي څخه هم مخکې کور ته راغلې، ای بې‌ننګه ژر بېرته ولاړ شوه، سبا ته د ګران پادشاه او د هغه له لښکرو سره یوځای راشه، تر څو زه د نورو ښځو په شان له تا څخه په خوشحالۍ سره هرکلی وکړم، ژر ولاړ شه او که چېرې د کلي ښځې تا ووینې، پوښتنه به وکړي او ما ته به پېغور راکړي. زما دیدن پر تا حرام دی.» ځوان پر خپله ګناه اعتراف وکړ او په اطاعت سره بېرته د احمد شاه بابا له لښکرو سره یوځای شو.

احمد شاه درانی چې له دې کیسې څخه خبر شو، نو ځوان یې وروغوښت او د واقعې جریان یې ورڅخه وپوښت. ځوان هغه څه چې

اوربدلي وو، ورته بیان کړل. احمد شاه بابا د مېړمن عینو دا لوړ شجاعت خوښ شو او د کندهار په ختیځ کې یې یو کاریز هغې ته وبخښه چې تر ننه پورې د عینو کاریز په نامه یادېږي.[1] دغه راز احمد شاه بابا د کلات د خان نصیر خان بلوچ مور بي‌بي مریم ته، چې د ده په پلوۍ یې په پوځي سوقیاتو کې فعاله برخه اخیستې وه، د مور خطاب وکړ. په دې هکله میا جان اپریدي داسې لیکلي: کله چې احمد شاه بابا د علي مراد خان سره پوځي مقابله پیل کړه، د کلات خان (نصیر خان بلوچ) له احمد شاه سره د مرستې په خاطر ۲۴ زره بلوچ جنګیالي د جګړې ډګر ته ولېږل او په هغوی کې د نصیر خان بلوچ مور بي‌بي مریم هم د جګړې میدان ته ولاړه او د احمد شاه بابا په ګټه یې جګړې ته دوام ورکړ، تر څو علي مراد خان په جګړه کې ووژل شو او بری د لوی احمد شاه په برخه شو. بي‌بي مریم چې په دې جګړه کې د احمد شاه په پلوۍ مېړانه ښودلې وه، ځکه پاچا د جګړې له ختمېدو وروسته د هغې احوال پوښتنې ته ورغې او دې ته د مور خطاب کوي.[2] احمد شاه بابا ښځو ته د سولې، دوستۍ او یووالي د عاملانو په نظر کتل او هغوی یې د دوو قبیلو او قومونو او بالاخره د کورنیو ترمنځ د وحدت، اتفاق او خپلوۍ مظهر ګڼلې، نو ځکه افغان شهنشاه د دغه مقصد د تامین لپاره د بېلابېلو قبایلو د مشرانو له لوڼو سره ودونه وکړل. خپل ځان ته او د خپلو زامنو لپاره یې د مختلفو قومونو له مشرانو، اشراف زادګانو او

---

۱ - عبدالروف بېنوا، پښتنې مېرمنې، کابل، ۱۳۲۳، ۷۲-۷۳ مخونه.

۲ - میاجان اپریدي، د خپلواکۍ ترون، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۱، ۱۳۱ مخ.

سردارانو ځخه او حتا په افغاني قلمرو کې دننه او له هغه ځخه خارج د اسلامي مذهبونو لرونکو مسلمانانو سره دوستۍ او ودونه وکړل او د خپل دولت عمده وزیران او اراکین یې هم دې عمل ته تشویق کړل.[1] د یادولو وړ خبره دا ده چې احمد شاه بابا نه یوازې په سیاسي او ټولنیز ژوند کې د ښځو مقام ته په درنه سترګه کتل، بلکې په خپل شخصي ژوند کې هم د دې سیاست پلوی و. احمد شاه بابا یو متدین سړی و، نو ځکه یې له څلورو ښځو ځخه له زیاتو سره نکاح ونه کړه، مګر کوښښ یې وکړ چې د قبایلو او د مشهور قومونو له مشرانو سره دوستي وکړي او له دغې لارې د دوستانو همکاري راجلب کړي.[2]

احمد شاه بابا نه یوازې د زیاتو ښځو له کړنې سره مخالف و، بلکې هغه د افغان ښځو له طلاق او پرېښودلو سره کلک مخالف و او د بشري کرامت او د عدالت له اصولو او موازینو پر ضد یې یو ناولی کار باله. په دې هکله قاضي عطاءالله داسې لیکي: «احمد شاه تقریباً پنځویشت کاله د پښتنو پادشاه و، د هغه ذاتي اخلاق نهایت پسندیده او ښه وو. کومې بدۍ او وران کارونه چې په دغه زمانه کې په اکثره سلاطین مشرقي کې بیاموندی شو، د هغو ټولو نه هغه صاف او پاک و. په پښتنو کې ښځو له د طلاق ورکولو رواج هغه ډېر بد ګڼلو».[3]

---

۱ - معصومه عصمتي، موقف و نقش زنان افغان از اواخر قرن هژده الی اخیر قرن نزده، اکادمی علوم، کابل، ۱۳٦۵، ۳۰ مخ.

۲ - هماغه اثر، ۱۳ مخ.

۳ - قاضي عطاءالله، د پښتنو تاریخ، لومړی ټوک، حربي پوهنتون، کابل: د ملي دفاع مطبعه، ۱۳۵٦، ۱۴۵ مخ.

يو بل ټکی هم د يادولو وړ دی او هغه دا چې نه يوازې د احمد شاه بابا د واکمنۍ په موده کې د ښځو درناوی کېده او لوړ سياسي او ټولنيز مقام يې درلود، بلکې په مجموع کې د درانيانو په منځ کې ښځو ډېر لوړ مقام درلود. د دې خبرې د ثبوت لپاره د ځينو مورخينو نظر دلته مثال راوړو، لکه محمد حيات خان ليکي: درانۍ ښځې هم ديندارې او لمونځ کوونکې دي. مېړونه له خپلو ښځو سره ډېر ښه چلند کوي او ځينې پوهې او وفادارې ښځې د خپل مېړه د کور ټول واک هم لري.[1] دغه راز الفنسټن ليکي: د دوی (د درانيو ښځو) مېړونه له دوی سره له مهربانۍ نه ډکه وضعه کوي او د ښځې لپاره دا دومره غيرعادي خبره نه ده چې په خپل مېړه غوره وي او حتا په کورنۍ کې دوی ته د سلا مشورې لپاره مراجعه کېږي.[2]

### د – فرهنګي سياست

احمد شاه بابا په داسې وخت کې واک ته ورسېده چې افغانستان تر دغه وخته خپل مادي او معنوي فرهنګ د جنګيزيانو، تيموريانو، شېبانيانو، صفويانو او بابريانو د تيري او جګړو په اور کې تر زياتې کچې له لاسه ورکړی و. احمد شاه بابا نه يوازې د افغانستان سياسي خپلواکي، ملي حاکميت او د خاورې تماميت بيا له سره احيا او تامين کړ، بلکې د افغانستان د لرغوني او ملي فرهنګ بيا ژوندي کولو، ودې او پرمختيا ته يې هم پاملرنه وکړه.

---

۱ - محمد حيات خان، حيات افغاني، لومړی ټوک، د سرحدونو چارو وزارت، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۷۰، ۲۲۲ مخ.

۲ - مونټ سټوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بيان، دويم ټوک، د علومو اکاډمي، کابل: ګوندي مطبعه، ۱۳۶۱، ۱۰۹ مخ.

د هغه د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د استقلالیت، یووالی او هېوادپالنې ملي او اسلامي فرهنګ وده او پرمختیا وکړه او په پایله کې د دراني امپراتورۍ په نامه یوه پیاوړې سیاسي، اقتصادي او فرهنګي واکمني رامنځته شوه چې بېلابېل فرهنګونه، دودونه، عقاید، ژبې، ادبیات او علوم یې په خپله پراخه لمن کې وپالل او ورزول. احمد شاه د یوه ادیب، شاعر، عالم او مؤرخ په توګه د هېواد له فرهنګي ودې او پرمختیا سره ژوره مینه وښودله، پوهان، دیني علماء، شاعران او لیکوالان یې په خپلې واکمنۍ کې ونازول او د افغاني او اسلامي فرهنګ بډاینې ته یې وهڅول، د تاریخ، شاهنامو، د علمي او ادبي آثارو لیکنې ته پاملرنه وشوه. هغه د یوه کلک مسلمان واکمن په توګه له دیني علماوو او روحانیونو سره ښې اړیکې وپاللې او هم یې هغه مهال په افغانستان کې نورو مذهبونو ته پوره آزادي ورکړه چې له خپلو عقایدو سره سم مذهبي عبادات سرته ورسوي.

که څه هم د احمد شاه بابا د واکمنۍ پر مهال د افغانستان معارف رسمي بڼه غوره نه کړه، خو د پخوا په څېر دیني او عنعنوي ښوونه او روزنه په دربار، جوماتونو، مدرسو او کورونو کې دود وه او په دې برخه کې احمد شاهي دولت خپلو مرستو او هڅو ته دوام ورکاوه. لنډه دا چې احمد شاه د یوه فرهنګیالي پاچا په توګه هغه مهال مهم فرهنګي سیاست درلود، چې موږ دغه سیاست د هغه د فرهنګي شخصیت له پېژندنې پیلوو:

## لومړی – د احمد شاه بابا فرهنګي شخصيت

افغان مؤرخين په يوه خوله دي چې احمد شاه بابا يو نوميالی شاعر او مؤرخ و او آثار به يې وروسته دروپېژندل شي. ختيځپوهان هم احمد شاه بابا د يوه شاعر او مؤرخ په توګه راپېژني چې دلته په لنډ ډول بحث ورباندې کوو:

جرمنی فيلسوف او سياستوال ښاغلی فريدريک انګلس د ۱۸۴۷م. کال په اګست کې د «افغانستان» تر سرليک لاندې مقاله کې ليکي: «احمد شاه ابدالي له خراسانه تر ډهلي پورې سيمه تر خپل فرمان لاندې ساتله؛ خو د سولې له روش بې‌برخې نه و، دی يو شاعر او مؤرخ هم و.»[1]

دغه راز انګريز ليکوال الفنسټن د احمد شاه بابا د سياسي وړتياوو تر څنګ د ده فرهنګي شخصيت ستايي او ليکي چې هغه يو مصنف او مؤرخ هم و.[2]

امريکايي ليکوال آرنولډ فلېچر ليکي چې احمد شاه ابدالي د خپلې سياسي او پوځي وړتيا تر څنګ د يوه شاعر او مؤرخ په توګه وړتيا درلوده او د پوهې د فلسفې او ادبياتو روزونکی و.[3]

روسي ليکوال ګانکوفسکي ليکي چې احمد شاه د پوهانو او عالمانو غونډې درلودې، په مذهبي او علمي موضوعاتو باندې غږېدل، د ادبياتو

---

۱ - فريدريک انګلس، پيرامون استعمار، مسکو: پروګرس نشراتي اداره، ۱۹۸۴، ۸۴ مخ.

۲ - مونټ سټوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بيان، دويم ټوک، ژباړن: محمد حسن کاکړ، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۶۱، ۲۶۷ مخ.

۳ - آرنولډ فلېچر، افغانستان د سوبې لويه لار، ژباړن: عبدالجبار نادر، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۴۱-۴۹ مخونه.

ملاتړ یې لومړیتوب و او حتا د دربار منشي محمودالحسیني ته یې د دربار د مؤرخ دنده وسپارله.[1]

هندي لیکوال ګنډا سنګ لیکي چې احمد شاه په مدرسه کې څه زده-کړې کړې وې، ځکه چې په پښتو او فارسي ژبو کې یې شعر ویلی او په دغه برخه کې یې ډېر استعداد درلود، اشعار یې د ژبې له مخې ساده او په جوړښت کې عنعنوي بریښي؛ خو د احساس له مخې هغه ډېر پاخه او فوق العاده دي، د ده د اشعارو یوه مجموعه په ۱۳۱۹ه.ق کال په کابل کې خپره شوې ده، چې سرلیک یې «لوی احمد شاه بابا» دی.[2]

د «دانشنامه ادب فارسي» په په دریم ټوک کې د احمد شاه بابا د فرهنګي شخصیت په اړه داسې راغلي دي:

احمد شاه بابا په خپله شعر وایه او دېوان یې ۲۵۰۰ بیتونه لري، په فارسي یې هم شعر ویلی او د پښتو په دېوان کې یې شپږ فارسي غزلې ثبت دي، په عربي یې هم ځینې نثري موضوعات کښلي او ملا محمد غوث په خپل اثر «شرخ الشرح» کې د هغوی شرحه په فارسي کړې ده.[3]

---

۱ - ګانکوفسکي یو. و، د درانیانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور ګل محمد نورزی، دعلومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۴۱-۴۹ مخونه.

۲ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۴۴۵- ۴۴٦مخونه.

۳ - دانشنامه ادب فارسی، به سرپرستي حسن انوشه، جلد سوم، تهران: سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامي، ۱۳۷۸، ۵۵مخ.

## د احمد شاه بابا آثار

۱) **پښتو دېوان**: دا د احمد شاه بابا يو په زړه‌پورې شعري اثر دی چې تقريباً درې زره بيتونه لري، لومړی وار په ۱۳۱۹هـ.ق کال د پوهاند عبدالحی حبيبي په مقدمه او تصحيح د «لوی احمد شاه بابا» په نامه په کابل کې پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی او دويم ځل په ۱۹٦۳م.کال د پېښور پښتو اکاډمۍ له خوا د «ديوان احمد شاه ابدالي» په نامه چاپ شوی او درېم ځل د ښاغلي محمد معصوم هوتک له خوا «د احمد شاه بابا ديوان» په نامه په کوټه کې چاپ شوی دی.

احمد شاه بابا د خپل پښتو ديوان په اړه داسې وايي:

کتاب ختم شـــو په دوشـــنبې
يارانو موږ خو و تاســـې دلې
پـه اخـر ورځ کـې د روژې
سنه هزار و صد شصت وسې

۲) **دري ديوان:** بهرنی پوه الفنسټن ليکلي دي: احمد شاه بابا په دري ژبه کې هم څه شعرونه لري.

د پېښور په چاپ ديوان کې يې هم غزلې شته؛ نو ځکه يو شمېر پوهان وايي چې دري ديوان يې هم درلود.

۳) **عربي اشعار**: له احمد شاه بابا نه يو څه عربي اشعار هم راپاتې دي چې ترجمه او شرحه يې په پارسي ژبې د هماغې زمانې نامتو عالم خانعلوم

ملا محمد غوث کړې ده.

**۴) علم گنج:** دا د احمد شاه بابا یو شمېر عرفاني او تصوفي مقولې دي، په دغې رسالې کې د احمد شاه بابا په ژوند خانعلوم ملا محمد غوث شرحه لیکلې ده، دغه شرحه د «شرح الشرح» په نامه یادېږي، درې سوه مخونه لري او یوه نسخه یې د کابل په خطي کتابتون کې خوندي ده.

**۵) جامع الفواید احمد شاهي:** نوموړې رساله په پاړسي ژبه د تصوف په باب کښل شوې ده، یوه نیمگړې خطي نسخه یې د تاجکستان د علومو اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې په څانگه کې خوندي ده.

**٦) د افغانستان تاریخ:** ښاغلی حافظ نور محمد کهگدای د کابل مجلې د څلورم کال د دویمې گڼې په ۵۰ مخ کې لیکلي دي چې احمد شاه بابا «د افغانستان تاریخ» په نامه په پښتو ژبه تاریخ هم لیکلی دی.

**۷) الفنامه:** دا په معنوي لحاظ یو خاص ډول نظم دی چې د نړۍ په څو ژبو او په ځانگړې توگه په شرقي ژبو کې ځانگړی دود و او شته. احمد شاه بابا هم د پخوانو شاعرانو په څېر دوې الفنامې کښلې دي چې یوه یې په خفیف بحر کې بوللې ده او د پېښور چاپ دیوان په ۱۹ مخونو کې ځای شوې ده.[۱]

**۸) نامه احمد شاه بابا:** احمد شاه بابا دغه لیک د پاني پت له تاریخي سوبې وروسته د عثماني دولت دریم سلطان مصطفی ته ولېږه. په دغه

---

۱ - د احمد شاه بابا دیوان غورچاڼ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، کابل، ۱۳۵۷، ۲۵-۲۰ مخونه.

ليک کې يې هغه ته څرګنده کړه چې د افغان جليل قوم ۲۹ کسانو پر هندوستان پاچاهي کړې او زه د مسلمانانو په غوښتنه هندوستان ته ولاړم، کفار مې وځپل او مسلمانان مې د هغوی له ظلمه وژغول.

بې له شکه احمد شاه بابا يواځې د تورې او سياست د ډګر اتل نه و، بلکې په علم او قلم کې يې هم له ډېرو څخه ميدان وړی و، لکه د خپلو آثارو په اړه وايي:

وصــــف د يـار بـه تمـام نـه وي
احــمـد جـوړ کـړه کـتـابـونـه[1]

**دويم – د احمد شاه بابا فرهنګي خدمتونه**

احمد شاه بابا په داسې وخت د افغانستان پاچا شو چې افغانستان د چنګېزيانو او تيموريانو د دوو پېړيو له وحشت نه ډکه دوره او د صفويانو، شېبانيانو او بابريانو ترمنځ د ۲۵۰ کلونو سياسي تجزيه زغملې وه او د افغانستان تمدن او فرهنګ پوپنا شوی و، د خاورې تماميت او سياسي استقلال يې له لاسه ورکړی و.

خو احمد شاه بابا وکولی شول چې د ميرويس نيکه له خوا د افغانستان د بياجوړولو نقشه په خپلو نه ستړې کېدونکو هلو ځلو بشپړه کړي، هغه نه يوازې د افغانستان استقلال او د خاورې تماميت تامين کړ، بلکې له خپلو

---

۱ - خانعلوم، د احمد شاه بابا د اشعارو شرح، د پوهاند رشاد په سريزه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵٦، سريزه، ۱٦ مخ.

زیاتو سیاسي او پوځي بوختیاوو سره – سره یې د نوي تمدن او فرهنګ بنسټ اېښودلو ته پاملرنه وکړه.

احمد شاه بابا د خپلې واکمنۍ پر نهم کال د اوسني کندهار ښار بنسټ کېښود چې په اشرف البلاد احمد شاهي کندهار یې شهرت پیدا کړ. په ١١٦٩هـ.ق کال کې د دې ښار د جوړولو هدف د امپراتورۍ د مناسبې پلازمېنې او نوي تمدن او فرهنګ د ودې او پراختیا لپاره د ښو شرایطو برابرول وو.[1]

د غبار په وینا: د احمد شاهي جومات، د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د سپېڅلې خرقې مبارکې او د احمد شاه قبر ودانۍ یې په شاهي بڼ کې جوړې کړې، چې تر ټولو ښکلې ودانۍ وې. احمد شاه بابا دغه راز د کابل بالاحصار پر شاوخوا دېوال راچاپېر کړ او د شاه شهید په نامه (شاه اسحاق ختلاني) زیارت ودانۍ یې ترمیم کړه او د اوسني تاشقرغان او د حیدرآباد د ښارونو بنسټ یې کېښود او هم یې د افغاني حاجیانو لپاره په مکه معظمه کې د استوګنې ودانۍ جوړه کړه.[2]

د احمد شاه دراني په دوره کې د افغانستان پایتخت کندهار و چې رسمي نوم یې احمد شاهي و، په ١٧٦١م. کال یې د جوړولو کار پیل شو او دغه ښار په شپږو کلونو کې جوړ شو. احمد شاه د کندهار نوي ښار ته د ارغنداب له سینده دوې د اوبو ویالې راتېرې کړې، دغه دوې ویالې د ښار په وړو لښتیو

---

١ - محمد معصوم هوتک، احمد شاهي کندهار، کندهار: رشاد خپرندویه ټولنه، ١٣٨٣، ١٢ مخ.

٢ - میر غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، پېښور: دانش کتابخانه، ١٣٧٧، ٩٢ مخ.

وېشل شوي وې او کابو د ښار ټولو کوڅو ته اوبه رسېدې. د دراني امپراتورۍ په لومړيو لسو کلونو کې د ښارونو د پرمختګ لپاره زيات امکانات برابرل شول؛ دا ځکه چې ښارونه د سوداګرۍ او صنعت مهم مرکزونه وو.[1]

احمد شاه بابا چې له تاريخي آثارو او ویاړونو سره مينه درلوده او د هغوی په ارزښت پوهېده، نو ځکه يې په ۱۷۵۴م.کال د کندهار په ښار کې «بيت الاشرف» په نامه د يوه موزيم بنسټ کېښود. همدا راز احمد شاه د خپل سلطنت په دوران کې دري غټې مدرسې په هرات، کندهار او پېښور کې جوړې کړې او ده په خپله د کندهار مدرسې په درسونو کې برخه واخيسته.[2]

روحانيون له احمد شاه بابا څخه خوښ وو؛ ځکه چې احمد شاه هغوی ته درناوی کاوه او ټول جوماتونه او محکمې د همدوی په واک کې وې، هغه په سزا ورکولو کې د انسان د بدن د غړو پرې کول منع کړل او په تشريفاتو کې يې د ملا ټيټول هم تحريم کړل. احمد شاه بابا د افغانستان په اداره کې د سياسي يووالي بنسټ کلک کړ او دغې موخې ته د رسېدو لپاره يې د افغانستان د خلکو ترمنځ حقوقي مساوات په پام کې ونيول او د مذهب، ژبې، نژاد، سيمې او قبيلې ترمنځ توپيرونه يې راکم کړل.

په دولتي چارو کې يې د هر دين او قوم پيروان ګډ کړل. احمد شاه په ۱۷۶۱م.کال د کندهار اوسنی ښار د افغانستان د پلازمېنې په توګه جوړ

---

۱ - ګانکوفسکي يو. و، د درانيانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور ګل محمد نورزی، دعلومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۵۲-۵۹ مخونه.

۲ - عبدالعزيز منيب، تاريخ معاصر افغانستان، چاپ پنجم، انتشارات محمدي، کابل، ۱۳۹٦، ٦۲مخ.

کړ چې په هغه کې د ده خپل زيارت د افغانستان د هغه مهال د معمارۍ يوه بشپړه بېلگه ده.[1]

ښارونو وده وکړه، جوماتونه او مدرسې په ښارونو کې بيا د لرغونو علومو په تدريس بوختې شوې؛ خو فرهنگ د خپل بيا ژوندي کېدو په ترڅ کې يوازې هماغه د کړکېچ د دوران يو يادگار و.[2]

اعليحضرت احمد شاه بابا چې د نوي افغانستان مؤسس و، د زړه له کومې يې غوښتل چې د افغان شيعه‌گانو لپاره د خپل پوځ په اډانه کې د چنداولانو يوه پوځـي قطعه او د هغوی قومندان يې د چنداول باشي په نامه منظور کړل؛ ولي محمد خان دلطف علي بيگ جوانشېر زوی چې احمد شاهي دولت ته يو له صادقو او خدمتگارو کسانو څخه و او د کابل بالاحصار په شا کې له خپلو قوميانو سره اوسېده، د دې قطعې قومندان وټاکل شو. د دوی د اوسېدو ځای هم د چنداول د ناحيې په نامه د احمد شاه له خوا د يوه فرمان په صادرولو سره ونومول شو.[3]

د احمد شاه بابا د واکمنۍ پر مهال عصري معارف له بده‌مرغه رامنځته نه شو او د پخوا په څېر عنعنوي ښوونې او روزنې په کورونو، جوماتونو، مدرسو او دربار کې جريان درلود. د احمد شاه بابا او د هغه د اولادونو د

---

۱ - مير غلام محمد غبار، افغانستان د تاريخ په تگلوري کې، ژباړن:محمد بشير دوديال، کابل: ميوند د خپرندويې ټولنې مطبعه، ۱۳۹۳، ۴۱۸-۴۲۱مخونه.

۲ - هماغه اثر، ۴۸۰ مخ.

۳ - عزيزالدين وکيلي پوپلزی، فرهنگ کابل باستان، جلد اول، وزارت اطلاعات و فرهنگ، کابل: مطبعه طباعتي و صنعتي احمد، ۱۳۸۷، ۲۰۰-۲۰۲مخونه.

واکمنۍ پر مهال معقول او منقول علوم دود وو او په هغوی کې ديني علوم، لکه حديث، فقه، تفسير، فلسفه، تصوف، تاريخ، نجوم، طب او ادبي علوم؛ لکه نظم او نثر او نور موضوعات شامل وو.[1]

احمد شاه بابا که څه هم عصري معارف رامنځته نه کړ، خو خپل هېوادوال يې د شعر په ژبه د علم او پوهې زده کړې ته راوبلل او دوی ته په خطاب کې داسې وايي:

علم ګوره څـه څرګنـده لوی دريـاب دی
بيـا هم دُر رابهېـدلی پـه څو بـاب دی
دا د علم دريـاب هر چېرې محيط دی
علم زده کړه چې د علم لوړ جنـاب دی

روحانيونو د افغاني ښوونځي قاضيان تربيه کول، دولتي خيريه کارونه هم د دوی په غاړه وو او سربېره پر دې يې د هېواد ښوونې تعليمي مؤسسې اداره کولې، دولت دوی ته ځمکې او مستمري معاشونه ورکول.[2]

احمد شاه هر وخت ډوډۍ ته عالمان او پوهان رابلل، له دوی سره يې پر مذهبي او علمي موضوعاتو خبرې کولې، د رسم او رواج له مخې د دولت رئيس بايد د ادبياتو ملاتړ کړی وای. په ۱۷۶۲م.کال کې احمد شاه دراني نظام الدين سيالکوټي ته په همدې وجه جايګير ورکړ او هم يې په کشمير

۱ - نگاهی بر نقش فرهنگي افغانستان در عهد اسلامي، وزارت اطلاعات و کلتور، مديريت سالنامه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۵، ۱۲۷ مخ.
۲- هماغه اثر، ۴۵ مخ.

کې د قضايي چارو آمر (مين) وټاکه، نظام الدين سيالکوټی يو له هغو شاعرانو څخه و چې د احمد شاه لوی کارونه يې په شعر کې بيان کړل او شهنامه يې ورته ترتيب کړه.[1]

احمد شاه درانی يو ديندار او مذهبي شخصيت و، له علماوو، منورينو او له روحانيونو سره يې مينه درلوده، ټول لويان او لوړ رتبه مامورين به د ده په حضور کې په درنښت ولاړ وو، سيدانو او ملايانو ته د ناستې اجازه ورکړل شوې وه، علما، فقرا او ديندار ملنگان يې د شپې وربلل او له هغوی سره يې د علومو او مذهبي مسايلو په اړه بحث کاوه.[2]

د لوی احمد شاه بابا که په يو لاس کې توره وه، په بل لاس کې يې قلم و، څومره چې ده د تورو د خاوندانو قدر کاوه، د قلم د خاوندانو قدر تر هغو کم نه و، د ده په دربار کې به د قلم خاوندان، ملايان او بزرگان د پاچا ښي لاس ته کېناستل او د تورې خاوندان به کيڼ لاس ته.[3]

د احمد شاه بابا د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د فرهنگي وضعې يو څرگنده ځانگړتيا دا ده چې د احمد شاه په لارښوونه افغان تاريخ ليکنه پيل شوه، په دې اړه د «تاريخ نويسي در افغانستان» کتاب ليکوال ليکي

---

۱ - گانکوفسکي يو. و، د درانيانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور گل محمد نورزی، دعلومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۴۹-۵۰ مخونه.

۲ - گندا سنگهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منگل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۶٦، ۴۱ مخونه.

۳ - عبدالشکور رشاد، د پاني پت قهرمان لوی احمد شاه بابا د خلکو په نظر کې، د علومو اکاډمي، کابل: د پوهنې وزارت مطبعه، ۱۳۷۰، ۵مخ.

چې احمد شاه د شیراز له حاکم محقق محمد تقي خان شیرازي سره چې د ده له نږدې همکارانو څخه و، د افغانستان د تاریخ لیکنې موضوع شریکه کړه او له ده یې وغوښتل چې یو داسې منشي پیدا کړي چې د ده د زمانې تاریخ او د حوادثو بیان په وضاحت او روښتیا سره ولیکي، محمد تقي خان یو مطلوب تاریخ لیکونکی ژر پیدا نه کړای شو، خو کله چې په ۱۷۵۳م. کال د احمد شاه لښکرو مشهد ونیو، نوموړي د یوه پخواني دوست محمود الحسیني بن ابراهیم الجامي په اړه پاچا ته خبر ورکړ او احمد شاه ته یې د هغه په اړه وویل:

دی یو ازمویل شوی منشي دی او د مهدي خان د تاریخ لیکنې له سبک سره اشنا دی او د هغه له شاگردانو څخه دی. محمود الحسیني مخکې له دې چې د احمد شاه خدمت پیل کړي، یوه ځانگړې ازموینه ترې واخیستل شوه او ده ته وویل شول چې یو څه ولیکي او د پاچا او د ده د دربار د پوهانو هر یو: ملا شریف، ملا ادریس خان دولت شاهي، د دراني حکومت د شیخ الاسلام او نورو په وړاندې یې ولولي، ازموینه په بري سره تېره شوه او محمود الحسیني د دربار منشي شو.[1]

محمود الحسیني شل کاله د احمد شاه په پوځي سوقیاتو کې برخه‌وال و او ټولو دولتي او رسمي اسنادو ته یې لاسرسی درلود او په تاریخ کې یو جامع اثر د «تاریخ احمد شاهي» په نامه په فارسي ژبه ولیکه چې احمد

---

۱ - شاه محمود محمود، تاریخ نویسي در افغانستان، پوهنتو کابل، پوهنځي علوم اجتماعي، شعبه تاریخ عمومي، کابل، ۱۳۷۷، ۳۴۴مخ.

شاه بابا د واکمنۍ (۱۷۴۷-۱۷۷۲م.) د هر کال پېښې په جلا – جلا توګه په کې کښل شوې دي.

محمودالحسيني د «تاريخ احمد شاهي» په سريزه کې د کتاب څېړلي موضوعات په لنډ ډول بيانوي چې:

- د نادر د فعاليتونو لنډ ګزارش، د وفات کيسه او د هغه د ځايناستي حکومت.
- د پارس د مشرانو ترمنځ مخالفتونه، د خراسان بې سر او ساماني، د شاهرخ شاه او ميرعالم خان عروج او سقوط.
- د احمد شاه دراني نسب، واک ته رسېدل او د ده د واکمنۍ پر مهال پېښې.
- د احمد شاه په قلمرو کې د شمالي افغانستان او شمالي هند او د پارس پېښې.

د «تاريخ احمد شاهي» اهميت په دې کې دی چې په افغانستان کې ليکل شوی او د اتلسمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې د افغانستان د تاريخ په اړه يو مهم او په زړه پوې مأخذ ګڼل کېږي.[1]

همدا راز احمد شاه بابا په **۱۷۵۳**م.کال د مشهد د سوبې پر مهال نه يوازې د «احمد شاهي تاريخ» ليکلوال محمودالحسيني په لار راوړ، بلکې د خوشحال خان خټک کليات د افغانستان علماوو او فضلاوو له خوا ورته ډالۍ

۱ - هماغه اثر، ۳۴۵-۳۴۷مخونه.

شو. افغان شاهنشاه دا ادبي، تاریخي او حماسي اثر د خپل دفتر د مسؤل خرم خان په جمع کې قید او د کندهار دولتي کتابتون ته یې وسپاره. د انګرېزانو د یرغل پر مهال دغه خطي کتاب د استعمارګرو په لاس ورغی او اوس د انګلستان د کېمرج په پوهنتون کې په ٨٦٦ شمېره ساتل کېږي.[١]

احمد شاه بابا دغه راز یو بل همعصر شاعر حافظ ګل محمد مرغزي ته دنده وسپارله چې د ده د سلطنت په اړه یو کتاب ولیکي، هماغه و چې حافظ مرغزي «احمد شاهي شهنامه» په ١١٧٦هـ.ق/ ١٧٦٣م. کې وکښله او دا شهنامه د احمد شاه بابا د دور (١٧٤٧-١٧٧٢م.) یو منظوم تاریخ دی.[٢]

همدارنګه احمد شاه بابا نظام الدین عشرت سیالیکوټي ته چې کابل ته ورسره راغلی و، لارښوونه وکړه چې د ده د سلطنت په باب یو کتاب ولیکي، لکه چې شاعر په خپله وایي: «احمد شاه له توصیې سره سم یې دغه شهنامه وکښله، دغه مشهور اثر د «شهنامه احمدیه» په نامه احمد شاه دراني ته ډالۍ شو.»

د شاهنامه نادري (نادر نامه) شعرونو احمد شاه بابا ډېر تر اغېز لاندې راوستی و، نو ځکه یې له نظام الدین څخه غوښتنه وکړه چې د ده سلطنت بیان کړي، هره شپه یې شاعر دربار ته غوښت او د ده له اشعارو یې ګټه

١ - عزیزالدین وکیلي پوپلزی، فرهنګ کابل باستان، جلد اول، وزارت اطلاعات و فرهنګ، کابل: مطبعه طباعتي و صنعتي احمد، ١٣٨٧، ٢٣٤-٢٣٥ مخونه.

٢ - حافظ ګل محمد مرغزی، احمد شاهي شهنامه، پېژندنه او تعلیقات د علامه رشاد، کندهار: علامه رشاد اکاډمي، ١٣٨٧، الف، ب، ج، ۵ مخونه.

اخیسته، نظام الدین وغوښتل چې نوموړی اثر په خپل وطن کې بشپړ کړي، هماغه و چې احمد شاه د دارالانشا مسؤل مېرزا محمود ته لارښوونه وکړه چې ټول اړین مدارک او اسناد د ده په واک کې ورکړي. نوموړی له لازمو اسنادو او مدارکو سره سیالکوټ ته ستون شو او هلته یې «شاهنامه احمدیه» په ٦١۴ مخونو کې ولیکله.[۱]

وکیلي پوپلزي د «شاهنامه احمدیه» د لیکوال نظام الدین سیالکوټي په اړه لیکي چې نوموړی د چناب سیند پر غاړه د احمد شاه بابا حضور ته ورغی او ځان یې د یوه عالم، شاعر او لیکوال په توګه ور وپېژنده او د احمد شاه بابا له خوا په ډېر درنښت ومنل شو او د ۱۱۷۰هـ.ق کال د جوزا ۱۷۵۷م. په میاشت کې کابل ته ورسره راغی او تر ۱۱۷۲هـ.ق کال پورې په کابل کې واوسېده.

نظام الدین په ۱۱٦۲هـ.ق کال کې «نادر نامه» نظم کړې وه او دغه مهال یې د احمد شاه په حضور کې ولوسته او په دې ډول یې د تاریخ په لیکلو کې خپل لیاقت، استعداد او وړتیا پاچا ته وښوده او هم یې له افغان پاچا څخه هیله وکړه چې ده ته اجازه ورکړي د ده د سلطنت تاریخ د «شاهنامه احمدیه» تر سرلیک لاندې نظم کړي.

اعلیحضرت احمد شاه بابا د ده هیله ومنله او د دربار منشي او مؤرخ محمودالحسیني ته یې لارښوونه وکړه چې په کندهار او کابل کې د پېښو

۱ - شاه محمود محمود، تاریخ نویسي در افغانستان، پوهنتو کابل، پوهنځي علوم اجتماعي، شعبه تاریخ عمومي، کابل، ۱۳۷۷، ۳٦۰-۳٦۱مخونه.

ليکنو په دفترونو کې اسناد نظام الدين سيالکوټي ته وسپاري، چې له هغه نه په ګټې اخيستنې سره د پېښو بيان ثبت کړي.

محمودالحسيني د سوبو مسودې او د حالاتو او واقعاتو اړوند اسناد نومړي شاعر او مؤرخ ته په واک کې ورکړل. دغه راز مير عبدالهادي موسوي لاري منشي باشي د شهزاده تيمور شاه د حضور وقايع نګار هم د شهزاده د دربار يادښتونه او مسودې ورکړې، نظام الدين سيالکوټي د دغو اسنادو پر بنسټ په ۱۱۸٦هـ.ق کال کې چې د احمد شاه بابا د وفات کال (۱۷۷۲م.) کېږي، د «شاهنامه احمديه» منظوم تاريخ په ٦۱۴ مخونو کې وکاږه، د دراني اصيل تاريخ هماغه فرمانونه، سکې، قبالې او کتابونه وو چې نظام الدين په خپله منظومه کې ورنه ګټه واخيسته.

پوپلزی زياتوي چې د نظام الدين لومړنی لقب «عشرت» و چې د خوشحاله ژوند او خوشدلۍ په معنا دی، خو وروسته يې دغه لقب په «عشاري» (د شعري صفت نوم دی) له دې امله واړاوه چې د مير عبدالهادي خان موسوي منشي باشي د شهزاده تيمور شاه د دربار وقايع نګار تخلص هم عشرت و چې د دواړو ترمنځ توپير وشي.[۱]

ګنډا سنګ په خپل اثر «درانی احمد شاه» کې ليکي چې د نظام الدين «شاهنامه احمديه» د احمد شاه د سلطنت يوه په زړه پورې شعري شرحه ده چې په ۱۷۷۲م. کال کې يې بشپړه کړې ده، نظام الدين د احمد شاه

۱ - عزيزالدين وکيلي پوپلزی، فرهنګ کابل باستان، جلد اول، وزارت اطلاعات و فرهنګ، کابل: مطبعه طباعتي و صنعتي احمد، ۱۳۸۷، ۲۳۱-۲۳۴ مخونه.

په غوښتنه دغه شاهنامه په فارسي ژبه وکښله او د شاه په لارښوونه د دربار مؤرخ محمودالحسیني ده ته د لیکلو لپاره مواد او مدارک هم ورکړل.[1]

احمد شاه بابا د مجرمینو د هر ډول گناه په مقابل کې د پزې او غوږ پرې کول بند کړل او د مریی د وژلو حق یې د هغه له باداره واخیسته. دغه راز ده افغاني فرهنگ ته په کتو سره غلام ډوله دود چې یو بل ته به په ملا تیتېدل او ځمکه به یې ښکوله، یو ناوړه دود په توگه له منځه یووړ او امر یې وکړ چې د سلام لپاره دې یوازې په تندي لاس کېښودل شي.

احمد شاه بابا د افغانستان ټولو مذهبونو ته د عباداتو په برخه کې پوره آزادي ورکړه او لارښوونه یې وکړه چې هېڅوک باید مجبور نه شي چې د بل مذهب مراسم او اصول په زوره ورباندې ومنل شي.[2]

احمد شاه بابا د خپلې واکمنۍ پر مهال د طلاق نابرابره دود چې په هغه کې نرینه تر ښځې زیات امتیازات لرل، له منځه یووړ، ده په جدي توگه د کونډو ودول منع کړل، یوازې د کونډې نږدې خپلوان، لکه پلار، زوی او سکه ورور کولی شول، هغه واده کړي.[3]

## ا حمد شاه بابا د عصر لیکوال، پوهان او شاعران

د احمد شاه بابا په دوره او عصر کې ډېر زیات عالمان، پوهان او شاعران تېر شوي، موږ یې ځینې مهم او پېژندل شوي دلته په لنډه توگه درپېژنو:

---

۱ - گندا سنگهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منگل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۲۴۷مخ.

۲ - هماغه اثر، ۴۵، ۴۵۴-۴۵۷مخونه.

۳ - هماغه اثر، ۴۵۸ مخ.

محمودالحسیني د احمد شاهي دربار منشي او مؤرخ و، د «تاریخ احمد شاهي» کتاب لیکوال و. حافظ ګل محمد مرغزي په پښتو ژبه د «شاهنامه احمد شاهي» منظوم تاریخ لیکوال او شاعر، واقف بټالوي لاهوري، شاعر چې احمد شاه بابا خپل دربار ته رابللی و. نظام الدین سیالکوټی، په فارسي ژبه د «شاهنامه احمدیه» لیکوال و. شا ولي الله دهلوي، عالم، پوه او ولي چې احمد شاه یې د مراټیانو پر ضد جګړې ته بللی و. میراولاد محمد ذکا، حاجي هاشم سندي، الفتي کابلی، عبدالهادي موسوي لاري، د شهزاده تیمور شاه منشي، میا فقیرالله جلال آبادی عالم، صوفي او لیکوال، قاضي ادریس، د احمد شاه بابا د لښکرو قاضي او پاچا او هم د ده مرید و، ملا دوست محمد، عالم او پوه، ملا محمد غوث؛ عالم او لیکوال، سید خواجه میردرد، حافظ رحمت خان، تاریخپوه او لیکوال، مولوی هدایت الله، ملا ابوالوفا،سامي، صافي، حضرت جي، ملا پیرمحمد کاکړ، نوموتی لیکوال او شاعر، کرم الله بابا، حیا، میر غیاث الدین بدخشاني، عبدالرحیم هوتک، د پښتو او فارسي پیاوړی شاعر، پښتو دیوان یې دوه ځلې چاپ شوی دی، فیض الله کاکړ، اخندزاده او داسې نور...[۱]

د پښتو ژبې په تاریخ کې د احمد شاه بابا دربار لومړی دربار دی چې د پښتو ژبې ګرامر، صرف او نحوه په کې لیکل شوي او منل شوې ده، احمد شاه خپلو زامنو ته هم پښتو ورښودله؛ نو ځکه یې د پښتو خوږ ژبی

---

۱ - نګاهی بر نقش فرهنګي افغانستان در عهد اسلامي، وزارت اطلاعات و کلتور، مدیریت سالنامه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۵، ۱۲۸مخ.

شاعر پیر محمد کاکړ دوی ته ښوونکی وټاکه، پیر محمد کاکړ د پاچا په امر د شهزاده سلیمان لپاره د «معرفة الافغاني» په نامه د پښتو ګرامر ولیکه او د هغې له مخې به یې درس ورکاوه، دا کتاب په افغانستان کې د پښتو لومړنی ګرامر دی چې تر اوسه پورې زموږ په لاس کې دی او ویاړ یې د احمد شاه بابا د دربار په برخه دی.[1]

پیر محمد کاکړ د پښتو ژبې یو ډېر ښه ادیب او په ۱۱۹٦هـ.ق کال یې د پښتو اشعارو یو لوی دېوان وکاږه، د رحمان بابا او حمید مومند له سبکونو اغېزمن و، په کندهار کې وفات او خاورو ته وسپارل شو.[2]

برهان خان د احمد شاه بابا د وخت شاعر او د پاني پت په جګړه کې د احمد شاه بابا په لښکرو کې شامل و، ده د همدغې تاریخي جګړې بیان په یوه قصیده کې داسې بیان کړی دی:

احمـــد شـــاه پادشـــاه پـــه جـــار وویلـــه
د غـــزا پـــه نیـــت وځمـــه لـــه کابلـــه
پښـــتنې مېرمنـــې لانـــدې کـــړې کفـــارو
دا خـــــبره مـــــې پـــــه زړه وګرځېدلـــــه
یـا بـه ننـګ د پښـتانه ببرتـه پـه ځـای کـړم
یــا بــه بــایلم ککــرۍ پــرې بانــدې خپلــه

۱ - عبدالروف بېنوا، پښتو روزنه، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، ۱۰۰-۱۰۱ مخونه.

۲ - صدیق الله رښتین، د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه، کابل: عمومي مطبعه، ۱۳۲۵، ۷۹-۹۸ مخونه.

امیــــران، وزيــــران واړه تــــرې چـــاپېر وو
د هندوســـتان پـــه لارې تلـــه واړه خوشـــدله
د اټــک پــه ســیند يــې دوه پولــه تيــار کــړل
پادشــاه پرېــوت پــه مانځــه يــې مېشــته کړلــه
هــر ســپاهي يــې لــه برېښــو نــه کــم نــه و
د روتــاس کــوټ يــې بــې جنګــه واخيســتله
د بـــاهو نـــه لکـــه پـــوځ ورپســـې راغـــی
شـــپه او ورځ يـــې خـــالي نـــه وه لـــه مزلـــه
مخـامخ شـو جنـګ يـې وکـړ پـه ميـدان کـې
دو روخــــه يــــې توپخانــــه وچلولــــه
ســمندرخان، مــومن خــان دواړه شــهیدان شــول
احــمــد شـــاه د زړګـــي ســـتن ونـړېـدلـه
اووه ورځــې وه تــيــاره بــيــا رڼــايــي شـــوه
د بــاهــو تــنــه پــه مـځـکـه لــوغــړېـدلـه
مرټې پـه لور د غم نـارې ســورې شـــوې
پښـــتــانــه تـــوره يـــې هـــالـــه ومـــنـــلـــه
پاد شاه جنګ وګټه هر څوک پرې خوشحال شو
بيـا برهـان يې مـدام ســتـايي لـه غزلـه[1]

## د احمد شاه بابا کتابتون

«سير تاريخي کتب خانه‌ها در افغانستان» په ۲۰۳ مخ کې د آريانا

---

۱ - هماغه اثر، ۸۱مخ.

مجلې د ۱۳۵۰هـ.ش کال د لومړۍ ګڼې په حواله ليکلي دي:

د لوی احمد شاه بابا په کتابتون کې يو خطي قران شريف و چې په کوفي خط کښل شوی و او خلکو د امام حسينEخط ګاڼه. دا قرآن کريم شهزاده تيمور سدوزي چې د هرات والي و، د ۱۱۷۵هـ.ق کال د لومړۍ خور د مياشتې په يوويشتمه په هرات کې له درويش علي څخه په پنځوس تومنه روپۍ رانيولي او د پلار کتابتون ته يې رالېږلی و.

د خوشحال خان خټک د کلياتو يوه خطي نسخه هم د احمد شاه بابا په کتابتون کې وه، دا نسخه شيخ محمد اعظم په ۱۱۴۱هـ.ق کال د محمد علي خان لپاره کښلې وه. د دغې نسخې پر وروستۍ پاڼه يې دا ليکلي دي:

حسب الامر اعلی کتاب کليات خوشحال خان که بخط شکست نستعليق المروج حال تحرير در کتب خانه سرکار عظمت مدار بندګان والا سکندر نشان، معدن العدل والاحسان بادشاه ذی جاه والاجاه احمد پادشاه غازي دُر درانی خلدالله ملکه و برهان درهنګام توقف ارض اقدس (مشهد) غرض ديده و ملاحظه شد از بابت تحويلی معتمدالخواص اقا ... صاحب جميع رکيب خانه سرکار تحرير يوم السبت دهم جمادی الاول ١١٦٨.[1]

احمد شاه بابا پخپله هم عالم، اديب، شاعر، مؤرخ او په خپل هېواد او په فتح شوو سيمو کې يې د علماوو، مؤرخينو، علمي او ادبي شخصيتونو

---

۱ - علامه اکاډمېسين پوهاند عبدالشکور رشاد، د احمد شاهي عصر نوميالي، کندهار: علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۹۴، ٨٦مخ.

پالنه او روزنه کوله او په احمد شاهي هېواد کې د اعلیحضرت احمد شاه بابا د معاصرو علماوو، علمي او ادبي شخصیتونو شمېر ۱۰۲ تنه ښودل شوی او هر یو یې په لنډ ډول راپېژلی دی.[۱] کېدای شي د احمد شاه بابا د وخت د علماوو، مؤرخینو، لیکوالو، ادیبانو او شاعرانو شمېر له دې هم زیات وي، خو دا موضوع یو هر اړخیز علمي او څېړنیز کار ته اړتیا لري، هیله‌مند یم چې په راتلونکي کې افغان څېړونکي دا لوی او تاریخي کار ترسره کړي.

احمد شاه بابا د علم او فضل خاوندانو ته ډېر درناوی درلود او په دې لړ کې د دغه وخت مشهور شخصیت ملا محمد غوث د اخوند ترکمنان زوی او د تاج خان لمسی د احمد شاه د فقهې مشاور و او په پېښور کې قاضي مقرر شو. دغه راز احمد شاه یو بل مشهور عالم قاضي نصرالله خوانچه‌زی بارکزی له ارغستان څخه راوست او په کندهار کې یې یو لوی قاضي وټاکه. دا سړی د هغو تولو علومیانو نیکه دی چې د اعلیحضرت امان الله شاه تر وخته په دربار کې د خان علوم وظایف ورمحول کېدل.

احمد شاه بابا د هرات یو مشهور عالم ملا میرزا د ملا محمد سلجوقي زوی د هرات د پای حصار د مدرسې مدرس وټاکه او دا علمي کورنۍ هم تر دا وروستیو وختونو پورې یوه مشهوره او پېژندل شوې کورنۍ وه.

احمد شاه بابا په هرات، کندهار او پېښور کې لویې مدرسې جوړې

---

۱ - احمد شاه بابا دیوان، سریزه او سمون علامه عبدالحی حبیبي، علامه حبیبي څېړنیز مرکز، ۱۴۰۴، ۸۰-۵۱ مخونه.

کړې چې هلته به همېشه د وخت علماوو پر بېلابېلو موضوعاتو غونډې کولې. د کندهار د زړې جامع مدرسه يې ډېره مشهوره وه او احمد شاه بابا پخپله هم د هغې په غونډو کې برخه اخيستله.[1]

**د احمد شاه بابا پر مهال کښل شوي کتابونه**

۱- اخوند گدا د پښتو نافع المسلمين وکاږه، د ديوان خاوند شاعر و او په ۱۷۴۷م.کال کې ژوندی و.

۲- مغزالدين خټک خپل پښتو کتاب ربقة الاسلام په پښتو لنډ منظوم کړ، دی د شعر ديوان هم لري.

۳- په ۱۷۴۸م. کې شاه حسام الله پر هند د احمد شاه د لومړي يرغل «فتح نامه» په فارسي منظومه کړه. (د پاريس ملي کتابتون).

۴- علم خان اپريدي خپل پښتو ديوان ترتيب کړ.

۵- ميا محمد عمر بن ابراهيم د پېښور د څمکنو اوسېدونکي خپل «شمايل نبوي» په پښتو منظومه کړه.

٦- سيد فتح علي حسيني گرديزي د سيد عوض خان زوی مؤرخ، شاعر او ليکوال په هند کې «تذکره ريخته گويان» وکښله (۱۷۵۲م.).

۷- محمود د ابراهيم حسيني زوی او د احمد شاه د دربار منشي «تاريخ

۱ - محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، کابل: د ميوند خپرندويې ټولنې مطبعه، ۱۳۸۹، ۳۵-۳٦ مخونه.

احمدشاهي» په ۱۷۵۷م. کال وکېښ.

۸- یوه خراساني شاعر چې د قاسمي لمسی و، د خراسان د حاکم حسین خان فراهي په غوښتنه په ۱۷ زره بیتونو کې «نادر نامه» د احمد شاه په نامه منظومه کړه (۱۷۵۸م.).

۹- په ۱۷٦۲م. کې حافظ مرغزی د مردان پښتو شاعر «احمد شاهي شاهنامه» په پښتو مثنوي نظم کړه.

۱۰- پیر معظم شاه د پیر محمد فاضل زوی د پېښور د پیر سباک اوسېدونکی د پښتنو تاریخ د «تواریخ رحمت خانی» تر سرلیک لاندې په پښتو ولیکه (۱۷٦۷م.) همدغه مهال کاظم خان شیدا د افضل خان ختک زوی د پښتو دیوان ترتیب کړ او هم علي خان د پېښور د شاوخوا اوسېدونکي خپل پښتو دېوان بشپړ کړ.

۱۱- په ۱۷٦۹م. کې افضل خان ختک د اشرف خان زوی او د خوشحال خان لمسی وفات شو، نوموړی خپل اثر د پښتنو د «تاریخ مرصع» تر سرلیک لاندې لیکلی و او هم پر پښتو باندې د «کلیله دمنه» مؤلف دی.

۱۲- په ۱۷۷۰م. کې حافظ رحمت خان برېڅ په بریلي کې د پښتنو په اړه د «خلاصة الانساب» اثر وکاږه.

۱۳- په ۱۷۷۲م. کې د حمد شاه په غوښتنه نظام الدین عشرت سیالکوتی د احمد شاه بابا په نامه «شهنامه احمدي» په فارسي نظم کړه.

۱۴- په ۱۷۷۲م. کې پیر محمد کاکړ خپل کوچنی کتاب «معرفة

الافغاني» د شهزاده سليمان بن احمد شاه ابدالي په نامه وکښې.

۱۵- په ۱۷۷۲م. کال حسن علي يوسف زاده د احمد شاه بابا «کرامت نامه» وکښله، (د کابل خطي کتابتون).[1]

### د احمد شاه بابا د وخت علمي او فرهنګي کورنۍ

۱) **د علومي او خانعلوم کورنۍ:** دا کورنۍ د کندهار له بارکزو څخه وه چې تر ۱۹۱۹م.کال پورې د قاضي القضات پر څوکۍ يې کار کاوه.

۲) **د هرات د سلجوقيانو علمي کورنۍ:** علامه ملا ميرزا د احمد شاه بابا له خوا هرات ته راوستل شو او د ده په اولاده کې لوی پوهان پيدا شول، چې مرحوم علامه صلاح الدين سلجوقي او مرحوم عبدالروف فکري سلجوقي له همدغې کورنۍ څخه وو.

۳) **د ملا اسماعيل الکوزي کورنۍ:** دا کورنۍ د احمد شاه له وخته په کندهار کې اوسېده او د ملا اسماعيل الکوزي زوی ملا احمد د احمدشاهي ښار قاضي و چې په معقولو او منقولو علومو کې استاد و.

د دغې کورنۍ يو بل علمي شخصيت پير محمد و چې ۱۲۳۳هـ.ق کې يې د «عقيدة المشايخ و العلما» په نامه يو پنډ کتاب په عربي ژبه ليکلي و.

۴) **د پېښور د قاضيخېلو کورنۍ:** د احمد شاه بابا له وخته يې د

---

۱ - عبدالحی حبيبي، د افغانستان پېښليک، لومړی ټوک، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۳، ۱۶۰-۱۶۱مخونه.

افغانستان په سیاست او علم کې لاس درلود، د کابل پاچاهانو په دربار کې یې شهرت درلود، لکه چې قاضي فیض الله د تیمور شاه په عصر کې او قاضي محمد حسن د شاه شجاع په دربار کې د لوړ مقام څښتن و. قاضي عطاءالله خان د خدایي خدمتګارو د غورځنګ فعال غړی، شاعر او لیکوال او په درېیو ټوکو کې د پښتو تاریخ مؤلف د همدغې کورنۍ غړی و.[1]

**پایله**

احمد شاه بابا داسې مهال واک ته ورسېد چې د جنګیزیانو او تیموریانو د څه کم درې سوه کلن وحشت او ناورین او د صفویانو، شېبانیانو او بابریانو له خوا د افغانستان د دوه نیم سوه کلنې سیاسي تجزیې په بهیر کې د افغانستان مادي او معنوي فرهنګ پوپنا شوی و، احمد شاه بابا نه یوازې د افغانستان خپلواکي، د خاورې تمامیت او سیاسي حاکمیت او یووالی ټینګ کړ، بلکې د یوه فرهنګي، علمي، ادبي شخصیت او لیکوال په توګه یې د افغانستان د فرهنګي وضعې ودې او پرمختیا ته هم پاملرنه وکړه، ده د یوه ادیب، شاعر او مؤرخ په توګه په پښتو، دري او عربي ژبو یو شمېر آثار ولیکل او راتلونکي نسل ته یې په میراث پرېښودل.

احمد شاه بابا دغه راز نور افغان پوهان او شاعران وروزل او وهڅول چې افغاني فرهنګ ته غنا وروبخښي، په فرهنګي ډګر کې یې له ستونزو او تعصبونو سره مجادله وکړه او په افغانستان کې یې مېشتو قومونو ته د قلم

۱ - نګاهی بر نقش فرهنګي افغانستان در عهد اسلامي، وزارت اطلاعات و کلتور، مدیریت سالنامه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۵، ۱۳۰-۱۳۲مخونه.

چلولو او د بېلابېلو عقایدو د پاللو اجازه ورکړه.

تاریخ لیکنه دود شوه او په هېواد کې عنعنوي ښوونې او روزنې جریان درلود، پښتو او دري ژبې د ادب او لیکنې ژبې وې.

**درېیم - د احمد شاه عمراني خدمتونه**

احمد شاه د ښارونو او ودانیو له جوړولو سره ژوره مینه درلوده. د نادر افشار له خوا د کندهار د زاړه ښار ورانولو پر ده ژوره اغېزه وکړه. د پاني پت له بري وروسته افغانستان ته د ستنېدو په وخت کې احمد شاه د کندهار د نوي ښار تاداو (کندهار احمد شاهي یا اشرف البلاد) کېښود (۱۷٦۱م.) چې د هغه شرحه لږ څه مخکې وړاندې شوه. د دغه ښار په شمالي برخه کې شاهي چوڼۍ جوړه شوې ده چې د هغې په څنډو کې د لښکر لپاره موقتي پوځي خونې، توپخانه، وسله‌تون، جبه‌خانه، د وسلې جوړولو فابریکه او شاهي اصطبلونه ودان شوي دي. د شاه د بازار په پای او د چوڼۍ تر مخ «مسجد جامع شاهي» جوړ شوی دی.

په کندهار کې د احمد شاه له خوا تر ټولو ښکلې جوړه شوې ودانۍ د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د مبارکې خرقې د خوندي ساتلو لپاره په یادګار پاتې ده. داسې فکر کېده چې دا ودانۍ به د ده تر مرګ وروسته د ده خپله مقبره وګرځي. په ۱۷۵۳م. کې احمد شاه د کابل ښار ته په دې خیال منظمه بڼه ورکړه چې د هغه تر شاوخوا دېوال راتاو کړي. دلته هم ده په ۱۷٦۹م. کې د شاه اسحاق ختلاني زیارت جوړ کړ چې له بالاحصار سره نږدې د شاه شهید په نوم یادېږي. د دغه زیارت کار د ده د

خواجه سرا ياقوت خان تر ځارنې لاندې وشو.

احمد شاه بابا په ۱۷۵۶-۱۷۵۷م. کې محراب خان او عبدالکريم خان په مکه معظمه کې د افغاني حجاجو لپاره د يوه رباط د جوړولو په غرض هغه ځای ته ولېږل. دغه راز د تاشقرغان اوسنی ښار هم چې د مزارشريف په ختيځ څلوېښت ميلۍ کې پروت دی، د احمد شاه له خوا د زاړه خلم په ځای کې چې «ده فرعون» يا «د فرعون کلی» نومېږي، ودان شو. د حيدرآباد ښار د احمد شاه په لارښوونه د ده د نايب غلام شاه خان له خوا هغه وخت د سند په ولايت کې تاسيس شو.

احمد شاه د ګلکارانو (بنايانو) او لرګي کيندونکو يو ستر حامي ګڼل کېده. ده د افغانستان له ختيځو برخو او هند څخه د کندهار نوي ښار ته دا شان ماهران راوبلل او هغوی اوس هم په همدغه نامه شته چې «د محله بنايان» په نامه يادېده او اوس هم په همدغه نامه شته چې د همدغو لومړنيو مهاجرو بنايانو اولاده پکې ژوند کوي.

د احمد شاه بابا خپله مقبره هم د هغه وخت د معمارۍ يوه ښه او په زړه‌پورې بېلګه ده. د لرګي کېندلو او ګلانو جوړولو او سينګارولو مهارت وده وکړه او د هغوی نمونه په هغو کورونو کې ليدل کېږي چې په هماغه وختونو کې جوړ دي. داسې برېښي چې احمد شاه موسيقي او نقاشي ته ښه پاملرنه ونه‌کړه.  د هغه وخت نقاشۍ ډېرې نه دي. د لاهور په مرکزي موزيم کې د دغو نقاشيو يوازې يوه نسخه شته چې د هغې يوه فوتو کاپي

د دغه لیکوال په مولفه کې د قاضي نور محمد خان له جنګنامې څخه (په ۱۹۳۹م. کې خپره شوه) واخیستل شوه. د ده یو بل رسم چې د هغه د عمر په پای کې کښل شوی، د میر غلام محمد غبار په اثر «احمد شاه بابا افغان» کې چې په ۱۹۴۴م.کال په کابل کې خپور شوی، درج دی.[1]

علامه رشاد د احمد شاه بابا ودانۍ په لاندې ډول راپېژني:

۱- د کابل د ښار کلا، چې لس دروازې یې درلودې، په ۱۱٦٦هـ.ق کال د لوی احمد شاه بابا په امر احمد شاهي سپه سالار سردار جان خان پوپلزي ودانه کړې ده.

۲- د احمد شاهي ښار (کندهار) د تهداب خښته په ۱۱٦۹هـ.ق کال د دویمې خور د میاشتې په اوله د یکشنبې په ورځ تر ډېرو خیراتو او دعاوو وروسته د لوی احمد شاه بابا په لاس کېښودل شوه او د «اشرف البلاد احمد شاهی» په نامه یاد شو.

۳- د خرقې شریفې عمارت خرقه مطهره د لوی احمد شاه بابا په لارښوونه د اشرف الوزرأ شاه ولیخان بامېزي په وسیله د ۱۳۸۲هـ.ق کال د لومړۍ خور د میاشتې بر نهمه د بدخشان له فیض آباد څخه کندهار «اشرف البلاد» ته رانقل شوې ده.

۴- په مکه مکرمه کې د افغاني حاجیانو لپاره کاروانسرای (رباط افغاني)

---

۱ - ګندا سنګهـ، دراني احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦٦، ۴۵۰-۴۴۸مخونه.

په ۱۱۷۰هـ.ق کال جوړ شو.

۵- په مدینه منوره کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مبارک زیارت د بام د باران د اوبو لپاره د سرو زور ناوه جوړول.

٦- د تاشقرغان (خلم) ښار جوړول چې د بنسټ ډبره یې په ۱۱٦۵هـ.ق کال کېښودل شوه.

۷- د فراه په ولایت کې د «لاش» کلا په ۱۱۷۷هـ.ق کال جوړه شوه.

۸- په سند کې یې په ۱۱۸۲هـ.ق کال د حیدرآباد ښار ودان کړ. د دغه نوی ښار د جوړولو مسؤلیت د لوی احمد شاه بابا له خوا احمد شاهي نایب الحکومه غلام شاه خان ته ورسپارل شوی و.

۹- په کابل ښار کې یې د شاه شهید مزار جوړ کړ. کهزاد د خپل اثر «بالاحصار کابل و پیش آمدهای تاریخي» په ۸،۲ مخ کې لیکلي دي چې د شاه شهید (شاه اسحاق ختلاني رح) د زیارت ګمبذه په ۱۱۸۳هـ.ق کال یاقوت خان خواجه سرا جوړه کړې ده. هغه بیتونه چې د شاه شهید په کتیبه کې یې کښلي دي، دا دي:

چو احمـد شـــاه بروی زمین شـــد
در اقلیم ظفر مســـند نشـــین شـــد

۱۰- د پل مالان مرمت د احمد شاه بابا په امر شوی دی. د احمد شاه بابا د دربار منشي میرزا سید عبدالهادي خان عشرت ویلي دي:

بحکوم ثانی محمود احمد
شه توران و هند و هم خراسان

۱۱- په ډهلي کې یې احمد شاهي مسجد ودان کړ.

۱۲- قلعه احمد شاهي یې د مشهد په شاوخوا کې آباده کړه.

۱۳- درانیه ماڼۍ په نارین کې چې د احمد شاهي سپه سالار سردار جان پوپلزي له خوا د نارین تر فتحې وروسته د ده په سرپرستي ودانه شوه.

۱۴- د کندهار په ښار کې یې په ۱۱٦۸هـ.ق کال د «بیت الاشرف» په نامه ملي موزیم جوړ کړ.

۱۵- شاه جامع (احمد شاهي مسجد جامع چې د کندهار په شاه بازار کې موقعیت لري) جوړ کړ.

۱٦- د لوی احمد شاه بابا د مور (زرغونې انا) د قبر گمبذه (گنبده) یې جوړه کړه.

۱۷- شاه واله، چې په «نهر روضه» مشهوره ده، جوړه کړه.

۱۸- د روضې واله، چې په «نهر روضه» مشهوره ده، کېندل شوې ده.

۱۹- روضه باغ، چې په «شاه باغ» مشهوره و.

۲۰- د خپل زیارت گمبذه، چې د ودانولو کار یې د تیمور شاه سدوزي په پاچاهۍ کې په ۱۱۹۰هـ.ق کال بشپړ شو.[۱]

۱ - عبدالشکور رشاد، د احمد شاهي عصر نومیالي، کندهار: علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۹۴، ۸۲-۸۵مخونه.

## شپږم څپرکی

### د احمد شاه بابا بهرنۍ سیاست

احمد شاه په کورني سیاست کې په دې عقیده و چې لومړی د افغانستان لرغونې او تاریخي خاوره توحید شي او افغان ملت د یوې ټاکلې جغرافیې په حدودو کې متحد، د سیاسي خپلواکۍ او حاکمیت، نفوذ، اقتدار او د ځواکمن دولت څښتن شي، له همدې امله لومړنی هدف یې د افغانستان ساتنه او د یوې لویې امپراتورۍ جوړول و.

احمد شاه بابا په هند کې ډېر فتوحات وکړل، خو هېڅکله حاضر نه شو چې هندوستان په دایمي ډول ونیسي او ویې ساتي. په حقیقت کې هغه اراده نه درلوده چې ډهلي خپله پلازمېنه وټاکي، بلکې په هند کې له فتوحاتو څخه د ده هدف له یوې خوا د هندي افغانانو د ملي ګټو تامینول وو، چې د ده پر ملي سیاست یې زیات اغېز ښنده او له بلې خوا د احتمالي خطرونو دفع کول وو چې په راتلونکي کې یې د ده د هېواد سرحدونه ګواښل. هغه له ډهلي نه په آسانۍ تېر شو، خو په هېڅ قیمت حاضر نه و چې د بلوچستان، پېښور، هرات، نېشاپور یا ماوراٴ النهر چا ته پرېږدي.[1]

احمد شاه په بهرني سیاست کې د نورو نړۍ نیونکو په څېر، لکه

١ - علي احمد جلالي.، مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکري، جلد دوم، کابل: مطبعه وزارت دفاع ملي، ١٣۴٧، ٢۵۵مخ.

هخامنشیان، سکندر مقدوني، چنګېز خان، تیمور، عرب، روس او انګلیس هدف درلود چې پر هند واک ولري، خو احمد شاه د هغې وطنۍ مینې له مخې چې له پښتونخوا سره یې درلوده، اوږد وخت لپاره په هند کې ژوند نه شو کولای، لکه چې هغه په هند کې ویلي وو:

د ډهلي تخـت هېرومـه چې رایـاد کړم
ځما د ښـــکلي پښـــتونخوا د غرو سرونه[1]

که د شاه ولي الله دهلوي مکتوبات او د نورو هندي مسلمانانو، نومیالیو او امیرانو لیکونه وکتل شي، نو دا ثرګندېږي چې احمد شاه هند ته د چور او چپاول لپاره نه وو تللی، بلکې د ده یوازینی هدف او مطلب دا و چې د هغه ځای مسلمانانو ته چې له ده څخه یې غوښتنه کړې وه، نجات ورکړي او بل دا چې ده نه غوښتل د خپل ملي قوت مرکز یعنې افغانستان پرېږدي او د پښتنو د نورو پاچاهانو، لکه خلجیان، سوریان، لودیان او نورو کورنیو په شان په هند کې ورک او مستهلک شي یا دا د جهاد فی سبیل الله دیني خالص خدمت په دنیوي ککړ ولړي او د ډهلي د پاچاهۍ د نیولو او جهانګیرۍ په حرص یې ککړ کړي چې کټ مټ همدغه رویه یې څو واره د افغانستان له نورو ګاونډېو امیرانو سره په بخارا، خراسان، سند او بلوچستان کې وکړه.

د افغانستان طبیعي حدود تل د احمد شاه په نظر کې ول او که یې د لمر خاته خوا د پنجاب او کشمیر ځمکې تر خپلې اداري لاندې ساتلې، نو دا کار

---

۱ - عبدالحمید مبارز، تحلیل سیاست خارجي افغانستان از احمد شاه بابای دراني تا حامد کرزی، کابل: انتشارات سعید، ۱۳۹۰، ۲۷-۲۸مخونه.

یې د خپل هېواد د ساتنې لپاره و. دی پوهېده چې د ده د پاچهۍ د واک او قدرت چینه پخپله د افغانستان خاوره او د افغانستان خلک دي، که د پاني پت له فتحې او د ډهلي له نیولو سره جوخت یې د خپلې پاچاهۍ او قدرت مرکز پرېښی وای او خپل انساني، فکري او اداري ځواکونه یې د هند په ارت هېواد کې اوبه کړي وای، ممکنه وه چې د ده هېواد د پاچاهۍ د مرکزیت له نعمته بې‌برخې شوی وای او د ده کهول هم د هغو نورو هندي شوو افغاني کهولو په برخلیک اخته شوي وای چې بېخي له منځه تللي دي.[1]

احمد شاه بابا د افغانستان د سرحدي حدودو په باب خپل بهرنی سیاست داسې تنظیم کړی و چې جغرافیه‌یي حدود د افغانانو د خپل ځایي کلتور په ساحه کې له سیاست سره متوازن وساتي او په دې عقیده و چې په هره اندازه دغه سیاست په مدبرانه توګه عملي او تطبیق شي، په هماغه اندازه به افغانانو ته تاریخي بقا په برخه شي. احمد شاه په دې برخه کې درې اصله پلي کول:

یوه هغه ساحه وه چې هلته افغانان اوسېدل او د افغانانو لوی ښارونه پکې واقع وو، دا اصلي افغانستان و چې ده یې د ترقۍ او پراختیا لپاره زیار ایستی.

دویم هغه قبایلي سیمې وې چې قبایل پکې اوسېدل او د هغوی روحیه زیاتره بدوي وه او د مرکزیت او قانون څخه یې تېښته کوله، نو دوی یې هم آزاد پرېښودل او د دوی د عنعناتو او سنتونو سره په مطابقت کې یې هغو ته

---

۱ - عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن: عبدالروف بېنوا، کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹، ۴۲۲-۴۲۱مخونه.

اجازه ورکړه چې شخړې او مسایل د خپلو جرګو په وسیله حل کړي، خو په ښاري او مدني موسسو کې يې د چارو مسؤلان ودې ته متوجه کړل چې د دغو بدوي قبايلو د مرستې لپاره په حوصله کار وکړي. احمد شاه زياتره دغه قبايل د هندوستان جګړو ته بېول او له دې لارې ښه ثروتمند شوي هم وو.

دريېمه برخه دا چې هغه په کورګاني هند، نادري خراسان او جنيدي بخارا کې دولتونه، سيمې او خلک د خپل نفوذ په ساحه کې ساتل او دا درې قسمته په حقيقت کې د احمد شاه لپاره د اصلي افغانستان د ساتنې او حفاظت لپاره هم امنيتي او هم اقتصادي ارزښت درلود.

دغه حدود چې پورته توضيح شول، د اتلسمې پېړۍ په اوومه لسيزه کې د افغانستان د امپراتورۍ حدود وو، خو دا ټول افغانستان نه و، بلکې احمد شاه بابا افغانستان له اباسين څخه تر مشهد او له آمو څخه تر عربي سمندرګي پورې ګاڼه، نورې پاتې سيمې لکه کشمير، پنجاب، سند او خراسان يې د افغانستان ملحقات ګڼل.[1]

په هندوستان کې د ده چالچلن په دې نيمه وچه کې مسلمانانو ته د ښېګړو رسولو په غرض ولاړ و، بې‌استثنا په ټولو مواقعو کې پر هند د ده يرغلونه د هغو تېريو په ځواب کې وو چې کفارو پر مسلمانانو کول. هر ځل به چې ظاهراً داسې تېري سرته ورسېدل، نو احمد شاه دراني به هم خپله دنده سرته رسېدلې وبلله.[2]

جلالي د شاه ولي الله دهلوي د مکتوباتو په حواله ليکي چې د هند د

---

۱ - غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۳، ۱۲۴-۱۲۵مخونه.
۲ - محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، کابل: ميوند خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۹، ۳۷ مخ.

لوی عالم شاه ولي الله له سیاسي مکتبونو څرګندېږي چې د یوه حکومت په وسیله یې له اعلیحضرت احمد شاه غوښتي وو چې د هند د مسلمانانو راجه‌ګانو چې د مراټیانو په واکمنېدو سره یې د خپل هېواد زوال نږدې لیده، له احمد شاه ابدالي څخه یې غوښتي وو چې ژر د هند د بحراني وضعې د رفع کولو او مراټیانو او د هغوی د همکارانو د ځپلو لپاره هندوستان ته ورشي.

احمد شاه د ایراني خراسان زیاتره برخه فتح او ونیوه، نهه ځلې په ډېرو درنو لګښتونو او د فوق العاده کړاوونو په ګاللو سره هند ته سفرونه وکړل، د ده هدف یوازې او یوازې د اته میلیونو د پښتون بابا زامنو یووالی و چې هغوی هم د افغان او افغانیت تر بیرغ لاندې راغونډ کړي او افغانان چې هر چېرې ژوند کوي، یو پراخ او ځواکمن افغانستان ورڅخه تشکیل کړی چې په تاریخ کې کله هم د حضرت محمود زابلی، غیاث الدین غوري او محمد سام غوري څخه وروسته تشکیل شوی نه و، خوشحال خان خټک کابو یوه پېړۍ مخکې له احمد شاه څخه دغه حقیقت په خپلو شعرونو کې تل داسې زمزمه کاوه:

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سـره یو د ننګ پـه کار پټ و آشکار

احمد شاه د بخارا او ډهلي له فتحې په اسانۍ منصرف شو، خو د جیحون او سند له کرښې په هیڅ وجه ځان څنګ ته نه کړ او ټول عمر یې

د دغو دوو طبيعي سرحدونو (اکسوس او اندوس) ترمنځ د مېشتو افغانانو د نېکمرغۍ قربانۍ ورکړې او حتا د زرګونو او لکونو قربانيو په منلو سره د هغه د يوې لوېشتې خاورې څخه تېر نه‌شو.

هغه کسان چې د دغه فکر له اصالت او د حوادثو له کړاوونو خبر لري، ښه پوهېږي چې دا لوړ شخصيت احمد شاه و چې د ملت دردونه يې پېژندل او د قومي يووالي او د ملت د ژوندي کولو لاملونه يې درک کړي وو او افغان ټولنه يې د ملي عنعناتو پر بنسټ په يوه واحد مرکزي دولت کې راغونډ او متحده کړه او په ټولو سفرونو کې يې خپل دغه سپېڅلی او ملي مرام خپل ملت ته ور وښود چې د افغانستان په نامه د يوه ځواکمن او خپلواک هېواد جوړول يو ثابت حقيقت دی او تر ټولو لومړی بايد جوړ شي. هغه د دغه حقيقت د تامينولو لپاره لارښوونه کوله: «هر افغان بايد هر ډول فداکارۍ ته حاضر وي، تر څو د ژوند معنا وپېژني».[۱]

سراولف کارو انګليسي مؤرخ ليکي چې احمد شاه د ۲٦ کلونو (۱۴۷-۱۷۷۳م.) پاچاهۍ په دوره کې اته ځلې له اباسين څخه تېر شو، پنجاب يې تر ډهلي پورې ګز کړ. د ده دوه لومړي سفرونه د پاچاهۍ په لومړيو دوو کلونو کې وشول چې له مغولو څخه د پېښور او نورو ماورای سند سيمو رسمي پېژندنه د افغانستان په خاورې پورې تړل ومني، د ده د ۱۷۵۲م.کال لښکرکشي د زياتې خاورې نيولو لپاره وه. ملتان او لاهور يې

۱ - نامه احمد شاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثماني، تعليق و تحشيه استاد غلام جيلاني جلالی، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۳، ۱۷۸-۱۸۰مخونه.

د افغانستان د امپراتورۍ برخه وبلله او غربي پنجاب يې د امپراتورۍ جز وباله او د نني غربي پاکستان سرحد هاخوا يې د سند شاوخوا سرحدي حدود وټاکل. درانیانو دغه مهال کشمیر هم خپل کړ او افغانان تر نن زمانې پورې دا ښکلې سیمه د خپل وطن نه بېلېدونکې برخه بولي. د کشمیر په اړه د پښتنو ترمنځ یو ډېر مشهور متل دی: «هر چا ته خپل وطن کشمیر دی».[1]

هندوستان ته د احمد شاه ابدالي سفرونه د دې لپاره وو چې د هند له مسلمانانو سره مرسته وکړي، ځکه هغه وخت د هندوستان مسلمانان د هندو مذهبه مراټیانو او راجپوتانو د لاسه په عذاب وو، ډېر ناروا او ناوړه چالچلند ورسره کېده. احمد شاه بابا د هند د مسلمانانو لپاره د ژغورنې او نجات یوه فرښته وه او د خدای د سیوري په سترګه ورته کتل کېدل. د احمد شاه ابدالي حضور په هند کې د ولس له نظره د ښکیلاکي مقصدونو دپاره نه، بلکې د محمدي امت سره د مرستې دپاره وو. هندوستان ته د لوی احمد شاه بابا د سفرونو په نتیجه کې د هندي مسلمانانو لپاره د ژوند یو هوسا ماحول او چاپېریال منځ ته راغلی و.[2]

احمد شاه بابا افغانان هڅول چې پراخه او دایمي امپراتوري به جوړه کړو او هېواد به د تل لپاره خوندي کړو. پښتانه او نور قومونه چې له آمو تر

---

۱ - سراولف کارو، پښتانه، ژباړن: شېرمحمد کريمي، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه (جرمني)، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۸، ۳۸۴-۳۸۵مخونه.

۲ - غوث خیبري، د لوی افغان تاریخ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴، ۱۰۷-۱۰۸مخونه.

اټکه (اباسین) پورې اوسېږي، ټول به په امن کې ژوند کوي. همدارنګه دا زموږ اسلامي دنده ده چې د هند له مسلمانانو سره ورورولي وکړو او ملا یې وتړو. احمد شاه دراني تحرک او یووالی وساته او دوی ته یې دا فرصت برابر کړ چې غریب هېواد د بډایو هېوادونو په اشغال سره آباد کړي.

احمد شاه ابدالي له نورو فاتحانو سره خاص توپیر درلود. ده نور هېوادونه نیول چې خپل هېواد آباد کړي، خو د پخوانو نورو افغان پاچاهانو په باور نه و چې هند ونیسي یا د هوتکیانو په شان نور ملکونه اشغال کړي او هلته مېشت شي. د احمد شاه له کړنو داسې څرګندېږي چې ده نه غوښتل ځان په هند کې ښکېل کړي او غوښتنه یې دا وه چې د آمو او اباسین ترمنځ افغان هېواد اباد کړي. د ۲٦ کلن حکومت په دوره کې یې له هېچا سره معامله ونه کړه. نه یې د هند شمال او نه یې په لوېدیځ کې د پارس دننه د ځمکو دایمي نیولو ته زړه ښه کړ.[۱]

که څه هم د افغانستان لوېدیځ ته د افشارو امپراتوري د ځواک غوښتونکو ترمنځ د جګړو له امله مخ پر ټوټه کېدو او د بهرنیو یرغلونو لپاره ښه مړی وه. احمد شاه دراني د خپل منظم پوځ په استخدامولو سره کولی شول چې پارس لاندې کړي، خو دا یې سمه نه ګڼله چې د پخوانو افغاني پاچاهانو په څېر یې ژر ونیسي او بیا یې په ساتلو کې پاتې راشي. هغه په همدې استدلال د آمو سیند ښه طبیعي سرحد ګاڼه او شمال لور ته د ډېر

۱ - علي احمد جلالي، د افغانستان نظامي تاریخ، ژباړن: متقاعد ستر جنرال شېرمحمد کریمي، کابل: سروش کتابپلورنځی، ۱۴۰۱، ۹۲-۹۳مخونه.

وړاندې تګ غوښتونکی نه و، که څه هم اوزبیک خانت د واک پر سر له پرله‌پسې شخړو او جګړو له امله کمزوري شوي وو. د خیوه، بخارا او خوقند خانت له یو بل سره په شخړه کې وو، خو احمد شاه درانی نه غوښتل چې د آمو سیند هاخوا په مرکزي آسیا کې ښکېل شي.

د بریدونو په لړ کې پراختیا او پر شاوخوا هېوادونو یرغل د افغانستان د دولت یوه اړتیا وه، یوازې د دې لپاره نه چې «وېرونکی سیاست» وبلل شي، بلکې د دې لپاره چې د کورنیو مخالفانو او متشددو اتباعو فکر بلې خوا ته واړول شي، همدارنګه په یوه رقابتي چاپېریال کې خپل ځواک او موقف غښتلی کړي او دا چې «قوي ژوندی پاتې کېږي» نو دې هر څه سیاسي مفهوم وموند. د واقعیت له مخې د احمد شاه لپاره د ختیځ خوا ته تګ ګټور و، خو لوېدیځ خوا ته د پارس پر پراخو دښتو تیتېدل یې په ګټه نه وو. ختیځ خوا ته د اباسین په وادي کې پښتانه وروڼه اوسېدل چې د افغان هېواد لپاره یې واک او مشروعیت برابروه او د ځوانانو د جلب او جذب ښه لاره وه. له وړاندې په ختیځ کې افغاني قبایل وو چې پخوا یې هند ته مهاجرت کړی و او د افغان اردو د بریالیتوب هیلې یې راژوندۍ کړې وې.

ختیځ خوا ته د احمد شاه فتوحات د دې لپاره وو چې د افغان سلطنت داسې نیابتي حدود وټاکي چې د افغاني قبایلو پر جغرافیوي او کلتوري حدودو ولاړ وي. افغانان په لوېدیځ کې هم مېشت وو، خو ډېرې زیاتې افغاني قبیلې په ختیځ کې ځای پر ځای شوې وې او تر اباسین پورې رسېدې. کله چې احمد شاه د اباسین په څنډو کې خپل حاکمیت پوخ

کړ، نو لوېدیځ ته یې مخه کړه چې هرات او فراه په افغانستان پورې وتړي. د دې لپاره چې دغه ولایتونه په امن کې پاتې شي، د مشهد او نېشاپور کنټرول اړین و. سرحدونه تر هغو نه‌شي ارامېدلی چې د سرحد هاخوا ګواښ رفع نه‌شي او ثبات حاکم نه‌شي. د مغولو د امپراتورۍ په کمزوري کېدو سره دراني خاورې تر څنډو پورې د سیالو ډلو له خوا بې‌امنیتي مخ په جوړېدو وه. احمد شاه مجبور شو چې له خپلو حدودو ورهاخوا فتوحات پراخ کړي. په حقیقت کې هره امپراتوري چې را اوچتېږي، د سمندر د توپان په څېر وي چې په چټکۍ ځي او د سمندر تر غاړو اوړي.[1]

احمد شاه بابا د ۱۷۶۰-۱۷۶۱م. کلونو په اوږدو کې ولې تر ډهلي پورې لښکرکشي وکړه؟ د دې پوښتنې ځواب روښانه دی او په دې اړه غبار داسې توضیحات ورکوي:

په ۱۷۵۸م. کال په هندوستان کې مهمې پېښې وشوې. په پنجاب کې سکهانو پاڅون وکړ او مراټیان په شمال او مرکزي هند وروختل، نو په دې توګه په پنجاب کې افغان دولت او په ډهلي کې د هند مغولي دولت راوپرځېدل. د مراټیانو سره په منځني هند کې د راجپوت او جاټ ځواکونه هم یوځای شول. دغه راز د مراهټیانو مشر راګونات راو (یاراګوبا) د یو سیلاو په شان په ډهلي ورغی، غوښتل یې چې د سهانپور، روهلیکند او اوده (د شمالي هند اسلامي حکومتونو) راوپرځوي، خو د اوده حاکم شجاع الدوله د نجیب الدوله افغان په مرسته او د روهیله ځواکونو په رارسېدو سره جګړې ته پوره دوام ورکړ.

---

۱ - هماغه اثر، ۹۳-۹۴مخونه.

احمد شاه له دغو مهمو پېښو څخه په خبرېدو سملاسي د بلوچستان له لاره په ۱۷۵۸م. کال پنجاب ته له خپل لښکر سره ننوت او کله چې سهانپور ته ورسېد، د نجیب الدوله افغان او د افغانو روهیله سردارانو (سعدالله خان، حافظ رحمت خان، عنایت خان، دوندي خان او قطب) له هرکلي سره مخامخ شو، چې له هغوی سره لس زره سرتیري هم وو. احمد شاه د روهیله سردارانو سره یوځای په ډهلي ور ننوت او د مراټیانو، راجپوتانو او جاټانو لښکرې یې ماتې او د یعقوب علي خان افغان او محسن الملک تر مشرۍ لاندې یې دوه زره سرتېري د ډهلي ښار د ساتنې لپاره وګومارل او پخپله له جمنا سیند څخه تېر شو او ۷۲ میله لرې یې د انوپ ښار په سیمه کې قرارګاه ونیوله او د مراټیانو دولت نور غبرګون ته په تمه کېناست. دا مهال احمد خان افغان بنګښ له فرخ آباد څخه شجاع الدوله د اوده څخه له لس زره پوځ سره او ورپسې له کندهاره نور لس زره سرتېري د عطا محمد خان او کریمداد خان په مشرۍ له احمد شاه سره یوځای شول او د هغه د لښکر شمېر شپېته زرو ته ورسېد او یو ځواکمن توپچي ځواک هم ورسره و.

د مراټیانو مشر بالاجي باجي چې کله په هند کې د احمد شاه له سوقیاتو او مراهټیانو له ماتې څخه خبر شو، نو یې مرهټیانو او راجپوتانو ته خبر ورکړ چې نوي سرتېري راټول کړي او له څلورو میاشتو وروسته یې د مراهټیانو، هندوانو او راجپوتانو یو لوی لښکر جوړ او د دغه لښکر مشرتوب د بالاجي باجي ورور (سداشیو بهاو) پر غاړه واخیست او خپل زوی (ویسواس راو) یې د هندوستان پر تخت د کېناستو لپاره ورسره کړ.

کله چې د مراټيانو پوځ ډهلي ته نږدې راورسېد او د احمد شاه ځواکونه يې وليدل چې لرې دي، نو يې په ډهلي يرغل وکړ او د تورې په زور يې ونيو او ټول يې لوټ کړل. احمد شاه بابا له خپلو لښکرو سره ترجمنا راپورېوت او بالاخره د ۱۷٦۱م.کال د جولای په شپاړسمه د پاني پت په ډګر کې د مراټيانو له ۱۲۰ زرو سپرو او ۷۰ زره پلي عسکرو، دوه زره پنځه سوه جنګي او بار وړونکو فيلانو، ۲۰۰ زره غويانو او څو زره اوښانو سره مخامخ شو. احمد شاه د شپېته زره لښکر په وسيله وکولای شول چې مراهټيانو ته زيات انساني تلفات واړوي، ۲۲ زره يې اسيران ونيول، ۵۰۰ فيلان، څو زره اوښان، ۵۰ زره آسونه او ۲۰۰ زره غويان د جګړې په ډګر کې پرېښودل، خو د افغانانو تلفات ممکن له لسو څخه تر پنځلس زرو تنو پورې به وو. په دې توګه د پاني پت تاريخي جګړه پای ته ورسېده. احمد شاه د مراټيانو په ټولو  نيول شوو اسيرانو کې کوم چې مسلمانان وو، د ابراهيم کاردي دکني په ګډون ټول اعدام کړل، هندوان او راجپوتان يې خوشې کړل. احمد شاه له دې وروسته پلازمېنې ډهلي ته راستون شو.

احمد شاه په ډهلي کې د هندوستان لويه امپراتوري د بابري کورنۍ شهزاده (عالي ګوهر د عالمګير ثاني زوی) ته وسپارله. د امپراتورۍ د اداره کولو په موخه يې نواب شجاع الدوله د اودې صوبه‌دار د هند وزير وټاکه او نجيب الدوله افغان يې د هندوستان د سپه سالار په توګه وګوماره.[1] احمد

۱ - مير غلام محمد غبار، افغانستان د تاريخ په تګلوري کې. بشپړ لومړی او دوهم ټوک، ژباړن: پوهاند محمد بشير دوديال، د ميوند خپرندويه ټولنه، کابل: د ميوند خپرندويه ټولنې مطبعه، ۱۳۹۳، ۴۲۹-۴۳۴ مخونه.

شاه ته دې بریالی جګړې ملي او نړیوال شهرت ورکړ او د لوی افغان اتل په توګه راځرګند شو.

د پاني پت جګړې په اړه له پورتني بیان څخه دوې پایلې راوځي. یو دا چې مراټیانو، هندوانو او راجپوتانو غوښتل چې په هند کې د مسلمانانو مرکزي او سیمه‌ییز حکومتونه ختم کړي او مسلمانان له هندوستان څخه وشړي، خو احمد شاه د شاه دهلوی (رح)، افغان او روهیله مشرانو او پخپله د مغولي دربار په غوښتنه د هغوی ژغورنې ته ور ودانګل. دویم دا چې احمد شاه د ډهلي سلطنت د خپلولو لپاره لښکرکشي نه وه کړې، بلکې په عمل کې یې قدرت بابري کورنۍ ته وسپاره او د هغوی د واک د ځواکمنېدو په خاطر یې د هند افغانان د مرستندویانو په توګه ورسره وتاکل او دا چې څو لسیزې وروسته انګریزانو بابري سلطنت راوپرځاوه، دا نو د احمد شاه بابا مسؤلیت نه شي جوړېدای او نه هغه وخت احمد شاه ژوندی و چې د مرستې لاس یې بیا ورغزولی وای.

ارغندیوال د انګلیسي پوهاند بیلیو په قول لیکي چې احمد شاه د ډهلي امپراتور لور خپل زوی (ولیعهد تیمور) ته واده کړه او د هغې په شمول لاهور او ټول پنجاب یې د جهز په توګه په لاس راوړ.[۱] احمد شاه وحدت لیکي چې احمد شاه ابدالي د عالمګیر ثاني لور ګوهر افروز (زهره بیګم) خپل زوی تیمور شاه ته واده کړه او د عالمګیر ثاني خور یې خپل

۱ - محمد نسیم ارغندیوال، هویت، فرهنګ و تمدن آریانا دیروز یا افغانستان امروز، چاپ دوم، کابل: مطبعه وایګل، ۲۰۲۱، ۳۸٦ مخ.

ځان ته په نکاح کړه، تر څو د دوو شاهي کورنیو ترمنځ د دوستي مزي لاپسې ټینګ شي.[1] احمد شاه بابا هم قدرت ورکړ او هم یې دوستي ورسره وکړه، نور اضافه یې څه کولای شول.

غبار لیکي چې احمد شاه تر جګړې وروسته ډهلي ته راغی او کړنلاره یې دا وه چې د هند مغولي حکومت پیاوړی کړي، نه د هغه نیول او خپلول، نو ځکه یې د هندوستان سلطنت د دویم عالمګیر زوی غازي پاچا «ابوالمظفر جلال الدین عالي ګهر شاه عالم» ته چې په خپله په بنګال کې و، وړیا وباښه او هغه زوی یې «میرزا جوان بخت» د سلطنت نایب وټاکه.[2]

بیرندرا وارما لیکي چې ۱۷۵۹-۱۷۶۱م. کلونه د هند په تاریخ کې مهمه دوره وه. زیاتې پېښې رامنځته شوې چې د هندي قدرتونو په اړه د انګرېزانو لپاره د فکري طرز جوړونې لامل وګرځېدې. احمد شاه ابدالي د پنځم ځل لپاره هند ته لښکرې بوتللې او د ۱۷۵۹م.کال په اکتوبر کې لاهور ته ورسېد. پر هند د یرغل لپاره دعوت لیک د نجیب الدوله او نورو مسلمانو مشرانو له خوا را استول شوی و چې د مراټیانو د نفوذ زیاتوالي په دلیل اندېښمن وو او ابدالي ته یې لیک کښلی و او له هغه یې غوښتي وو، تر څو اسلام د مراهټیانو د بریدونو له شر څخه وژغوري. مغولي امپراتور دویم عالمګیر هم د خپل وزیر عماد الملک پر وړاندې د ځان ساتنه غوښتې وه. احمد شاه ابدالي چې همېشه له پنجاب نه د تیمور شاه او

---

۱ - احمد شاه وحدت، د افغانستان ۳۲۰ کلن پېښلیک، کابل، ۱۴۰۳، ٦٧ مخ.

۲ - میر غلام محمد غبار، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷، ۱۴۱ مخ.

جهان خان د راتښتېدلو په وجه د ناراحتۍ احساس کاوه، د سیکانو او مراهتیانو د مخالفت په دلیل په طبیعي ډول دغه غوښتنه ومنله او د هند سفر ته یې تیاری ونیو. په نظر راځي چې پر هند د برید دعوت د نواب شجاع الدوله له خوا هم شوی و. له دې واقعیت نه ښکاري چې د پاني پت له جګړې وروسته دراني پاچا ته د خدمتونو په بدل کې شاوخوا ۹۰ لکه روپۍ ورکړل شوې وې.

احمد شاه ابدالی له خپل لښکر سره په پنجاب کې د قدرت له پیاوړي کولو وروسته مخامخ د ډهلي په خوا روان شو. د ډهلي وزیر عماد الملک له دې وېرې چې دویم عالمګیر د ده پر ضد له احمد شاه ابدالي سره یوځای نه شي، هغه یې ۱۷۵۹م.کال د نومبر په ۲۹ نېټه وواژه او د دویم شاه جهان په نامه یې یو بل شهزاده پر تخت کېناوه. د عالمګیر زماني د وژلو خبر د هغه مشر زوی شهزاد علي ګور ته ورسېداو هغه هڅه کوله چې د بهار ولایت فتح کړي. نوموړی شهزاده له احمد شاه ابدالي وغوښتل چې د هند تاج او تخت هغه ته ډالۍ کړي... احمد شاه احتمالاً د شاه عالم د غوښتنې په ځواب کې له «انوب ښار» څخه ولیکل چې هغه به د مغولي سلطنت تخت ته ورسوي. شاه عالم خوشحاله و چې د نېکونو پایتخت ته به ستون شي. هغه د ابدالي په ځواب کې وویل چې د بنګال او بهار له بیا نیولو وروسته به د تاج او تخت د نیولو لپاره ډهلي ته ستون شي.[1]

---

۱ - بیرندرا وارما، افغانها و کمپاني هند شرقي بریتانیا، مترجم: محمد کاظم کاظمي، کابل: انتشارات امیري، ۱۳۹۹، ۲۵-۲۶مخونه.

احمد شاه د خپلې لويې اداري لپاره يوه خاصه ديپلوماسي درلوده. ده له آمو نه تر اباسين پورې او له مشهد نه تر اټک پورې او بيا د عربو تر بحيرې پورې سيمه د افغانستان حق ګڼله او د دغو سيمو شاوخوا ته ورڅېرمې سيمې يې چې فتح کولې، نو داسې خانانو ته يې حواله کولې چې د افغاني دربار ماتحت به وو او د اصلي سيمو د اقمارو حيثيت به يې درلود.[1]

بلګرامي ليکي چې د ۱۷۵۶-۱۷۵۷م. کلونو ترمنځ دويم عالمګير او د هند د مسلمانانو لوی روحاني شاه ولي الله دهلوي له احمد شاه بابا څخه دعوت وکړ چې هندوستان ته ورشي او هندوستان له لوی بحران څخه وژغوري. احمد شاه بالمقابل د مغولي دولت د ژغورلو ژمنه وکړه او د ژمنې سره سم يې د ۱۷۶۱م.کال په جنورۍ کې يې د پاني پت پر ډګر مراټيان، راجپوتان او هنديان مات کړل او دا پېښه د هند په تاريخ کې د عطف ټکی و.

بلګرامي وړاندې زياتوي چې د شاه عالم مور (زينت محل) خپل زوی ته ليک وکاږه او په هغه کې يې له ده وغوښتل چې ډهلي ته راوګرځي او له احمد شاه سره ليدنه وکړي او خپله واکمني بيا افتتاح کړي.[2]

وروسته له هغه چې احمد شاه د پاني پت په ډګر کې پر مراټيانو بريالي شو، په ۱۷۶۳م.کال يې د عثماني دولت خليفه (سلطان مصطفی) ته يو ليک واستاوه، د ليک له مطالعې سړی يو څه پوهېږي چې احمد شاه د

---

۱ - د احمد شاه بابا د ديوان غورچاڼ، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، سريزه، ۱۵ مخ.

۲ - اصغر حسن بلګرامي، افغانستان و هند برتانوي ۱۷۹۳-۱۹۰۷م. مترجم: عبدالواهاب فنايي، اکادمی علوم افغانستان، کابل: مطبعه دولتي، ۱۳۶۱، ۱۷-۱۹ مخونه.

وخت باريکيو ته ژور پام درلود او د دغه ليک مطالعه انسان پر دې قانع کوي چې احمد شاه ابدالي نه يوازې ستراتيژست و، بلکې په سياسي مسايلو کې د ده ذکاوت او درايت د تقدير او د لوی ازرښت وړ و.

د ليک اصلي هدف دا و چې افغانان عثماني خلافت ته داسې معرفي کړي چې يوه تاريخي دنده يې په کفايت سره سرته رسولې ده او اوس د هر ډول تحسين او تقدير وړ دي، په دغه ليک کې يې ټول معمول احترامات د عثماني خلافت په وړاندې پر ځای راوړي وو، خو هغوی ته د يوه امپراتور په توگه ځان ورپېژني، په ليک کې څو ځلې هغه ته د ورور خطاب کوي او له دې ښکاري چې احمد شاه له هغه سره ځان برابر گڼي، خليفه ته خپل قدرت او ځواک ورپه گوته کوي او د قدرت له څرگندولو يې مطلب دا و چې هغه حق لري افغانستان، هندوستان، ايران او بخارا تر خپلې اداري لاندې وساتي، د احمد شاه د ليک په اړه چې په ۱۷۶۳م.کال يې د عثماني خليفه سلطان مصطفی خان ته استول دی، ابراهيم عطايي ليکي چې د دغه ليک له مطالعې انسان پوهېږي چې احمد شاه د وخت سياسي باريکيو ته سخت متوجې و او د هغه مطالعه سړی قانع کوي چې احمد شاه يوازې مدبر ستراتيژست نه و، بلکې د هغه ذکاوت او درايت په سياسي مسايلو کې د لوی ارزښت وړ و.

احمد شاه د بريااليو فتوحاتو او لښکرکشيو په پايله کې وکولی شول چې لويه امپراتوري له ځانه په ميراث پرېږدي، چې په ختيځ کې تر ډهلي، په لوېديځ کې د مشهد تر سبزواره، په شمال کې تر آمو سينده او په جنوب

کې تر عرب بحیرې پورې غزېدلې وه. د امپراتورۍ دغه پراخه سیمه د دې لامل وګرځېده چې احمد شاه ابدالي د قبایلو له اقتصادي او پوځي نفوذ څخه تر یوه بریده آزاد شي او په جګړو کې د احمد شاه کامیابۍ د ده پرستیژ او حیثیت د خلکو ترمنځ لوړ کړ او د ملت مفکوره یې پیاوړې کړه.

احمد شاه د یوه خپلواک او مستقل پاچا په توګه بهرنیو هېوادونو ته سفیران استول او د هغوی سفیران یې په خپل دربار کې منل، فتح شوې او نیول شوې سیمې چې د احمد شاه ابدالي په امپراتورۍ کې شاملې وې، ټولې هغه په افغانستان پورې اړوندې نه وې، په حقیقت کې د افغانستان حدود د احمد شاه په نزد (د عرب بحیرې، د سند سیند، آمو سیند، مشهد) ترمنځ سیمه وه او د کشمیر، ملتان، پنجاب، سند او خراسان سیمې د افغانستان د ملحقاتو په نامه ګڼل کېدې.[1]

موږ مخکې وویل چې احمد شاه بهر ته یو شمېر سفیران واستول چې د هغوی په جمله کې قلندر خان ډهلي ته، اسماعیل خان پنې سند ته او یو استازی یې چین ته واستاوه او دغه راز یې د کندهار په دربار کې د سند سفیر ګدومل هندو ومانه. احمد شاه بابا د پاني پت له فتحې وروسته په ۱۷۶۳م.کال عثماني خلیفه سلطان مصطفی ته یو لیک په ۸۴ مخونو کې واستاوه او د پاني پت د بریالۍ فتحې په اړه یې توضیحات ورکړل. همدارنګه یې په ۱۷۶۷م.کال د بخارا د پاچا مرادبي سره د آمو سیند د سرحد په توګه وټاکه.

---

۱ - عبدالعزیز منیب، تاریخ معاصر افغانستان، چاپ پنجم، کابل: انتشارات محمدي، ۱۳۹۶، ۶۵-۶۷مخونه.

احمد شاه بابا په خپل بهرني سیاست کې ولې په هند کې فتوحاتو ته اهمیت ورکاوه؟

ځواب روښانه دی، هغه دا چې کله احمد شاه په کندهار کې پاچاهۍ ته ورسېد، د افغانستان ختیځې برخې لا هم د مغولي واکمنانو تر واک لاندې وې او د افغانستان پراخې سیمې د کورګاني سلطنت په قلمرو کې شاملې وې یا د سیمه‌ییزو واکمنانو له خوا په نیمه مستقل ډول اداره کېدې. د احمد شاه بابا تر ټولو لومړنی هدف دا و چې د یوه سیاسي تمامیت په اډانه کې افغاني سیمې او قبایل راغونډ کړي. د دغه لوی کار لپاره د پوځي عملیاتو په سرته رسولو سره یې دا لازمه ولیده چې ټولې افغان سیمې په خپل قلمرو کې راګډې او متحدې کړي او په دې ډول د خپل هېواد لپاره سیاسي سرحدونه وټاکي.

فیریه په دې اړه لیکي: په هغه وخت کې چې احمد شاه بابا د افغان سلطنت د جوړولو په حال کې و، د افغانستان سرحدونه هېچا ټاکلي نه وو، له دې امله هغه پرېکړه وکړه چې خپل سرحدونه تر هغو سیمو پورې چې حتا یوه افغان قبیله هماغلته اوسي، پراخ کړي. هغه د پېښور له نیولو وروسته د هغه په شاوخوا کې عملیات پیل کړل او په اسانۍ سره خپل مرام ته ورسېد. له هغه وروسته د هند له بحراني وضعې او کورګاني دولت له کمزورۍ نه په استفادې د خپلې امپراتورۍ د پرستیژ د لوړولو په موخه یې په هند کې خپل وړاندې تګ ته دوام وکړ او هماغه وخت په هند کې نور عوامل رامنځته شول چې یو یې د هند د مسلمان کورګاني امپراتور مخامخ

کېدل له دښمنانو سره وو او بل عامل د هندي افغانانو د ګټو تامينول وو، چې د مراټيانو په راڅرګندېدو سره د احمد شاه بابا علاقمندي په دې برخه کې لا زياته شوه، خو کله چې مراهټيانو له خپلو متحدينو (راجپوتانو او هندوانو) سره پر شمالي هند يرغل وکړ، احمد شاه د هندي افغانانو او نورو مسلمانانو ګټو او غوښتنو ته په درنښت خطرناکو پوځي عملياتو ته حاضر شو او که څه هم د ده دا اقدام د دراني امپراتوري د ختيځو سرحدونو د امنيت نيولو په علت او هم د مراټيانو د راتلونکو ګواښونو د له منځه وړلو په موخه و، خو د هندي مسلمانانو ګټو هم په کې دخالت درلود. احمد شاه بابا هغه وخت نجيب الدوله ته وليکل چې ژر به هند ته ورشي او هغوی به د مراهټيانو له قبضې وژغوري او پر دې برخه کې د هغه اصلي علاقه دا وه چې په هند کې د افغانانو نېکمرغي او هوساينه تامين کړي.[1]

۱ - على احمد جلالي، مطالعه تاريخ افغانستان از نگاه عسکري، جلد دوم، کابل: مطبعه دفاع ملي، ۱۳۴۷، ۳۲۰-۳۱۸مخونه.

## اووم څپرکی

## احمد شاه ابدالي او د برتانوي هند ختيځه کمپنۍ

## (۱۷۵۷ – ۱۷۷۳م.)

په ۱۷۴۷م.کال د جون په میاشت کې د نادر شاه افشار مړینې د افغانستان په تاریخ کې نوی باب پرانیست. اصلي لوبغاړی چې اوس د کابل (مطلب کندهار دی) په ماڼۍ کې راڅرګند شو، احمد شاه ابدالي و چې د ده پرله‌پسې لښکر کشیو د برتانوي هند ختیځې کمپنۍ پر ګټو یې زیات اغېز وښنده. د مغول امپراتور پر ضد د هغه لومړي درې بریدونه د پنجاب او سند د نیولو لپاره وو، بنا پر دې د هغه بریدونو د انګرېزانو په ذهن کې هېڅ خطر رامنځته نه کړ. د هغوی عکس العمل او چلند هغه مهال له احمد شاه ابدالي سره یو محتاطانه چلند و. هغوی د «انتظار او تماشه کولو» سیاست ته غاړه ایښې وه او د احمد شاه په چارو کې یې نېغ په نېغه لاس‌وهنه نه کوله.

احمد شاه ابدالي په ۱۷۵٦-۱۷۵۷م. کال د څلورم ځل لپاره پر هند برید وکړ. د دغه برید اغېز د مغول امپراتور لپاره وژونکی و. د مغولو ځواک ډېر کمزوری شو او د افغانانو له ګواښ څخه په شمالي هند کې وېره زیاته شوه او په هماغه ډول چې له مفسرینو څخه یوه ویلي: د احمد شاه ابدالي

دغه برید «د هندوستان پزه پرې کړه.» د برتانیې ختیځې کمپنۍ پرېکړه وکړه چې د «انتظار او تماشه کولو» سیاست ته دوام ورکړي، خو دا په دې معنا نه و چې هغوی د ابدالي حرکت پر وړاندې بې‌تفاوته وو؛ ځکه د ۱۷۵۷م.کال په لومړیو کې د انګرېزانو اسناد په ډاګه کوي چې د کمپنۍ غړو د احمد شاه ابدالي فعالیتونه په شمالي هند کې څارل او ترې خبر وو. موږ ته له دغو اسنادو څرګندېږي چې «کلیو» اطلاعات تر لاسه کړي وو، په دې ډول چې «افغانانو مغولو ته ماتې ورکړې، د دوی رهبر تر احمد شاهي نامه لاندې دولت معرفي کړی او چټکه لاربښوونه یې کړې چې د بنګال ولایت سیکان دې د نوي امپراتور په نامه وځېل شي».

همدارنګه باور پر دې و چې د بنګال نواب خپلو سرحدونو ته ولاړ شي، تر څو له خپل ګاونډ د لکناپور (ځینې وختونه د اوده په نامه یادېده) نواب سره د اوسنۍ امپراتورۍ د ړنګېدو د مخنیوي په خاطر اتحاد وکړي. د بنګال نواب «کلیو» ته خبر ورکړ چې له احمد شاه ابدالي څخه یې د سولې وړاندیز تر لاسه کړی دی او هم یې خپلې ستونزې له هغه سره حل کړي دي او د انګرېزانو مرستې ته اړتیا نه لري. نواب ژر پوه شو چې ابدالي له خپل لښکر سره ببرته افغانستان ته روان دی. احمد شاه د ۱۷۵۷م.کال د مارچ په ۲۸ نېټه افغانستان ته د راستنېدو سفر پیل کړ او د لارې په اوږدو کې یې «سرهند» له خپلې خاورې سره یوځای کړ او خپل زوی تیمور یې د پنجاب د والي په توګه وټاکه او له هغه وروسته افغانستان ته راستون شو.

۱۷۵۹ او ۱۷٦۱م. کلونه د هند په تاریخ کې مهمه دوره وه. زیاتې

پېښې رامنځته شوې چې د هندي قدرتونو په اړه د انګرېزانو د فکري طرز په شکل نيونه کې لامل وګرځېدې. احمد شاه ابدالي د پنځم ځل لپاره پر هندوستان بريد وکړ او د ۱۷۵۹م. کال په اکتوبر کې لاهور ته ورسېد. د نجيب الدوله او د نورو مسلمانو مشرانو له خوا دعوت ورکړل شوی و چې پر هند بريد وکړي، ځکه هغوی د مراهټيانو د نفوذ د زياتوالي له امله اندېښمن وو، احمد شاه ابدالي ته يې ليک کښلی و او له هغه يې غوښتي وو چې اسلام د مراټيانو له شره وژغوري. د مغولو امپراتور دويم عالمګير هم غوښتنه کړې وه چې د خپل وزير عماد الملک پر وړاندې يې وساتي. احمد شاه ابدالي چې همېشه له پنجاب نه د تيمور شاه او جهان خان د شاتګ په وجه د ناراحتۍ احساس کاوه، د سيکانو او مراټيانو د مخالفت په دليل په طبيعي ډول دې دوستانه غوښتنې ته د لوړتيا د نښې په توګه پاملرنه وکړه او يو ناڅاپه يې لښکرکشۍ ته تياری ونيو. ښکاري چې پر هند د بريد لپاره دعوت د نواب شجاع الدوله له خوا هم ورکړ شوی و. له دې واقعيت نه څرګندېږي چې د پاني پت له جګړې وروسته د شجاع الدوله له خوا دراني پاچا ته د دغه خدمت په بدل کې شاوخوا ۹۰ لکه روپۍ ورکړل شوې وې. احمد شاه ابدالي د خپل لوی پوځ په وسيله په پنجاب کې قدرت ټينګ کړ او مخامخ په ډهلي ورغی. د ډهلي وزير عمادالملک له وېرې چې دويم عالمګير له احمد شاه ابدالي سره د ده پر ضد يوځای شوی، ډهلي ته د احمد شاه تر ورسېدو مخکې دويم عالمګير وواژه او د ده پر ځای يې يو بل شهزاده د دويم شاه جهان په نامه پر تخت کېناوه. د عالمګير د وژلو خبر په داسې وخت کې د هغه مشر زوی شهزاده علي ګوهر

ته ورسېد چې هغه د بیهار د فتح کولو هڅه کوله. نوموړی شهزاده له احمد شاه ابدالي وغوښتل چې د هند تاج او تخت هغه ته ډالۍ کړي. هغه د احمد شاه ابدالي ځواب ته منتظر پاتې نه شو، د ۱۷۵۹م.کال د دسمبر په ۲۴ نېټه يې د امپراتوري مقام د ځان لپاره دويم شاه عالم په نامه اعلان کړ او د دويم ځل لپاره يې پر بيهار بريد وکړ؛ خو د مقام پرېښودلو ته اړ شو. احمد شاه ابدالي احتمالاً د شاه عالم د غوښتنې په ځواب کې له انوب ښاره وليکل چې هغه به د مغولو د سلطنت تخت ته ورسوي. د بريتانيا کمپني له دې خبرې او ژمنې خبره شوه چې شهزاده د احمد شاه ابدالي د وړانديز د منلو په موخه له «سون» سيند څخه تېر شوی دی. شاه عالم هيله‌مند و چې د نيکونو پايتخت ته ورسېږي. هغه د ابدالي په ځواب کې وويل چې د بنګال او بيهار له بيا نيولو وروسته به د تاج او تخت د نيولو لپاره ډهلي ته راستون شي.

په ضمن کې انګرېزانو خبر درلود چې شجاع الدوله، نجيب الدوله او احمد شاه ابدالي د شاه جهان آباد په سيمه کې سره متحد شوي وو او نور قومندانان په شاه جهان اباد کې له احمد شاه سره د يوځای کېدو په موخه ورتلل. مراهيټانو په همدې دليل غوښتل چې شجاع الدوله له ځان سره ملګری کړي. هغوی د شاه عالم په غياب کې د ډهلي پر تخت کېناوه، تر څو له مغولي امپراتور سره خپله عدم دښمني وښيي، خو د مراټيانو دغه سياست ناکام شو او شجاع الدوله د احمد شاه ابدالي تر څنګ ودرېد. انګرېزان د مراټيانو او احمد شاه ابدالي ترمنځ د پاني پت جګړې په باب خبر شول. د دې جګړې خبر د ډهلي د يوه اوسېدونکي «بلواداس» په

وسیله انګرېزانو ته ورسېد او هغوی ته یې لیکلي وو: «د شاه شاهان په وسیله د ساد اشور ماتې او د لښکر له منځه وړل په بري سره سرته ورسېدل، په دې کې کمه مبالغه هم نه‌شته او یو انکار نه منونکی حقیقت دی او یو فوق العاده بری دی چې د شاه شاهان (احمد شاه) په برخه شوی دی. نواب شجاع الدوله بهادر پخپله په جګړه کې ګډون کړی او لښکر یې خپله ځواکمنتیا وښودله او د اعلیحضرت د زیاتې پاملرنې وړ وګرځېد.

احمد شاه د یوه بریالي اتل په توګه د پاني پت په جګړه کې راڅرګند شو او د ۱۷٦۱م.کال د جنورۍ په ۱۴ نېټه یې مراهټیانو ته درنه ماتې ورکړه. شجاع الدوله د مغول شاهنشاه وزیر او روهیله د روهیلکنډ پښتانه له افغانانو سره یوځای شول. دغه مهال احمد شاه ابدالي خپل روش له یوه یرغلګر څخه د مغول امپراتورۍ د ژغورنکي په توګه بدل کړی و. هغه د ډهلي تاج او تخت دویم شاه عالم ته راګرځولی و او په همدې منظور یې حتا شهزاده «جوان بخت» د خپل پلار شاه عالم د مرستیال او نایب په توګه د شاه جهان آباد په ارګ کې وټاکه او د ډهلي د سلطنت تر لاسه کولو وروسته یې هغه ته لاربښوونه وکړه چې سکه او خطبه د دویم شاه عالم په نامه برابره او ولولي. احمد شاه دغه راز شجاع الدوله افغان د مغول شاهنشاهۍ د وزیر په توګه وروپېژند.

د احمد شاه ابدالي بری په طبیعي صورت سره د هندي ختیځې کمپنۍ لپاره د اندېښنې لامل وګرځېد. دغه مهال دویم شاه عالم په بیهار کې سخت په لیدنو کتنو بوخت و، په هغه ځای کې چې نوموړی د درېیم ځل لپاره په ۱۷٦۱م.کال په لښکرکشۍ ورغلی و، خو د ۱۷٦۱م.کال د

جنوری په ۱۵ نېټه د جنرال کارناک له خوا په بشپړه توګه له ماتې سره مخامخ شو او اړ شو چې د حقارت جام وڅښي او د انګلیس ظاهري حاکمیت ومني او د هغه په بدل کې د ورځې ۱۰۰۰ هندي روپۍ تر لاسه کړي او دا د شاه عالم خپله بدبختي وه، په داسې حال کې چې احمد شاه ابدالي ده ته څو ځلې دعوت ورکړ چې ډهلي ته راشي او سلطنت دوباره په لاس کې واخلي. احمد شاه ابدالي د شاه عالم مور «زینت محل» ته توصیه وکړه چې خپل زوی شاه عالم ته یو داسې لیک ولیکي چې د ډهلي سیاسي وضعیت په کې انعکاس کړي او په ضمن کې د احمد شاه ابدالي او د مغول امپراتور د کورنیو ترمنځ ښې اړیکې او د انګرېزانو په نسبت د وخت مشترکې اړتیاوې په کې بیان شي. زینت محل په همدې متن یو لیک خپل زوی ته ولیکه او ور ویې لېږه. په دغه لیک کې یې اصرار او ټینګار کړی و چې بې له ځنډه د دراني پاچا د ملاقات او د هند حکومت دوباره تسلیمولو لپاره ډهلي ته راشي. ویل کېږي چې ابدالي وویل: «ما مخکې یو ځانګړی دستار (پګړۍ) رااستولی و، خو هغه را نهغي. د هغه تکرارول مناسب نه دي. ښه دا ده چې شاه عالم پخپله راشي، بیا به زه حاکمیت ورته وسپارم او ولاړ به شم. شهزاده تیمور شاه هم د «زینت محل» سره تماس ونیو، «خدای دې نه کوي چې شاه عالم د بې اصوله افرادو په مشوره ځان له ستونزو سره مخ کړي او په راتللو کې ځنډ وکړي.»[1]

۱ - بیرندرا وارما، افغان او کمپاني هند شرقي پریتانیا، مترجم: محمد ا... افضلي، کابل: انتشارات امیري، ۱۳۹۹، ۲۳-۳۰ مخونه.

شاه عالم د احمد شاه ابدالي د ډاډ او ملاتړ په موخه د ۱۷۶۱م.کال په فبرورۍ کې د بنګال انګلیسي حاکم ته لاربښوونه وکړه چې خطبه د ده په نامه ووایي او سکه د ده په نامه ضرب کړي. دغه مهال «کلیو» خپل ځای «ونسیتارت» ته پرېښود او هغه دې موضوع ته د اهمیت په سترګه وکتل او فکر یې وکړ چې لازم دي د شاه عالم د فرمان له پلي کولو مخکې له ابدالي او د ډهلي له مشرانو وپوښتل شي. هغه (ونسیتارت) د ۱۷۶۱م.کال د مارچ په ۱۹ شاه عالم ته خبر ورکړ چې فرمان به ژر د شاهنشاه ابدالي له خوا نواب ته ورسېږي چې سکې کېدای شي ژر ضرب او خطبه دې هم وویل شي. عالي جناب باید په دې برخه کې عمل وکړي او د کمپنۍ مشرانو ته هم ویل کېږي چې نوې پیسې په دوران کې واچوي.

شاه عالم هماغه شېبه په عاجل ډول د انګلیسي پوځیانو یوې قطعې ته اړتیا درلوده چې تر ډهلي د هغه ملتیا وکړي او په دې یې قادر کړي چې پر شاهي تخت جلوس او پاچاهي وکړي. «ونسیتارت» په دې فکر و چې د احمد شاه ابدالي نظر په دې اړه هم اړین دی. هغه ابدالي ته ولیکل: «اعلیحضرت مخکې د نواب ظفر علي خان او ډګروال «کلیو» په وخت کې د خپلو احکامو د صادرولو په خاطر چې له شاه عالم علي ګوهر څخه د اطاعت پر بنسټ وو، خوشحاله وې. اخر زه د «کلیو» د ځایناستي په توګه د کمپنۍ له خوا ټاکل شوی یم او ستاسو د رضایت جلبولو په موخه همېشه تیار یم چې د تاسو احکام پلي کړم. ما ستاسو د احکامو اطاعت کړی چې په پایله کې یې شاه عالم له بیهاره روان شوی او د عظیم آباد ښار به د هغه

په وړاندې روښانه شي. که چېرې په بشپړې مهربانۍ سره تمایل لرې چې په دې برخه کې حکم صادر کړي، زموږ پوځیان به تیار وي چې هغه د تاج او تخت تر ځایه ورسوي. لطفاً د خپلو احکامو په صادرولو سره په دې برخه کې موږ ته ویاړ وبښئ. بنا پر دې «ونسیتارت» غوښتل احمد شاه چې همېشه د شاه عالم د علایقو او هوساینې مراقب و، تر اغېز لاندې راولي او هغه انتظار درلود چې د ابدالي له خوا ځواب د شاه عالم د دستورونو له اجرا مخکې تر لاسه کړي. تر دغه وخته شاه عالم د انګرېزانو په سخاوت سره ژوند کړی و او غوښتل یې چې تر ډهلي یې ملتیا وکړي او پر ده باندې بدګماني پیدا کړي. د هغه پاتې کېدل له انګرېزانو سره یو سیاسي امتیاز و او په طبیعي ډول هغوی نه غوښتل چې نوموړی د احمد شاه ابدالي په وسیله سلطنت ته ستون شي، ځکه هغه په هند کې د انګرېزانو د سیاسي برترۍ په وړاندې سیال و. «کرناک» هغه څوک و چې د شاه عالم فعالیتونه یې څارل، داسې نظر یې بیان کړ چې ډهلي ته د شاه عالم د تللو منظور د هغه په نظر پورې تړلی و. د هغه نظر په دې ډول ثبت شوی دی: «په ډېرو کمو ورځو کې باید د ابدالي پرېکړې معلومې شي. که چېرې احمد شاه ابدالي شهزاده شاه عالم د پلار پر تخت کېناوه، شهزاده به هېڅکله له موږ سره د همکارۍ لپاره وخت ونه لري او په داسې حالت کې چې یوه شېبه د هغه له قطعیت څخه خبر شو، زما په نظر د هغه ساتنه په هغو سیمو کې چې د ده تر ولکې لاندې دي، په روښانه توګه رد کړو. دا مهمه ده چې له دې وخته وروسته «ونسیتارت» احمد شاه ابدالي د شاهنشاه په نامه

يادوي. په داسې حال کې چې شاه عالم په عين وخت کې د شهزاده په توګه ګومارل شوی و. په احتمالي توګه دغه القاب په دې خاطر وو چې لا يې هغه د ډهلي پر تخت نه و کښېنولی. «ونسيتارت» دغه مهال تيار و چې احمد شاه ابدالي د يوه لوی مشر په توګه وپېژني، نه يوازې د هندوستان له کوچنيو مشرانو څخه، حتا د مغولو واکمن، څوک چې ډېر وخت د هغه په وسيله «پاچا» ګڼل کېده، نه «امپراتور». «ونسيتارت» هېڅکله هم خپل دريغ مير قاسم ته چې د شاه عالم فرمان يې وړ او ورته وفادار و، څرګند نه کړ، وړاندې ولاړ او ابدالي ته يې ډاډ ورکړ چې که چېرې شاهنشاه داسې وغواړي شاه عالم به د يو شمېر انګليسي ځواکونو په وسيله تر ډهلي پورې ورسول شي. هغه دغه رازله نواب څخه وغوښتل چې شجاع الدوله او احمد شاه ابدالي متقاعد کړي چې شاه ته د پيسو د ورکړې اجازه وکړي او انګرېزان به تر ډهلي پورې د ده د مسافرت لګښت ورکړي.

دا ښکاره خبره ده چې د انګليس ډېپلوماتانو دغه ټول تاکتيکونه د دې لپاره وو چې شاه عالم تر خپل اغېز لاندې راولي او د ده دريځ پوچ وښيي. افغان صدراعظم (شاه ولي خان) هم د لوبې څارونکی و. د ابدالي د شفافو لارښوونو باوجود مير قاسم او ونسيتارت د شاه عالم فرمان پلي نه کړ، د خطبې ويلو او سکې وهلو په وړاندې يې بې اعتنايي وکړه او يو ښه کار هماغه وخت له لاسه ووت. شاه ولي خان وروسته له هغه چې احمد شاه ابدالي کابل ته راغی، د ۱۷٦۱م.کال د مۍ په مياشت کې د يوه ليک په وسيله ونسيتارت ته خبر ورکړ چې په ډهلي او نورو ځايونو کې د شاه عالم

په نامه سکه وهل شوې او پخپله اعليحضرت او اميران يې په دې خاطر چې په بنګال کې سکې نه دی ضرب شوی، ناراضي وو. دا خبر د انګليس حاکم لپاره د خطر زنګ و. د ديوانونو مديرانو پر «ونسيتارت» باندې فشار راوړ چې کمپنۍ بايد د شاه عالم له ګټو پلوي وکړي. هغوی مخکې له مخکې خپله موافقه د دغه رنګه معاملاتو په اړه چې د کمپنۍ ګټې تضمينوي، اعلان کړه. د شاه ولي خان ليک ته او د ديوان د مديرانو لارښوونو ته په پام سره «ونسيتارت» د شاه عالم وړانديز ومانه او مير قاسم ته يې د امپراتور په نامه د خطبې ويلو او سکې وهلو لارښوونه وکړه. وروسته يې د ديوان مشرانو ته خبر ورکړ چې بالاخره هغه د شاه عالم له هيلې سره موافقه وکړه او نواب مير قاسم په همدې دليل اړ شو چې د روپيو سکې د بنګال، بيهار او اوريسه په ولايتونو کې ضرب کړي. هغه دغه راز منلې وه چې د ۱۷٦۱م.کال په جولای کې دغه ډول سکې د کمپنۍ په ضربخونه کې ضرب کړي او دغه موافقه پلي شوه.

کله چې ابدالي په ډهلي کې د دوو کروړو روپيو د حصول لپاره د هغه او له نورو هندي مشرانو سره د حساب تصفيه وکړه، داسې پرېکړه وشوه چې له دغو روپيو ۷۰ لکه سورج مال جات، ۴۰ لکه نجيب الدوله او ۹۰ لکه شجاع الدوله بايد ورکړي. شجاع الدوله غوښتل خپله برخه روپۍ د مراټيانو له سيمو او د بنګال له پاچاهانو راغونډې کړي او دغه کار په دغو ولايتونو کې عملي کړي، ۱۳ زره سوارو پټانانو چې پوځي سفر پيل کړی و، غوښتل يې له ده سره يوځای شي. همدارنګه د دغو معاملاتو په جريان

کې یادونه وشوه چې د احمد شاه ابدالي قرارګاه چې په اګره کې د ځواکونو د لېږلو په منظور جوړه شوې، په هر ځای کې چې قواوو ته اړتیا لري، هماغلته یې ځای پر ځای کولی شي. د «جسوت» لیک له لکنهو څخه دا خبر چې شجاع الدوله د بنګال نه د راغوندۀ کړو عوایدو پر سر له احمد شاه ابدالی سره چنې وهلې وې، تاییدوي.

په بنګال کې هندي شرقي کمپنۍ ځان په ستونزمن وضعیت کې ولید. که چېرې شجاع الدوله وغواړي د ابدالي په نامه له انګلیس نه غوښتنه وکړي، ځواب ورکول به د هغوی لپاره ډېر سخت وي. انګلیس فکر کاوه چې ابدالي غواړي له بنګال نه سلطنتي راغوندۀ شوي عواید ځان ته کړي. په داسې حالت او موقعیت کې د هند شرقي کمپنۍ لپاره دوې لارې خلاصې وې: لومړۍ لار د امپراتور په توګه د شاه عالم په رسمیت پېژندل او په څرګنده د هغه له دریځ نه ملاتړ کول و او دویمه لار تر ساتنې لاندې راوستل او تر هغه منتظر پاتې کېدل، تر څو ابدالي خپل تصمیم اعلان کړي او خپل هېواد ته ستون شي. لومړۍ کړنه ممکنه وه چې د ابدالي د نارضایتۍ سبب شوې وای؛ خو له انګرېزانو سره د اتحاد لپاره په یوه چوکاټ کې د شاه عالم د ساتلو او لا زیاتې پابندۍ او د هغوی له منګولو نه د بهر وتلو د مخنیوي په خاطر دغه ډېره ښه وسیله وه. دویمه لار د منځنۍ لارې یو ډول و چې هېڅ یوه خوا به راضي او ناراضي نه کړي، خو له دغو دوو لارو هېڅ یوه تصویب نه شوه او په درېیمه لار ولاړل. یعنې پرېکړه دا شوه چې هڅه وشي چې شجاع الدوله د خپلو ګټو په لاره ورسم

کړي، تر څو له هغه نه د ابدالي او شهزاده ترمنځ د منځګړی په توګه ګټه واخیستل شي او هغه بوخت کړو، تر څو خپلو هڅو ته دوام ورکړي او ابدالي اړ باسي چې خپل ملاتړ له شجاع الدوله اعلان کړي.

انګرېزان له دې وېرېدل که چېرې د دوی د ځواکونو او د احمد شاه ابدالي د هندي پلویانو ترمنځ جګړه پیل شی، ممکنه ده اروپایي قدرتونه له فرصت نه ګټه واخلي او د برتانیې هندي شرقي کمپنۍ چې په لومړۍ مرحله کې ځای لري، تر جدي ګواښ لاندې راولي، خو «کرناک» نظر درلود چې د ابدالي له خوا موږ ته ګواښ نه متوجې کېږي، ځکه په ډهلي کې لا ستونزې دوام لري او د مراهټیانو د پیشوا له خوا به وېره موجوده وي چې د هند شمال ته یې د وړاندې تګ نیت درلود. په هر حال تصمیم ونیول شو، که چېرې د ابدالي له خوا یرغل پیل شو، نو په هغه صورت کې به انګلیسي قوتونه له «کرمناسا» څخه واوړي او د جګړې ډګرونه به د شجاع الدوله په سیمو کې محدود شي. ژر انګرېزانو خبر تر لاسه کړ چې شجاع الدوله په بنګال کې د عوایدو راغونډولو څخه تېر شو. د ۱۷٦۱م.کال د اپریل په نیمایي کې له کلکتې څخه خبر راورسېد چې ابدالي په رښتیا هم له ډهلي وتلی دی او خپل هېواد ته روان دی. انګلیس په هماغه شېبه کې نه پوهېده چې احمد شاه ابدالي د شیعه اوسني او د شجاع الدوله او درانیانو د پلویانو ترمنځ لانجې وروسته په عصبانیت سره دراني لښکر ځای پرېښودلی او که څنګه؟ احمد شاه ابدالي د ۱۷٦۱م.کال د مارچ په اوومه د خپل قلمرو په لور شاتګ کړی و. بنا پر دې کرناک فکر وکړ چې هر ډول

ليکنې اړيکه د ابدالي سره غيرضروري ده، ځکه هغه مخکې ډهلي پرېښې او افغانستان ته د تګ په حال کې دی. کله چې د ونسيتارت يقين حاصل شو چې د ابدالي له خوا نور زيات خطر نه شته، د ډهلي له دربار سره د مير قاسم ليکنې اړيکې په باب يې هېڅ اعتراض ونه کړ. د ۱۷۶۱م.کال د اپريل په نولسمه يې مير قاسم ته وويل چې ممکنه ده چې شاه او شجاع الدوله ته ليکونه واستول شي؛ ځکه چې په هغوی کې د دوستۍ له تضمين پرته نورې غوښتنې وجود نه لري.

کله چې احمد شاه ابدالي له پنجاب تېرېده، په پرله‌پسې توګه سيکانو تر بريدونو لاندې ونيو. سيکانو افغان پوځيانو ته د بېرته راتګ پر مهال تر هغه د دمې او استراحت اجازه ورنه کړه، تر څو چې تر سند سيند راپورې نه وتل. هغوی د افغان لښکر د تګ لاره څارله او پر دوی يې تداركات بندول او هر تخريب يې چې د لاسه کېده، سرته يې رساوه؛ خو هېڅکله يې پر افغانانو د نېغ بريد جرأت نه درلود. احمد شاه له زياتو ستونزو ګاللو سره لاهور ته ورسېد او له هغه ځايه يې خپلې لښکرې د سيکانو مقابلې ته واستولې، خو ويې نه کولی شول چې په بشپړ ډول يې وځپي.[1]

د دراني احمد شاه بري په پاني پت کې د مراټيانو رول او دريځ په پنجاب کې د حکومت د دوام لپاره کمزوری کړ. «خو د پاني پت د جګړې پايلې، د ګټې اخيستنې له پلوه په بشپړه توګه نامتناسبې او بې ګټې وې.»

---

۱ - بيرندرا وارما، افغان ها و کمپني شرقي بريتانيا، مترجم: احمد ا. فضلي، کابل: انتشارات اميري، ۱۳۹۹، ۳۸-۳۰مخونه.

احمد شاه ابدالي د خپلو برياوو له موقعيت څخه په بشپړه توګه ګټه تر لاسه نه کړه. هغه پخپله د مغولو د سلطنت پر خالي تخت کېناست. هغه په هغه وخت کې د هند له ملي بحران سره هوښيارانه چلند وکړ، ځکه د احمد شاه لپاره ستونزمنه وه چې له هند د ټولو وسلهوالو قومونو سره تر پايه جګړه وکړي او آرام يې وساتي، ځکه د ده د حاکميت مرکز کابل (هغه وخت مرکز کندهار و) ډېر لرې و او ممکنه نه وه چې خپل مرکز د ټولو امکاناتو سره وساتي. د احمد شاه سپاهيان چې په سرشارو غنيمتونو او برياوو ماړه شوي وو، هغه يې اړ باسه چې کابل ته ستون شي.

احمد شاه ابدالي د هغو سيکانو له لاسه چې په پنجاب کې يې مزاحمت کاوه، هغه ته د اندېښنې په يوې منبع بدل شوي وو او ډېر ترې په تنګ راغلی و. هغه سيکان ځکه نه شو هېرولای چې د ډهلي نه د بېرته راتګ پر مهال يې د هغه مزاحمت کړی و او نه يې شول کولای چې هېر يې کړي او ويې بخښي. هغه چې کوم تشکيلات د پنجاب لپاره جوړ کړي وو، د ده په غيبت او نشتوالي کې د سيکانو لهخوا زورول شوي وو. له همدې امله د ۱۷٦۲م.کال په پيل کې يو ځل بيا احمد شاه ابدالي د سيکانو د بشړ او دايمې ځپلو لپاره پنجاب ته ورسېد. پر هند د ابدالي بريد په ټول هندوستان کې د ويرې موج خپور کړی و. شاه عالم هم خبر شو چې ابدالي د هند په نيت تر لاهوره رارسېدلی دی. عمومي اوازه خواره وه چې ابدالي له لوی لښکر سره ډهلي ته ننوتی دی، خو د معلوماتو دغه برخه د لکنو د مسيحي کشيش (روحاني او پيشوا) په ليک سره ډېر ژر رد

شوه. هغه په خپل ليک کې انگرېزانو ته خبر ورکړی و چې احمد شاه ابدالي تر اوسه د لاهور او سرهند ترمنځ د سيکانو سره په جگړه اخته دي. دغه راز جوته شوه چې نجيب الدوله په کلکه له ابدالي جريان سره يوځای شو او هغه باوري و چې شاه په پوځي سفرونو کې مرسته ورسره کوي. د دغو معلوماتو د پاملرنې وړ برخه د شجاع الدوله سره د مير قاسم د ايتلاف جوړولو او له هنده د اروپايانو د ايستلو په اړه وه. بې له شکه د انگرېزانو لپاره وضعيت ډېر جدي و، خو ابدالي له لاهور څخه وړاندې ولاړ نه‌شو. د افغانستان پاچا ډېر زيات د سيکانو په ځپلو کې بوخت شوی و. هغه د ۱۷٦۲م.کال د فبرورۍ په پنځمه د کوپ په جگړه کې د هغوی پر ځواکونو سخت گوزار وکړ او د سختې ماتې او زيات قتل عام سره مخامخ شول. احمد شاه نهه مياشتې په پنجاب کې د سيکانو په ځپلو تېرې کړې. د ۱۷٦۲م.کال په دسمبر کې بېرته افغانستان ته وگرځېد او د لاهور د ساتلو لپاره يې يوه کوچنۍ پوځي قطعه پرېښوده، خو د ده په ستنېدو سره وليدل شول چې سيکان د پنجاب له مختلفو پټن ځايونو او ورانيو څخه راووتل. افغانانو په څو جبهو کې ماتې وخوړله او لاهور دوباره د سيکانو په لاس ورغی. دا په رښتيا د سيکانو لپاره لويه لاسته راوړنه وه چې د احمد شاه په مقابل کې بريالی شول، احمد شاه يوازې يو ماجراجو نه و، بلکې يو بااستعداده او د اوضاع له واقعيتونو د سم درک لرونکی سرباز او يو روښانه سياستمدار و.

د احمد شاه له فعالينو څخه د ۱۷٦۲م.کال له دسمبر څخه د

۱۷٦۴م.کال تر اکتوبر پورې یعنې له پنجاب څخه تر راګرځېدو وروسته بیا پر هند باندې تر اووم برید پورې چې په لاهور کې یې خپل موقعیت تثبیت کړ، هېڅ خبر نه شته. احمد شاه د ۱۷٦۵ نه تر ۱۷٦٦م. پورې په هېواد کې پر اداري چارو او نورو مسایلو بوخت و او فرصت په لاس کې نه و چې د پنجاب پر چارو بوخت شي.

بنا پر دې د ۱۷٦۲م.کال د دسمبر او د ۱۷٦٦م.کال د نومبر ترمنځ دوره د هند شرقي کمپنۍ د استراحت دوران و، خو په عین حال کې د هغوی لپاره یو حادثه جوړوونکی فرصت و. په دې وخت کې انګلیس په هندوستان کې پر یوه ځواکمن لرونکي قلمرو باندې بدل شو او د امپراتور کېدو تصویر یې تر سترګو کېدو. په بنګال کې میر قاسم له قدرت نه عزل شوی و او پر ځای یې میر جعفر پیر صوبه‌دارۍ ته بیا ورسېد او په پای کې د بوژار جګړې په ۱۷٦۴م.کال د انګرېزانو حضور په شمالي هند کې قطعي کړ. د شجاع الدوله پر تسلیمېدلو سره «اوده» د هند شرقي کمپنۍ لاس ته ورغله او مغول امپراتور د یوه نیازمند په توګه د برتانوي کمپنۍ په درګاه بدل شو. د بوژار په جګړه کې بري انګرېزان د بنګال په بالقوه اربابو تبدل کړل او هغو یې وهڅول تر څو خپل د توقعاتو میزان د هندوستان په نورو سیمو کې زیات کړي. مالي «دیواني» مرستو په ۱۷٦۵م. کې د برتانیې هندي شرقي کمپنۍ ټولو کاري بنسټونو ته په ټول هند کې بدلون ورکړ. د بنګال نه د مالیې راغونډول یوازې په هند کې له اروپایي ځواکونو سره د کمپنۍ د جګړو لپاره ګټور نه وو، بلکې د افغان ګواښونو په رفع کولو

کې هم اغېزمن تمامېدل. بنګال له پوځي نظره او همدارنګه د سیاسي ځانګړي موقعیت له پلوه ځانګړی ځای خپل کړی و. دا مهال بنګال یو برتانوي قلمرو و او د «اوده» ښار د سرحد داخلي دکتورینو په مرکز بدل شو. اوس د انګرېزانو وروستی هدف دا و چې ډهلي په یو شکل د شکلونو وخاري. د احمد شاه ابدالي د قدرت پراختیا او همدارنګه مراټیان، جټان او راجپوتان د موانعو په عنوان د انګرېزانو لپاره د پاملرنې وړ وو.

خو افغانان وروسته له دې په داسې دریځ کې نه وو چې د هند شرقي کمپنۍ لپاره د اندېښنې وړ وګرځي. په پنجاب کې د دوی پاتې کېدل په بشپړه توګه ستونزمن په نظر راتلل، د سیکانو له خوا د چالش سره مخامخ شوي وو. دا وضعیت د لویو ستونزو سره مل و. افغانان ناچاره وو چې په هغه ولایت کې تر خپل واک لاندې سیمې وساتي او ځینې وختونه د پوځي ځواکونو استولو ته هم اړ کېدل. احمد شاه ابدالي مجبور و چې د سیکانو په مقابل کې د شېر غوندې وجنګېږي، خو هغوی د ګېدړانو په څېر پټېدل او د احمد شاه مقابلې ته نه حاضرېدل. سیکانو بیا هم د احمد شاه پر وړاندې خنډونه جوړول چې د شاه عالم سره لیده کاته او مرسته ونه کړي او شاه عالم بې صبرانه د خپل قدرت او مقام د لاس ته راوړلو انتظار درلود. تر ۱۷٦۷م.کال پورې لا هم افغانانو بد موقعیت درلود؛ ځکه چې سیکان مخکې تر دې د سند سیند څخه ترجمنا پورې د دغو سیمو اربابان ګرځېدلي وو او د احمد شاه ابدالي پر وړاندې یې له خپلې لوېشت – لوېشت خاورې نه دفاع کوله.

د ۱۷٦۷م. کال په جنورۍ کې «کليو» وليکل: «ما ته چې کوم وروستي معلومات رسېدلي، لاهور ته د احمد شاه ابدالي رسېدل تاييدوي او د هغه پخواني دښمنان «سيکان» نه‌شي کولای هغه له هند نه منع کړي. ابدالي به درېيم ځل لپاره ډهلي ته راشي».

ونسيتارت دغه راز په خپل ليک کې د مېرمن «آن پالک» په نامه دې لښکرکشۍ ته اشاره درلوده او ليکي چې «ابدالي سيکانو ته ماتې ورکړې ده او مجبور يې کړل تر څو يوه اندازه پيسې د سل زره سواره نظام پر سر مخکې له مخکې ورکړي. احمد شاه ابدالي د امپراتورۍ مشرانو ته ليکلي وو چې د پيسو او وسلو په شمول له ده سره يوځای شي او په ليک کې راغلي وو چې نيت لري د هندوستان د پاچاهۍ پر تخت کېني. له دې امله ممکن دي چې زموږ پخوانی دوست شاه عالم پاچاهۍ له لاسه ورکړي. همدارنګه ګزارش ورکړل شوی و چې احمد شاه ابدالي تياری نيسي چې د ډهلي له خوا د انګرېزانو پر موقعيتونو په بنګال کې بريد وکړي. د اطلاعاتو دغه برخه چې ابدالي د هندوستان سلطنت د ځان لپاره غوښت، د نورو معاصرو منابعو له‌خوا تاييد شوې نه ده. حتا که په دې اړه څه شی موجود نه و، دغه حقيقت محض يوه اوازه وه چې د هند په شمال کې خپره شوې وه، د احمد شاه ابدالي يرغل دغه وخت په بنګال کې وحشتناکه وېره خوره کړې وه.

انګرېزان ډېر سخت انديښمن وو چې اوس به احمد شاه ابدالي له زياتو لښکرو سره هند ته راشي. هغوی ته ګزارش ورکړل شوی و چې د هغه تر

قومندي لاندې ډېر منظم پوځ دی، نسبت هغه ته چې په پاني پت کې يې د مراهټيانو لښکرو ته ماتې وړکړې وه. ابدالي يو ځل عزم لري چې له ډهلي وړاندې ولاړ شي. شاه په دغه تصميم سره يا د مير قاسم تر اغېز لاندې دی يا د بنګال ثروتونو اغوا کړی دی او کوشش کوي چې د انګرېزانو په سرحدونو کې نفوذ وکړي يا حتا دغه ولايتونه په خپل اختيار کې واخلي. همدارنګه مشخص شول چې ابدالي د ځو شهزادګانو او د امپراتورۍ د امير د حضور پر بنسټ دستورونه د جګړې په ډګر کې صادر کړي وو. دې موضوع په کافي اندازه انګليس قانع کړی و چې ابدالي يو مهم اقدام طرحه کړی چې د هند سوله او سياست به تخريب کړي. هغوی نه شي کولای د شاه عالم په ملاتړ حساب وکړي، ځکه هغه د احمد شاه ابدالی له خوا د هند د امپراتور په توګه ټاکل شوی دی. انګرېزانو د مغولو د شاهنشاه د وفادارۍ او اطاعت سره – سره پر هغه باور نه کاوه او نه يوازې اختيارات يې نه ورکول، بلکې هغه يې په الله آباد کې پر يوه زنداني تبديل کړی و. هغوی قول ورکړی و چې هغه به تر ډهلي پورې د يوه ساتونکي ګارد په وسيله بدرګه کوي او دغه ژمنه يې کال په کال تکراروله، خو لا اجرا شوې نه وه. منيرالدوله د شاه عالم ارشاد مشاور هم د ابدالي په باب ښه نظر درلود. انګرېزانو د ابدالي له رانږدې کېدو څخه وېره درلوده چې شاه عالم شايد خپله لاره بدله کړي او د افغانانو له سر لښکر سره يوځای شي. شجاع الدوله هم له ابدالي ملاتړ کاوه؛ ځکه وېرېده که احمد شاه ته لبيک ونه وايي، اړ به شي چې د احمد شاه غوسه تحمل کړي. علاوه پر دې نجيب

الدوله د احمد شاه نږدې کس و او روښانه وه چې  هغه هم د شاه عالم په ګډون د احمد شاه ابدالي سره یوځای کېږي. په ډهلي کې ظاهري وارث شهزاده جوان بخت او ملکه زینب محل بې‌صبرانه د ابدالي پاچا د راتګ انتظار درلود، ځکه هغوی له انګرېزانو څخه د امپراتور د آزادېدو هیله یوازې د احمد شاه ابدالي په وس او قدرت کې لیدله. په دې ډول ډهلي ته د احمد شاه ابدالي راتګ او د بنګال په لور د لښکرکشیو دوام انګرېزانو د خپلې برترۍ پر وړاندې د ښکاره ګواښ په توګه لید؛ له دې امله هغوی کوښښ کاوه چې امپراتور ابدالي ته اجازه ورنه کړي، تر څو له منیرالدوله، شجاع الدوله او د امپراتور شاه عالم سره ووینې؛ همدارنګه انګرېزانو د یوې اتحادیې د جوړولو وړاندیز وکړ چې مراهټیان، امپراتور شاه عالم، د اوده وزیر او نواب، روهیلان او جټان د احمد شاه ابدالي پر ضد په کې راغونډ شي. احمد شاه د دغې اتحادیې له جوړولو چې مراټیان، شجاع الدوله او انګرېزانو د ده پر ضد متحدېږي، خبر شو. هغه په بیړه او په سخته ژبه یو لیک «راغونات رائو» ته چې د مراټیانو پېشوا کېده، ولکیه، که چېرې د پانې پت د فاتح پر خلاف خبرو باندې عمل  وکړي، د هغه پر ضد به یرغل او جګړه پیل کړي. «راغونات رائو» پرته له غبرګه له صحنې ورک شو او «اِندور» ته ولاړ او شجاع الدوله د ټولو هڅو سره – سره راونه ګرځاوه او د هغه په راګرځولو کې ناکام شو. «ورلست» یو شخصي لیک «رغونات رائو» ته وکاږه چې د احمد شاه پر ضد له انګرېزانو سره یوځای شه، خو هېڅ شی یې ونه کولی شول چې «راغونات رائو» شمال ته وګرځوي. په لنډ وخت کې احمد

شاه ابدالي مراهټیانو ته ولیکل چې هېڅ نیت د تاسو د مجازاتو لپاره نه‌لرم او پرېکړه مې کړې چې پټنې ته مخامخ یو مارش وکړم، تر څو شجاع الدوله او نور سرداران حساب ورکولو ته حاضر کړم، په ځانګړې توګه په تېر کې هغه غنیمتونه چې د بنګال له معزول نواب میر قاسم بدبخت څخه یې په لاس راوړي وو.[1]

شاه عالم غوښتل د ابدالي له مناسب موقعیت څخه د ځان په ګټه خپل هدفونه لاس ته راوړي. هغه غوښتل د اتحاد یو تړون له افغانانو سره لاسلیک کړي چې پر هند د ده د حاکمیت او مقام د تثبیت په برخه کې ورسره مرسته وکړي، خو شاه عالم د انګرېزانو په لاس کې لوبدلی و، د هغو کسانو په لاس چې په کافي اندازه هوښیار وو چې په ظاهر کې یې شاه عالم ته خپله وفاداري او اراده ساتله. «ورلست» مخکې له مخکې ډاډ ورکړی و، تر څو چې ابدالي په هند کې وي؛ هغه به خپل ټول ځواک د امپراتورۍ د چارو تنظیم او د تیمور د سلطنتي کورنۍ د نېکمرغۍ او هوساینې لپاره وقف کړي. شاه عالم د انګرېزانو له طرحو زیات بدګومانه و او همدارنګه هغه غوښتل چې منیرالدوله د احمد شاه ابدالي دربار ته د استازي په توګه واستوي. نجیب الدوله هم د منیرالدوله د استولو پلوی و (هغه پخپله د احمد شاه په دیوان کې د مذاکرې او دوستانه اتحاد لپاره اعتبار درلود.» منیرالدوله د نجیب الدوله د فکري خط سره موافق و؛ خو

---

۱ - بیرندرا وارما، افغان‌ها و کمپني هند شرقي بریتانیا، مترجم: محمد ا. افضلي، کابل: انتشارات امیري، ۱۳۹۹، ۴۷-۳۹مخونه.

د احمد شاه لښکر ځای ته مخکې له تللو يې وغوښتل چې د «ورلست» پر دريځ باندې پوه شي چې د هغوی له خوا به کوم روش غوره شي، که چېرې د احمد شاه ابدالي سره هندي قدرتونه مرسته وکړي، سيکان تسليم او پر هند بريد وکړي. «ورلست» د منيرالدوله ليک ته ځواب ونه وايه. بيا هم منيرالدوله د ۱۷٦۷م.کال د مارچ په درېيمه ورته وليکل او خبر يې ورکړ چې احمد شاه ابدالي پنجاب ته راغلی و، ټولو قوتونو پرته له امپراتور د مرستې غوښتنه ورڅخه کړې وه. هغه د «ورلست» نظر په دې اړه وغوښت چې آيا امپراتور کولی شي کوم مطلب احمد شاه ابدالي ته واستوي او که نه؟ «ورلست» مخکې اطلاعات تر لاسه کړي وو چې احمد شاه د ۱۷٦۷م.کال په اپريل کې له «ستلج» ښار څخه رااوښتی دی او د ډهلی په لور جنوب خوا ته روان و. په پايله کې «ورلست» د ۱۷٦۷م.کال د مارچ په اوومه منيرالدوله ته وليکل، زه فکر کوم چې د شاه عالم له خوا احمد شاه ته د خط ليکل د ده په ګټه نه دي او هغه هم د منيرالدوله ورتګ ځان ته نه مني، ځکه چې زيات شرارتونه به له دې کاره منځته راشي. هغه په دې فکر و، که چېرې جټان او روهيله په خپلو کې متحد شي او سيکانو ته په ځينو برخو کې د همکارۍ وړانديز وکړي، دا امکان شته چې احمد شاه ابدالي ماتې او شرم تحمل کړي. هغه منيرالدوله ته ډاډ ورکړ چې انګرېزان به له امپراتور شاه عالم څخه د احمد شاه ابدالی پر وړاندې دفاع وکړي.

«روبرت بارکر» د انګليس د درېيم کنډک پوځي افسر له شاه عالم سره د ۱۷٦۷م.کال د مارچ په ۲٦ ناسته درلوده او د نظرياتو د تبادلې په ترڅ

کې یې دا خبره پیدا کړه چې د افغانانو صدراعظم شاه ولي خان د روهیله سردارانو، لکه دوندي خان، حافظ رحمت خان، فیض الله خان او احمد خان ته لارښوونه کړې وه چې د احمد شاه لښکرځای بیاورغوي. د میر قاسم استازي احمد شاه ته د پیسو په اړه غتې ژمنې ورکړې وې؛ هغوی چې تر فشار لاندې وو، هیله‌مند وو چې ارباب یې غوښتنې ومني. موقعیت پرته له شکه مشکل و، که چېرې احمد شاه ابدالي د روهیله‌وو په مرسته ډهلي ته راوستل شوی وای. په دې اړه شاه عالم فکر وکړ چې ښه دا ده چې د دربار په ملاتړ او د احمد شاه سره د دوستۍ پر بنسټ د بحران مخه ونیول شي. منیرالدوله له «ورلست» څخه خواهش وکړ، که احمد شاه تصمیم ونیو، د دوو یا درېوو کلونو په موده په هند کې پاتې شي او د روهیله مشران ورسره یوځای شي، خو «ورلست» د دغه ډول اتحاد عواقب خطرناک وګڼل او ویې ویل چې دا به د انګلیس لپاره مشکل وي چې هغه دفع کړي. له دې امله هغه له «ورلست» څخه غوښتل، دا چې تاسې فکر کوئ چې د احمد شاه سره اتحاد د دفع وړ نه دی، نو ما د احمد شاه دربار ته منسوب کړي، خو واقعیت دا و چې انګلیس د شاه عالم او احمد شاه د نږدېوالي مخالف او خنډ و. «ورلست» په ډېرو سختتو شرایطو کې شاه عالم مجبور کړ چې د احمد شاه سره د اتحاد د څرنګوالي په اړه یا د شاه په دربار کې د منیرالدوله په ګومارلو فکر وکړي او ورته یې ولیکل: «هېڅ اړتیا نه شته چې اعلیحضرت د احمد شاه د لښکرکشۍ په اړه د اندېښنې احساس وکړي. که چېرې هغه دې

خوا رانغی، مذاکره ورسره غیرضروري ده؛ که چېرې راغی او ناحقه یې غوښت چې پر دغه هېواد یرغل وکړي، طلاوې به ورته ډالۍ کړو او که راضي نه شو، نو دا د اعلیحضرت وفادارو متحدینو یعنې انګرېزانو ته بې‌احترامي ده. کوم قوتونه چې په پټنه کې دي، لارښوونه ورته شوې چې ټوله هندوستان په دې متقاعد کړي چې له اعلیحضرت شاه عالم سره د انګرېزانو د بیعت پیاوړتیا او رښتینی عزم د دښمنانو د ځپلو لپاره او د هرې پېښې د رامنځته کېدو لپاره تیاری ونیسي او د لکنو (لکنهو) په لور حرکت وکړي.

شجاع الدوله هم کوشش کاوه چې امپراتور شاه عالم له احمد شاه سره له ایتلاف څخه راوګرځوي. هغه ښه پوهېده چې احمد شاه له ده سره د انګرېزانو په نسبت ښه چلند نه کوي. هغه شاه عالم ته مشوره ورکړه چې د احمد شاه سره له اتحاد مخکې د انګرېزانو مرسته واخلي. دی د هغو معلوماتو په خاطر چې د احمد شاه او روهیله د توافق په اړه یې لرل، اندېښمن و. روهیله ډېر هیله‌مند وو چې له احمد شاه سره یوځای شي او خپل استازي یې د هغه لښکرځای ته وراستولي وو. شجاع الدوله د روهیله او احمد شاه ترمنځ د توافق په اړه مثبت نظر نه درلود، له دې امله هغه پر انګلیس کمپنۍ ټینګار کاوه، تر څو د هغوی پرضد د ځپلو اقدامات پیل کړی. هغه «ورلست» ته یو متل بیان کړ: «د چینې خوله ممکنه ده په یوه ستن وتړل شي؛ په داسې حال کې چې د سیل

(توپان) مخه په فيل هم نه نيول کېږي.»[1]

انګرېزانو غوښتل چټک اقدامات د اوده او بنګال د ساتنې لپاره وکړي. د دې لپاره چې دوی فکر کاوه چې شرايط داسې دي چې د احمد شاه ابدالي سره به د وزير نواب او شاه عالم د يوځای کېدو لامل وګرځي. رابرت بارکر د وزير نواب په اړه ډېر شکمن و او باور يې درلود چې وزير به له ابدالي سره يوځای شي. «ورلست» لومړنی فرصت غنيمت وګاڼه چې نواب وزير ته ډاډ ورکړي، تر هغه چې يو انګليس سړی په هند کې ژوندی وي، هغه به له هېڅ مرستې څخه چې هغوی يې ورکوي، محروم نه‌شي. «ورلست» هېڅ تمايل نه درلود چې په بېلابېلو دلايلو سره د روهيله‌وو پر ضد جګړه ونښلوي. لومړی په خپله د وزير قوتونه د دغه وړانديز لپاره کافي نه وو. دويم دغه ډول پانګونې نه شول کولای چې د مراټيانو له اتحاد پرته سرته رسېدلې وای او درېيم دا چې انګرېزانو نه شو کولای چې لازمې مرستې وکړي؛ ځکه ممکن دي د هغوی سربازان په بل ځای کې وجنګېږي. «ورلست» نواب وزير ته وويل که چېرې انګرېزان پر روهيله‌وو باندې بريد وکړي، روهيله پر احمد شاه فشار راوړي چې د نوابانو پر قلمرو د شمال له خوا حمله وکړي. د هغه پوځ دومره ځواکمن نه وو چې وکولای شي په بري سره د احمد شاه پر وړاندې ودرېږي او په پايله کې د ده قلمرو د ابدالي لښکر له خوا تر بريد او لوټمارۍ لاندې راځي. «ورلست» د شجاع

---

[1] - هماغه اثر، ۴۷ – ۵۰ مخونه.

الدوله سره د نیول شوو تدبیرونو په اړه چې د سرحدونو د امنیت د نیولو په مقصد یې د احمد شاه د بریدونو پر وړاندې نیولي وو، اندېښمن وو. د ۱۷٦٥م.کال تړون لا مخکې له شجاع الدوله سره د انګرېزانو د مرستو او د هغه له حکمرانۍ څخه وایي د دفاع په موخه ژمنه کړې وه، خو تر دې اندازې چې د انګرېزانو د امنیت سره په ټکر کې نه وي.

په تړون کې د نومورې مادې لیکل د انګرېزانو د شاتګ لپاره یو فرصت و، خو په هغه حالت کې یې د انګرېزانو متحدینو ته هم چانس ورکاوه چې له احمد شاه سره یوځای شي او د انګرېزانو حیثیت یې د محدودې او خودخواهانه پالیسۍ په وجه له ځمکې سره واهه. «ورلست» شرایط درک کول او نواب وزیر ته یې وعده ورکړه چې انګرېزان به ستا د حکمرانۍ په دفاع کې مرسته کوي. هغه دغه راز دا مطلب د هغه لپاره ښکاره کړ چې د انګرېزانو قوتونه د احمد شاه د متحدو ځواکونو پر وړاندې د جټانو او روهیله‌وو په څېر تیار دي. په دې ډول هغه نواب وزیر ته توصیه وکړه چې د احمد شاه له پوځ سره مقابله سخته ده، ځکه د هغه پوځونه په عمده ډول سواره نظام جوړوي، اړتیا ده چې یو ځواکمن د سورو پوځ جوړ کړي. همدارنګه له هغه وغوښتل شول چې خپل مامورین جټانو او روهیله‌وو ته ور واستوي، تر څو مشترک دښمن پر ضد د یوې مناسبې اتحادیې د جوړولو لپاره له هغوی سره تفاهم وکړي.

«ورلست» ته خبر ورکړ شو چې د روهیله‌وو مشرانو له احمد شاه، د هغه

له صدراعظم شاه ولي خان څخه ليكونه تر لاسه كړي وو او څرګندېده چې د شاه خوا ته بشپړ ميل لري. نجيب الدوله پنجاب ته د احمد شاه له راتګ څخه ډېر خوشحاله و او اعلان يې وكړ كه چېرې شاه امر وكړي، دى به د هندوستان له لويانو دوه كروړه روپۍ راغونډې كړي او د هغه له زامنو څخه به يو د ډهلي پر تخت كينوي. هغه وكيل «رائومګ راج» ته سفارش وكړ چې د شاه دربار ترميم او اطلاع وركړي چې هغه مايل دى چې له افغان پاچا سره ملاقات وكړي، كه چېرې شاه تر سرهند وړاندې راشي. «ورلست» ډېر ژر پوه شو چې د نجيب الدوله وكيلانو، جواهر سينګ جت او مير قاسم د مشرانو د احترام مراتب احمد شاه ته چې «شيور تيلى» ته رارسېدلى و، وړاندې كړل. د روهيله‌وو او جټانو حركتونه انګرېزانو ته د خطر زنګ او خبردارى و. «ورلست» شجاع الدوله ته خبر وركړ چې عسكر سورج پور ته واستول شول او په هر ډول چې كولاى شي، روهيله‌وو، جټانو او مراټيانو ته قناعت وركړي چې د انګرېزانو سره ايتلاف وكړي. «ورلست» باور درلود چې دغه ډول حركت به د ابدالي په مقابل كې د يوې ځواكمنې اتحاديې د جوړولو رهبري پر غاړه واخلي.

«ورلست» عقديه درلوده چې روهيله او جټان هماغه خوا ته نه ځي او خپلې سيمې به احمد شاه ته تسليم نه كړي، خو رارسېدلي خبرونه په ډاګه كوي چې نجيب الدوله افغان له احمد شاه څخه ليكونه راوړي وو او په پايله كې نجيب الدوله  سرهند ته د احمد شاه د ليدلو لپاره ولاړ شوى

و. «ورلست» منیرالدوله ته لاربښوونه وکړه چې خبر واخلی چې آیا د روهیله-
وو نور سرداران لکه حافظ رحمت خان، دوندي خان او احمد خان هم د
احمد شاه خوا ته د ورتګ نیت درلود، تر څو هغه ته د احترام مراتب ادا
کړي او د هغه مهرباني د ځان لپاره په پیسو واخلي؟ «ورلست» دغه راز
حافظ رحمت خان ته لیک وکاږه او د وخت سره سم یې هغه تر فشار لاندې
راوست، تر څو معلومه کړي چې آیا د احمد شاه فشار یې په صبر سره
تحمل کړي او ځان شرموي او که له هغه سره جنګېدل د ځان ویاړ ګڼي.
«ورلست» تمایل درلود چې د روهیله او جټانو سرداران باید د انګلیس او
نواب وزیر ترمنځ له جوړ شوي ایتلاف سره چې د احمد شاه ابدالي پر
وړاندې فعالیت کوي، یوځای شي. د جټانو رئیس «جواهر سنګ» له احمد
شاه سره ښې اړیکې نه درلودې او له هغه زیات ډارېده. هغه محمد رضا
خان ته وړاندیز کړی و چې باید له خپل نفوذ نه په ګټې اخیستنې د
انګلیس لپاره کار وکړي، تر څو له انګلیس سره ایتلاف چې احمد شاه ته
د ماتې ورکولو په موخه جوړ شوی، وکولای شي، یو ښه خپله کړي. له بلې
خوا نجیب الدوله پر احمد شاه باندې سخت فشار راوړ چې مخکې ولاړ
شي او د ډهلي پر تخت باندې پاچاهي وکړي، تر څو احمد شاه وکولای
شی د هندوستان ټولې چارې تنظیم کړي. احمد شاه ابدالي ډېر ناراحته
و، له دې امله چې د هندوستان له مشرانو څخه هېڅ یو د هرکلي په موخه
د ده مخې ته رانغی. هغه د ډهلي په لور د لښکرکشۍ پرېکړه وکړه، خو
نجیب الدوله د قهر په حال کې احمد شاه ولید او هغه ته یې وویل چې د

ډهلي په لور وړاندې تګ د دغه هېواد د اوسېدونکو ترمنځ به د يوه عمومي جنګ لامل وګرځي. هغه له احمد شاه سره د يوه سازش په جوړولو سره ۲۵ لکه روپۍ ابدالي ته ورکړې او هغه يې آرام کړ. دغه اندازه پيسې د روهيله، جټانو او راجپوتانو د مشرانو له خوا په ګډه برابرې شوې وې. موضوع په دې ډول حل شوه چې نجيب الدوله او حافظ رحمت خان هر يوه پنځه لکه روپۍ، دوندي خان او مدهو سنګ هر يوه دوه نيم لکه روپۍ او جواهر سنګ جټ لس لکه روپۍ ومنلې. همدارنګه پرېکړه وشوه چې د سرهند او د بيس او ستلج ترمنځ د سيمو مسؤليت نجيب الدوله پر غاړه واخلي. احمد شاه ابدالي د سيکانو د بغاوتونو د غلي کولو په موخه سرهند ته چټک حرکت وکړ.

د انګرېزانو له تودو فعاليتونو څخه احمد شاه خبر شوی و او هغه په خپلو پرېکړو کې دا لازمه وليدله چې ډهلي ته له روانيدو مخکې لومړی بايد په پنجاب کې د سيکانو بغاوتونه وځپي، تر څو بې‌خطره ډهلي ته ننوځي. د برتانيې ختيځې هندي کمپنۍ فرصت په لاس راوړ او يوه جامع دفاعي برنامه يې د افغانانو د مشر د تيري پر وړاندې ترتيب کړه. وروسته له مناسبې مشورې پر عملياتي برنامه باندې په لاندې ډول موافقه وشوه:

الف – د درېيمې فرقې قومندان ته دې په فوري توګه لارښوونه وشي چې پنځه کنډکونه له وړ عسکرو سره او شپږ پلي قطعې جلا کړي، تر څو ډېر ښه موقعيت په سراجپور کې ونيسي.

ب – ډهلي ته د احمد شاه د ننوتلو او د وړاندې تګ د نیت په اړه د ډېرو اطلاعاتو تر لاسه کولو وروسته په فوري توګه دویمې فرقې ته لارښوونه وشي چې د میرزاپور او چونارګر ترمنځ په یوه ډېر ښه ځای کې لښکرځای جوړ کړي.

ج – د درېیمې فرقې پاتې پرسونل باید د سراج پور لښکرځای ته ولاړ شي.

د – لومړۍ فرقې ته هماغه وخت لارښوونه شوې وه چې د بنکیپور لښکرځای په خپل واک کې وساتي او په مونګیر کې یو کنډک تکړه عسکر پاتې شي.

هـ - د ابدالي د وړاندې تګ په صورت کې دویمې فرقې ته هم لارښوونه وشي چې له درېیمې فرقې سره د یوځای کېدو په خاطر سراج پور ته ولاړه شي.

و – دغه ډول لارښوونه په عین وخت کې لومړۍ فرقې ته هم کېږي چې له بانکي پور څخه د ښو موقعیتونو د نیولو په خاطر حرکت وکړي او په دغه سیمه کې ښه موقعیتونه ونیسي.

ز – که چېرې ابدالي زموږ د متحدینو پر قلمرو باندې برید کوي او لاس ته راغلي اطلاعات اثبات او تایید شي، په سراج پور کې زموږ پوځ باید د سیمې د ټولو فرقو او کنډکونو د سربازانو په وسیله پیاوړي شي.

ح- لومړۍ فرقه نه باید زیاته کمزوري شي، ځکه پرېکړه داسې وه چې د دښمن د اصلي لښکرو د بریدونو پر وړاندې په ټولو ولایتونو کې د

سرحدي گارد په توگه پاتې شي.

ی- ډگروال اسميت دې ژر په سرحد کې د پوځ قومنده پر غاړه واخلي او نوموړي عمليات دې رهبري کړي.[1]

د دغو اقداماتو د سرته رسولو پر وړاندې د هر ډول ځنډ د مخنيوي لپاره انتخابي کمېټې روبرت بارکر ته يو ليک وليکه او ويې ويل: «که څه هم واټن او د پوځي سفرونو ستونزې او دغه راز مخالفتونه چې په لاره کې د سيکانو له خوا رامنځته شوي، دا احتمال برابروي چې هغه په سراجپور کې پوځي مرکزونه لري. په دې منظور موږ مصمم يو چې خپلو متحدينو ته وښيو چې د هغوی قلمرو له هر ډول تيري څخه وساتو. له دې امله تاسو ته لارښوونه کېږي چې د بومي سپاهيانو څخه پنځه کنډکونه او له درېيمې فرقې څخه شپږ قطعې د سراجپور د دفاعي کرښو د نيولو لپاره جلا کړي او موږ هغه تاسو ته په واک کې درکوو، چې يا د هغو قطعاتو قومنده پر غاړه واخلئ يا په فرقه کې پاتې شئ او هر ډول چې د خدمت لپاره اړينه گڼې.»

ډگروال اسميت اوضاع ته په جدي کتو سره وويل: «که چېرې ما ته اجازه راکړل شي چې په هندوستان کې د اوسنۍ اوضاع په اړه قضاوت وکړم، موږ د خپلې راتلونکې آرامۍ لپاره بايد ډېرو شيانو ته پاملرنه وکړو. که چېرې شاه يو ځل ډهلي ته راشي، موږ بايد تصور وکړو چې هغه نيت لري چې په ختيځه خوا کې نفوذ وکړي او په پای کې له موږ نه د ابتکار

---

۱ - هماغه اثر، ۵۱-۵٦ مخونه.

عمل واخلي، په دې دليل ډېره واضحه ده چې زموږ لپاره به ډېر ناوخته وي چې له څو قدرتونو سره مذاکره وکړو، هغه هم هغه وخت چې د احمد شاه عملياتونه هغوی او موږ متقاعد کړي چې زموږ د متحدينو قلمرو يا دا ولايتونه په چټکۍ سره تر بريد لاندې راولي. هغه د انتخابي کمېټې له نظر سره په دې برخه کې چې په دې هېواد کې مېشت انګليسي ځواکونه د بنګال ولايت د دفاع لپاره کافي دي، موافق نه و. په همدې دليل هغه غوښتل چې د انګليسي ځواکونو قدرت لوړ کړي. هغه د ۱۷۶۷م.کال د مارچ په ۲۷ نېټه منتخبې کمېټې ته وويل چې د دغو درو فرقو عسکر يوازې ۱۸ کنډکونه دي. له دغه شمېر څخه موږ بايد د مونګير، چنار او الله آباد قشلې (پوځي مرکزونه) جوړې کړو او له دې مخې ټول ځواکونه چې زه يې د خدمت لپاره په دې حوزه کې ولرم، له ۱۵ کنډکونو به زيات نه شي. هغه همدارنګه په ځواکونو کې د سوارو نظام نشتوالي ته اشاره وکړه. «زموږ پوځ په بشپړه توګه له پلي او توپچي نظام څخه تشکيل شوی دی او دښمن د سوارو نظام داسې جوړښت لري چې که له هغه په سمه توګه ګټه واخلي، کولای شي موږ بې‌اندازې زيات آزار کړي. هغه همدارنګه توصيه وکړه چې د سوارو نظام برخه د پاملرنې وړ ارتقا ومومي او بايد د بنګال د پوځ د پياوړتيا له پاره په فوري ډول له مدراس څخه يو اضافي پوځي واحد راوغواړو. منتخبې کمېټې د مدراس مقاماتو ته د يوې قطعې اروپايي افسرانو د رااستولو په موخه ليک وکاږه. دغه راز توافق وشو چې دويمه فرقه په عاجله توګه الله آباد ته ولاړه شي. دا موضوع د کمپنۍ د ملاحظاتو په

خاطر چې له احمد شاه او شجاع الدوله سره يې ښکاره نښته درلوده. په دې ډول پرېکړه وشوه چې اروپايي سربازان سورج پورته د تگ پر ځای د جمنا يا گنگا غاړې ته نږدې د گرمی موسم په رارسېدو سره پاتې شي.

منتخبې کمېټې د دغو اقداماتو د چټکتيا په موخه «د احمد شاه ابدالي د ځان غوښتونکو هدفونو د تعقيب پر وړاندې زموږ مېړني متحدين او د جټانو، روهيله‌وو او مرهټيانو په تحريک او مرسته د يوې ځواکمنې او د عمومي اتحاديې د جوړولو په موخه چې د احمد شاه مخه ډب کړي، بايد لاس په کار شو. دې کمېټې نه غوښتل انگليسي عسکر له سورج پور څخه بهر واستوي، ځکه «وړاندې تگ يوازې د سيمو د سرحدونو پراخول دی چې مخکې مو پراخ کړي او اوس يې بايد دفاع وکړو.» له ډگروال اسميت څخه الله آباد ته د تگ په درشل کې وغوښتل شول، تر څو هوښيار پاتې شي؛ ځکه گومان کېږي چې نواب وزير هغه اړ باسي چې «د نورو قوتونو د راوړلو په بهانه، د مثبت حضور د اعلان په موخه د روهيله‌وو سيمو ته ورشي.» همدارنگه له هغه غوښتل شوي وو چې د شاه عالم ولاړه او ناسته وڅاري تر څو له احمد شاه ابدالي سره يوځای نه شي. نوموړي کمېټې نه غوښتل چې دويمه فرقه له کرمناسا څخه وړاندې ولاړه شي؛ ځکه دې کار د بنگال پر امنيت اغېز ښنده.[1]

انگليسي مقاماتو پر واقعيت ولاړ سياست تعقيباوه، خو له «رابرت بارکر»

---

۱ - هماغه اثر، ۵۷ – ۵۹ مخونه.

ثخه لاس ته راغلي اطلاعات دا وو چې احمد شاه ابدالي خپل هېواد ته ستون شوی او البته وروسته له هغه چې د نجیب الدوله سره یې د ۲۵ لکو روپیو په بدل کې روغه جوړه وکړه. نجیب الدوله هڅه کړې وه چې شاه عالم او شجاع الدوله هم بې له ځنډه د احمد شاه غوښتنه ومني او ډالۍ ورولېږي، خو هغوی دواړو خپله بې‌وسي وښودله. په احتمال سره هغوی د «ورلست» پر غوښتنو باندې عمل وکړ. له نېکه مرغه په ۱۷۶۷م. کې د سیکانو سره د مقابلې لپاره د ابدالي بېرته ستنېدو انګرېزانو ته د آرامۍ احساس ورکړ.

په داسې حال کې چې احمد شاه ابدالي له سیکانو سره بوخت و، ده او صدراعظم شاه ولي خان «کلیو» ته لیکونه واستول. دوی دواړه خبر وو چې «کلیو» دغه مهال له بنګال څخه تبدیل شوی و او پر ځای یې «ورلست» ټاکل شوی و. دغه لیکونه په ۱۷۶۷م.کال د اپریل په اتمه «ورلست» له خپل مامور «مقیم بیګ» څخه تر لاسه کړل. دغه لیکونه «په ناآشنا او نامعلومو اصطلاحاتو سره لیکل شوي وو، خو په کنایه کې یو خبرداری و». احمد شاه ابدالي تعجب څرګند کړی و چې انګرېزانو ده ته هېڅ لیک نه و استولی، په داسې حال کې چې په هند زیاترو قدرتونو ده ته د احترام مراتب پر ځای کړي وو. دی هیله‌مند و چې پوه شي چې انګرېزان هغه ته صادق دي او که نه؟ شاه ولي خان هم له دې امله چې شاه عالم او نه انګرېزانو د ده مشر (احمد شاه) ته لیک نه و استولی، تأسف څرګند کړ. ورلست احمد شاه ابدالي ته ځواب واستاوه او هغه ته یې خبر

ورکړ چې انګرېزان دومره قوي شوي دي چې د اندېښنې لپاره هېڅ شی نه لري او په پام سره د ټولو پېښو او حوادثو څارنه کوي، تر څو وکولای شي د هېواد له آرامۍ او د امپراتورۍ د ټینګتیا سره مرسته وکړي. د تیمور د سلطنتي کورنۍ په وړاندې زموږ خدمتونه او د نواب شجاع الدوله سره زموږ دوستي ټول جهان ته څرګنده ده. لکه چې احمد شاه د مغول سلطنتي کورنۍ خیرخواه دی، په خپل څنګ کې یې په امن کې ګڼي او همېشه په هر کار کې چې په هغه کې د شاه لوړتیا، د هغوی د قانوني سلطنت هوساینه او آرامي او د امپراتورۍ امنیت د پرمختګ په‌کې ممکن وي، له هېڅ ډول خدمت کولو څخه دریغ نه کوي. همدارنګه ورلست شاه ولي خان ته په ځواب کې ولیکل او په دې یې ټینګار وکړ چې انګرېزان شاه عالم ته د اطاعت د چارو په سرته رسولو کې ډېر فعال دي او د نواب وزیر الملک شجاع الدوله نږدې همکار دي. هماغه شان چې ګټې او ویاړونه یې یوشان دي، هغوی نه شول کولای هېڅ کار پرته د یو بل له مشورې سرته ورسوي. ورلست وزیر ته ډاډ ورکړ چې انګرېزان همېشه تیار دي چې په هر اقدام او کار کې چې د شاه عالم، وزیرالملک او انګرېزانو د شان او شوکت، نېکمرغۍ او ګټو د تامین وړ وګرځي، له هغوی سره ملګري دي.

ورلست په چټکۍ سره د منیرالدوله له لارې خبر شو چې میر قاسم اوس له احمد شاه سره دی او د هندوستان د امپراتور او د تیموري لویې کورنۍ د راپرځولو په موخه طرح جوړوي. د میر قاسم هڅې د ابدالي د ملاتړ جلبولو په برخه کې ناکامې وې. ابدالي ډېر ښه پوهېده چې فراري

نواب به هېڅ کله هم د ده لپاره ګټور تمام نه شي. لکه چې دغه نواب په داسې موقعیت کې نه و چې وکولای شي مالي او نظامي مرسته ورسره وکړي. تر ټولو مهمه دا چې سیکانو ډېر پرمختګ کړی و او دا د احمد شاه لپاره ممکنه نه وه چې په اوږد وخت کې د دوی قدرت راکم کړي. بنا پر دې احمد شاه ابدالي د میر قاسم د ژغورلو لپاره نه و راغلی او د سیکانو پر وړاندې له اوږدو او غیرګټورو عملیاتو څخه وروسته یې هند پرېښود.

ځینې څېړونکي باوري دی چې احمد شاه ابدالي هېڅکله د دویم ځل لپاره هند ته لښکرکشي ونه کړه، خو د انګرېزانو د اسنادو سوابق په ډاګه کوي چې یوه بله لښکرکشي یې هم په ۱۷٦۹م.کال تر پنجابه رهبري کړې وه. د ۱۷٦۸-۱۷٦۹م. کلونو ترمنځ په شمالي هند کې اوازه شوه چې احمد شاه ابدالي قصد او نیت لري چې د خپلو دښمنانو د ځپلو لپاره هند ته سفر وکړي. دا خبر د ورلست لپاره په دې معنا و چې احمد شاه ابدالي لاربښوونه کړې وه چې توپخانه یې مخکې له مخکې اټک ته واستول شي، بنا پر دې هغه کولای شول چې د یخنۍ د موسم په اوږدو کې هند ته لښکرکشي وکړي او له توپخانې ګټه واخلي. ابدالي د بدخشان د ګډوډیو له شر وروسته نیت درلود چې په هندوستان کې د خپلو چارو تنظیمولو ته پاملرنه وکړي. هغه د کشمیر، ملتان او لاهور ولایتونه سلیم شاه ته ورکړل چې د ده په استازیتوب د هغوی اداره وکړي. ورپسې یې خپل استازي د جواهر سینګ ځایناستی راتان سینګ جت ته واستاوه. هغه حداقل شپېته لکه روپۍ وغوښتې چې له هغې اندازې سره برابرې وې چې جواهر سینګ

توافق پرې کړی و. په احتمال سره شجاع الدوله هم د افغانانو له پاچا سره په مذاکره بوخت و. دغه غوښتنې لامل وگرځېدلې چې احمد شاه هند ته لښکرکشي وکړي.

ورلست د ۱۷٦۸م.کال د اکتوبر په ۲۴ نېټه خبر شو چې احمد شاه ابدالي د لوی لښکر سره د اټک تر غاړې رارسېدلی و او سيکانو د برید شنډولو لپاره يې تیاری نيو. عمومي قوماندان ريچارد سميت هم له ورلست سره تماس نيولی و چې احمد شاه ابدالي تر لاهوره رارسېدلی دی. هغه ليکلي وو چې زه په دې برخه کې لازمه مشوره نه لرم، خو وزير شجاع الدوله په غوڅ ډول ډهلي ته د احمد شاه د راتگ خبره کوي. د ۱۷٦۹م.کال د مارچ په نهمه يو ځل بيا سميت خبر راولېږه چې احمد شاه ابدالي د «چناب» پر غاړه لنگر اچولی دی او د کشف ځواکونه يې د لاهور ځلوېښت ميلۍ ته رسېدلی دي. د ۱۷٦۹م.کال د مارچ په ۱۸ نېټه خبر رارسېدلی و چې احمد شاه د «جيلم» پر دې خوا په «گاوادر آباد» کې پوځي مرکز جوړ کړی دی.

ورلست ته رسېدلي اطلاعات د احمد شاه ابدالي د رانږدې کېدو خبر ورکوي، خو ورلست پخپله د احمد شاه له نيت څخه ډاډمن نه و، ځکه هغه باور درلود چې هغه له پنجابه وړاندې نه شي راتللی. له دې امله هغه سميت ته لارښوونه وکړه چې د احمد شاه د انگېزو او طرحو په اړه لومړني اطلاعات برابر کړي، تر څو دربېيمه فرقه چې په الله آباد کې ځای پر ځای

ده ممکن ده په لومړنۍ مناسبه لحظه کې له هغه ځايه وايستل شي. هغه دغه راز له سميت څخه وغوښتل چې وزير نواب ته خبر ورکړي چې هغه نه بايد د احمد شاه په رانږدې کېدو سره انديښمن شي، خو د اوده ښار امنيت ته د خطر په صورت کې ممکنه ده. د ۱۷۶۹م.کال د مارچ په ۱۹نېټه سميت منتخبې کمېټې ته خبر ورکړ چې ابدالي له اټک سره بېرته د ستنېدو په حال کې دی او د امپراتورۍ لپاره د هېڅ ډول خطر مزاحمت له هغه خوا تر بل دور پورې نه شته. احمد شاه ابدالي د لنډ وخت لپاره په هندوستان کې و او په پنجاب کې بوخت پاتې شو. په حقيقت کې هغه ونه کولای شول چې تر جيلم وړاندې تګ وکړي. د ابدالي د پلويانو ترمنځ ګډوډې او د لښکر په يوه برخه کې پاڅون احمد شاه دې ته مجبور کړ چې خپل هېواد ته وګرځي. د دې لښکرکشۍ د ناکامۍ په اړه راجا پارسود رای په خپل ليک کې ورلست ته دا معلومات ورکړي دي:

«له دې خوا سيمو څخه خبر دا دی چې احمد شاه ابدالي تر جيلم پورې راغلی و، خو د ده د پلويانو ترمنځ د پاڅون له امله اړ شو چې خپل هېواد ته ستون شي. د بېرته ستنېدو پر مهال د پېښور او کابل ترمنځ د ده په لښکر کې جنجال پېښ شو. ټول پوځي مرکز يې لوټ شو، ډېر قوماندانان او عسکر يې ووژل يا تيت او پرک شول. احمد شاه او وزير شاه ولي خان په ډېر ناوړه او پېچلي حالت کې د کندهار په لور روان شول. شجاع الدوله هم ورلست ته خبر ورکړ چې احمد شاه ابدالي يو له شرمه

ډک شاتګ کړی دی. له سیکانو سره په پنجاب کې اوږدې جګړې په حتمي ډول احمد شاه ابدالي هند ته په غیرګټورو لښکرکشیو باندې قانع کړی و. سیکانو ثابته کړه چې د احمد شاه ابدالي پر وړاندې یو نه ماتېدونکی ځواک دی.[1]

که څه هم د احمد شاه ابدالي خطر يې شنډ کړ، خو ورلست د بنګال د سرحدونو ساتل اړين ګڼل او الله آباد يې د شاوخوا سيمو د کلي (کنجي)، لوی او مهم ستراتيژيک موقعيت په توګه تلقي کاوه. هغه نه غوښتل چې انګليسي پوځونه له هماغه ځايه راوباسي، ځکه دې کار به د انګليسي قوتونو پر موقعيت باندې منفي اغېز ښندلی وای. د رئيسانو ديوان او دفتر مايل نه و چې ورلست ته اجازه ورکړي چې انګليسي قوتونه په هماغه ځای کې وساتي او هغوی د «فورت ويليام» مقاماتو ته وليکل چې زموږ ټول نظريات او انتظارات په «کرمناسا» پورې محدود دي. موږ بې صبرانه له الله آباد څخه د خپلو سربازانو راستنېدو ته منتظر يو. ورلست د رئيسانو د ديوان او دفتر لارښوونې پلي نه کړې. هغه غوښتل چې الله آباد د بنګال لپاره مخکينۍ دفاعي کرښې په توګه بدل کړي، هغه باور درلود چې په الله آباد کې ځای پر ځای شوې درېيمه فرقه کولای شي د ابدالي عملياتو پر وړاندې د يوه کنټرولي مرکز په توګه او دغه راز د شاه عالم او شجاع الدوله د سيمو د امنيت د تامينولو لپاره خدمت وکړي.

---

۱ - بیرندرا وارما، افغانها و کمپني هند شرقي بریتانیا، مترجم: محمد ا. افضلي، کابل: انتشارات امیري، ۱۳۹۹، ٦٥-۵۹مخونه.

د الله آباد په ګاونډ کې د چنار په نامه کلا واقع وه چې «ورلست» هغه له ستراتيژيک نظره د بنګال د امنيت لپاره په نظر کې نيولې وه. همدارنګه دې سيمې د قومندانۍ مرکزي موقعيت درلود او له دې امله انګليسي ځواکونه د وزير له سختو اعتراضاتو سره – سره هماغلته ځای پر ځای شول. نواب وزير ورلست ته وويل چې ما د «کليو» پر مهال منلې وه چې په کلا کې د انګرېزانو دوو ځارځايونو ته اجازه ورکړم چې کمپنۍ ذخيره شوې غلې دانې وساتي، خو اوس غلې دانې هلته زياتې نه دي، نوموړي ساتونکي بايد راوغوښتل شي. هغه همدارنګه د بنګال د برتانوي واکمن د ډاډ په خاطر يادونه وکړه چې د ابدالي له خطره وروسته په اوده کې د انګرېزانو پوځي مرکز او نور عسکر به شاته تګ وکړي. هغه په تدريج سره د انګليسي قرارګاوو په زياتوالي اعتراض درلود او څرګنده يې کړه چې پخوا دوه ځار ځايونه په چنارګر کې موجود وو او اوس دوه شرکتونه هلته ځای پر ځای دي. سره له دې هغه شکايت وکړ چې په چنارګر کې د انګليسي عسکرو د حضور په خاطر لويې بې‌نظمۍ هلته رامنځته شوې دي. ورلست د وزير د چلند او برخورد په اړه په ديپلوماتيکه ژبه وليکل چې د دواړو خواوو ګټې يو شان دي او په کلا کې د لږو ځواکونو ځای پر ځای کول د نه منونکي فشار لاندې نه بايد هغه اړ کړي چې غوسه پر ديوان باندې سره کړي او هغه ښه نيت او اړيکې چې د دوی ترمنځ ټينګې دي، له منځه ولاړې شي. د ديوان رئيسه هيات په چنارګر کې د ځواکونو ځای پر ځای کول تاييد نه کړل. امکان يې درلود چې هغوی د واقعي وضعيت له چارو

خبر نه درلود، ځکه په چنارګر کې د مېشتو انګلیسي ځواکونو په پیاوړتیا او زیاتولو سره د قومندانۍ یو اغېزمن مرکز په دغه کلا او د هغې په ګاونډیو سیمو کې په غوڅ ډول ساتل کېده.

د ورلست وروستی ګام د خطراتو پر وړاندې پیشبیني شوی نه و او د احمد شاه ابدالي پټ واقعات د کمپنۍ په پوځي تشکیل کې زیاتوالی راوستی و. هغه له مدیرانو وغوښتل چې حداقل «کلیو» له پیشنهاد شوي ځواک سره موافقه وکړي. په ضمن کې هغه د ابدالي خطر ته په کتو سره غوښتل چې خپل د سپرو نظام په نورو څلورو لواګانو سره زیات او پیاوړی کړي. د دیوان رئیسانو د ورلست کړنې تایید نه کړې او د پوځي لګښتونو په اړه یې سخته نارضایتي څرګنده کړه.

موږ له انګلیسي اسنادو پوه شو چې ابدالي هند ته د پوځي سفرونو د سازمانولو په موخه زیاتې هڅې کړې دي، خو پایلې یې نه دي ورکړې.

احمد شاه ابدالي د ۱۷۶۹م. په شاوخوا کې یوه بله هڅه وکړه تر څو د سرکشو افغانانو پام له کورنیو چارو څخه د هند د آبادو سیمو او ښارونو په لوري واړوي او په لاس یې راوړي، خو پلویانو یې تیاری نه درلود، تر څو د هند په لوري پوځي سفر وکړي. هغوی یوازې تر پېښوره پورې د احمد شاه ملتیا وکړه او ونه لیدل شول چې له سند سیند څخه راپورېوتل او که نه. یو ځل بیا انګرېزانو ته خبر ورسېد چې احمد شاه ابدالي له کندهاره پېښور ته سفر کړی دی او د بارانونو په ورېدو سره هندوستان ته د ننوتلو نیت

لري. همدارنگه په شمالي هند کې اوازه وه چې احمد شاه ابدالي د هند په لور پرمختګ کړی دی.

د ۱۷۷۱م.کال په پیل کې روهیله‌وو د مرهټیانو پر وړاندې د مرستې د جلبولو په موخه له احمد شاه ابدالي سره نږدې شول او مایل وو چې ۲۵ لکه روپۍ د هغه د لګښتونو په خاطر ورکړي. میرغلام حسین خان لیکي چې د روهیله‌وو مشرانو منلې وه چې ۲۵لکه روپۍ وزیر شجاع الدوله ته د مرستې په خاطر هغوی ته ورکړي، خو وزیر مرستې ورکولو ته حاضر نه شو، هغوی دغه شمېر روپۍ احمد شاه ابدالي ته ورکړي. د مراهټیانو رېښې ایستلو لپاره دوې لارې وې: یوه لاره دا وه چې د هندوستان ټول سرداران په خپلو کې متحد شي، دویمه لار د احمد شاه ابدالي راتګ و. هغه چې پر نواب دوندي خان باندې زیات باور لري او په قطعي توګه به هغه راشي، که چېرې د بنګال حاکم او دوندي خان هغه (ابدالي) ته ولیکي. که چېرې دی په خپله ونه کولای شي چې راشي، خپل زوی تیمور شاه شاید راولېږي. یو مثبت ټکی د ابدالي په اړه دا دی چې هغه په هېڅ صورت په هندوستان کې نه پاتې کېږي. هغه له سوبې وروسته ډېر ژر خپل هېواد ته ستنېږي.

د روهیله‌وو تکتیکي فعالیتونو د انګرېزانو په ذهن کې شک پیدا کړ چې ممکن دی پر ابدالي بریالی شي او د هغوی په خاطر هم څه چې شوي، کیدای شي یو بل یرغل پیل کړي. له دې امله ۱۷۷۱م.کال په اګست کې

قوی اوازه موجوده وه چې ابدالي به په راتلونکي ژمي کې هند ته راشي، خو په چټکۍ سره دغه اوازه د «روبرت برکر» له خوا په تماسونو سره چې احمد شاه د سیکانو له وېرې به (په داسې حال کې چې احمد شاه هېڅکله هم له سیکانو څخه نه وېرېده او هر ځل یې هغوی وځپل او لاهور یې څو ځلې فتح کړ) د سند تر سینده راتېر نه شي، ښکاره شوه چې تر څو د خلسا (Kkalsa) پوځ څارګر وي، هېڅوک نه شي کولای پرته له چلېنجه او سازش څخه پر هند واک پیدا کړي.

بنا پر دې د هند په لور د ابدالي وړاندې تګ اوازې ونه کولای شول چې د هېڅ ډول خطر زنګ د انګرېزانو په قرارګاوو کې ووهي او تر هغه وخته چې «وارون هاستینګز» د «کارتیر» ځایناستی شو، د افغانانو د بریدونو موضوع نور د انګرېزانو لپاره دومره د وېرې وړ نه وه. که څه هم د افغانانو ګواښونه کم شوي وو، خو پر شجاع الدوله باندې لا هم د افغانانو د برید وېره واکمنه وه. هغه ویل که چېرې احمد شاه تر ډهلي پورې نفوذ وکړي، باور نه شو کولای چې کورنۍ یې د قلمرو په یوه برخه کې پاتې شي. له دې امله هیله‌مند و چې شجاع الدوله نه یوازې د خپل شخصي امنیت، بلکې د خپل سلطنت د امنیت په خاطر هم له کمپنۍ سره تړلی و اوسي. وارون ها ستینګز د افغانانو د برید په اړه له اوازې څخه ځان وژغوره. هغه هېڅ دلیل ونه لید چې د دښمنانو کړنو له پایلو چې لا یې په کندهار کې دوام درلود، ووېرېږي.

احمد شاه ابدالی ډېر وخت کېده چې له سلامتۍ برخمن نه و. احتمالاً یې ونه شو کولای چې د ډېرو سفرونو فشار تحمل کړي او دغه حالت د هغه ټینګه اراده سسته کړې وه. کله چې متوجې شو چې د کار پای یې په چټکۍ سره رانږدې کېږي، ځان ته یې خپل مشران راوغوښتل او خپل زوی تیمور شاه یې خپل ځایناستی وټاکه. مشرانو د احمد شاه پرېکړه ومنله. لږ وروسته احمد شاه ابدالي د ۱۱۸٦هـ.ق کال د رجب په شلمه (د ۱۷۷۲م.کال د اکتوبر ۱٦ یا ۱۷ نېټه) له دنیا ولاړ.[۱]

۱ - هماغه اثر، ٦٥-۷۱مخونه.

## اتم څپرکی

### د ختیځپوهانو له انده د احمد شاه بابا شخصیت او دولتداري

لارنس لکهارت لیکي چې احمد شاه درانی د معاصر افغانستان بنسټګر و.[1] په «دایرة المعارف بزرگ اسلامي» کې راغلي چې احمد شاه دراني (۱۷۲۲-۱۷۷۲م) د کندهار زندان او د مازندران تبعید او په تبعید کې د خپل ورور ذوالفقار خان مړینه په خپلو سترګو لیدلي وه او د ورور له مړینې شل کاله وروسته د نادر افشار له اردو سره یوځای شو، څه موده وروسته د ابدالیانو د لښکر قوماندان وټاکل شو. احمد خان د نادر افشار په لښکرکشۍ کې ګډون درلود او ښه تجربه یې تر لاسه کړه. نادر د هغه د ستاینې تر څنګ وړاندوینه (پیش بیني) کړې وه چې له ما وروسته به سلطنت ته ورسېږي.[2]

دایرة المعارف بزرگ اسلامي دغه راز د احمد شاهي دولتدارۍ په اړه لیکي چې احمد شاه درانی د خپل پراخ قلمرو د اداره کولو لپاره نه شول کولای چې پر ملوک الطوایفي نظام باندې چې له پخوا په افغانستان کې

۱ - لارنس لکهارت، انقراض سلسله صفوی و ایام استیلای افاغنه در ایران، مترجم: مصطفی قای عماد، تهران: تابان پریس، ۱۳۴۳، ۱۱۸مخ.

۲ - دایرة المعارف بزرگ اسلامي، جلد هفتم، چاپ دوم، تهران: مرکز دایرة المعارف بزرگ اسلامي، ۱۳۷۷، ٦٦-٦٥ مخونه.

مروج و، متکي شي؛ نو ځکه هغه په کندهار کې مختلف تشکیلاتي دېوانونه یعنې اداري او وزارتونه د نادر شاه د دیوانسالارۍ په بڼه جوړ کړل. وزیر اعظم یا «اشرف الوزرأ» د هغوی مشري کوله. دا اداري عبارت وې: د انشأ دیوان، داروغګي دیوان، دیوان اعلی چې رئیس یې دیوان بیګي و او نور.[1]

د پان ایرانېزم د نظریې پلوی دکتور محمود افشار یزدي لیکي: «کشوری که امروز مجموعاً بنام افغانستان نامیده میشود، قسمتی از فلات ایران است...[2] در هر حال به نام افغانستان مستقل این کشور از همان زمان سلطنت احمد شاه وجود پیدا کرده است.»[3]

که څه هم متعصب افشار یزدي د افغانستان په څو زر کلن تاریخ باندې سترګې پټوي او د آریانا په قلمرو کې د پیشدادیانو، پارتیانو، یونان - باختري، کوشانیانو او یفتلیانو له امپراتوریو خبر نه لري او حتا په دې نه پوهېږي چې باختر د آریایانو لومړنی پایتخت و او که پارس؟ نو څه ګیله به ترې وکړو! په هر صورت افشار یزدي یو تاریخي حقیقت مني او هغه دا چې د معاصر افغانستان بنسټګر احمد شاه و.[4]

الفنسټن لیکي چې د نادر افشار له مړینې وروسته احمد شاه په اوسني افغانستان کې د یوې لویې امپراتورۍ بنسټ کېښود چې د خپل معراج پر

---

۱ - هماغه اثر، ٦٦ مخ.

۲ - دکتور محمود افشار یزدي، افغان نامه، کتاب اول، تهران، ۱۳۵۹، ۴۵، ٦١ مخونه.

۳ - مونټ سټوراټ الفنسټن، د کابل سلطنت بیان، لومړی ټوک، ژباړن: محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۹، ١٦٧مخ.

٤- دکتور محمود افشار یزدي، افغان نامه، کتاب اول، تهران، ۱۳۵۹، ۴۵، ٦١ مخونه.

مهال د کسپين بحيرې له غاړو نه د جمنا تر سيند پورې او له آمو څخه د هند تر بحر پورې غزېدلې وه.[1]

د جرمني مشهور فيلسوف او تاريخ پوه ف. انګلس د احمد شاه بابا شخصيت او کارنامې پخپله هغه مقاله کې چې د (افغانستان) تر نامه لاندې يې ليکلې او د ۱۸۵۷م.کال په اګست کې خپره شوې ده، ليکي: «احمد شاه ابدالي له خراسان څخه تر ډهلي پورې سيمه تر خپل فرمان لاندې ساتله، خو د سولې له روش څخه بې‌برخې نه و، دی يو شاعر او مؤرخ هم و.»[2]

انګرېز مؤرخ سراولف کارو په خپل اثر «پښتانه» کې د احمد شاه بابا شخصيت او دولتداري په دې توګه ستايي:

احمد خان زړېرېدلی رهبر و او ټول کارونه يې په ډېرې سادګۍ د ده په ګټه پر مخ تلل. ده ځان احمد شاه وباله او د ځواک وړ پښتون پاچا و. ده د پښتنو حکومت جوړ کړ او تر ننه پورې يې ژوندی وساته.

احمد شاه يو متين او د کلکې ارادې نابغه انسان و. ده د قومونو، قبايلو او سړو په اداره کې ځانګړی مهارت درلود. که څه هم تکړه قومندان او د جګړییز قابليت درلودونکی و، خو تل د سولې قهرمان، نرم او د عفوې خاوند و. دی په روغه، جوړه او پخلاينه مين و او پخلاينه يې تر جګړې غوره بلله. خپل ټول کارونه يې د شورا په مشوره کول، ځان يې تر نورو لوړ نه باله. احمد شاه ډېر ښه کرکټر درلود. پرهيزګار او متقي سړی و. ده په پښتو ژبه ډېر شعرونه وليکل.

---

۱ - مونټ سټوراټ الفنسټن، د کابل سلطنت بيان، لومړی ټوک، ژباړن: محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۹، ۱٦۷مخ.

۲ - کارل مارکس، فريدريک انګلس، پيرامون استعمار، مسکو: پروګرس نشراتي اداره، ۱۹۸۴، ۸۴مخ.

ده د یوه نېک او خیرخواه او صالح سړي کرکټر درلود.[1]

امریکایي مؤرخ آرنولد فلېچر په خپل اثر «افغانستان د سوبې لویه لار» کې د احمد شاه بابا د شخصیت تعریف په دې ډول کوي:

دی د آسیا په تاریخ کې یو له وقار لرونکو شخصیتونو څخه ګڼل کېږي، یو زیرک عسکري قومندان او د یوه هېواد مؤسس دی، خو سره له دې هم هغه په بهرنۍ نړۍ کې تقریباً نوم ورکی پاتې شوی دی. احمد شاه بابا چې د ټولو هغو صفاتو لرونکی و چې د یوې بریالۍ مشرۍ لپاره لازم دي، داسې لږ نیمګړتیاوې یې لرلې چې د زیاتو اسیایي پاچاهانو سوانح یې داغي کړي دي. هغه یو سخت مذهبي شخص و، په بې‌رحمۍ کې چې پر سیکانو او هندوانو باندې د هغه حملو ښکاره کړه، ده محض د زمانې دود او د خپلو مخالفینو عمل تعقیب کړ. دی د خپلو خلکو په برخه کې مهربان او خیر رسوونکی و، د مقام له غرور څخه ازاد و او د یو زښت ډېر غریب له خوا ورسره تماس نیول کېدای شو. هغه د تعظیم لپاره غلامانه تېټېدنه چې په آسیا کې مانوسه وه، له منځه یووړه او پر ځای یې د لاس یو عادي سلام منځ ته راوړ، جنایي قانون یې اسان کړ او شل او شوټول یې د یوې جزا په حیث منع کړل.

احمد شاه بابا د خپل سیاسي او پوځي استعداد تر څنګ د یوه شاعر په حیث هم استعداد درلود او د پوهې، فلسفې او ادبیاتو روزونکی و. هغه

---

۱ - سراولف کارو، پښتانه، ژباړن: الحاج شېرمحمد کریمي، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۸، ۳۸۳، ۳۸۸-۳۸۹مخونه.

پاچاهي چې احمد شاه بابا جوړه کړې وه او هغه ورته جلال او عظمت ورکړی و، سقوط وکړ. له دوه پېړۍ ګډوډيو څخه وروسته چې افغانستان تر اوسه پورې د يوې پاچاهۍ په حيث پاتې دی، تر زياتې اندازې د يوه پاچا له برکته دي چې هغه د لوی احمد شاه په نوم نه، بلکې د «بابا» د ګرانښت په نامه يادېږي.

هغه کتيبه چې د ده پر شناختې باندې کښل شوې ده، داسې پيل شوې: «درانی احمد شاه بابا چې د لوړې مرتبې پاچا و، د زمامدارۍ په چارو کې له سيروس (Cytus) سره برابر و.»[1]

هندوستانی مسلمان مؤرخ بلګرامی د احمد شاه بابا د شخصيت او دولتدارۍ په اړه ليکي چې د ملي هويت احساس د احمد شاه ابدالي د زمامدارۍ له وخته يعنې کله چې په ۱۷۴۷م. کې افغانستان د يوه خپلواک سياسي واحد په توګه رامنځته شو، سرچينه اخلي او د افغانستان مخکښ ځواکونه د سياست په ډګر کې شامل شول. احمد شاه ابدالي په ځواکمنتيا سره وکولای شول چې ټول زړور او جنګيالي خلک پر ځان راغونډ کړي، يو دولت جوړ کړي او دی د انتخاب له لارې پاچاهۍ ته ورسېږي. د احمد شاه ابدالي د مړينې (۱۷۷۲م.) پر مهال د هغه د امپراتورۍ قلمرو د سند له سيند څخه تر اترک سيند، تبت او بحيره عرب پورې پراختيا درلوده.[2]

---

۱ - آرنولد فلېچر، افغانستان د سوبې لايه لار، ژباړن: عبدالجبار نادر، د علومو اکاډمي ، کابل: د پوهنې وزارت مطبعه، ۱۳۶۹ ، ۷۵-۷۶ مخونه.

۲ - اصغر حسن بلګرامي، افغانستان و هند برتانوي (۱۷۹۳-۱۹۰۷م.)، مترجم: عبدالوهاب فنايي، اکادمي علوم افغانستان، کابل: مطبعه دولتي، ۱۳۶۱ ، ۴، ۱۷ ، ۲۰ مخونه.

امریکایي مؤرخ رابرت کروز په خپل اثر «افغان مدرن؛ تاریخ یک ملت جهاني» کې لیکي چې احمد شاه بریالی شو چې خپله پاچاهي چینایانو، عثمانیانو او انګرېزانو ته وروپېژني او علاوه پر دې د احمد شاه سلطنت د دې لامل وګرځېد چې د افغانستان د سیاسي مشرانو په ذهن کې په یوه ځانګړي هېواد (افغانستان) پورې د تعلق احساس پیاوړي شي.[1]

انګرېز ختیځپوه الفستن د احمد شاه بابا د شخصیت او دولتدارۍ په اړه لیکي چې د احمد شاه شخصیت د هغو شرایطو لپاره ډېر موزون و چې دی په کې اوسېده. دی خپل هوډ او تشبث په دې قادر کړ چې له هغې ګډوډۍ نه ګټه واخلي چې د نادر شاه افشار له وژلو نه وروسته پیدا شوې وه او هغه تدبیر او اعتدال چې ده له خپل ملت سره د تماس په وجه حاصل کړی و، د یوه مېړني او آزاد ولس د اداره کولو لپاره د ده طبیعي نبوغ له قوی میلان څخه لږ ضروري نه و. هم د ده خپل رعیت او هم هغه ملتونه چې دی ورسره په جګړو یا اتحادیو کې مخامخ شوی و، د ده نظامي زړورتیا او فعالیت په ستاینې سره یادوي. داسې ښکاري چې دی په طبیعت کې نرموالی او زړه سواندۍ ته متمایل و او که څه هم ممکنه نه ده چې په آسیا کې پاچایي قدرت بې له څه جنایتونو څخه تر لاسه شي او هغه ممکن وساتل شي، سره له دې هم د ختیځ هېڅ واکمن به دغومره لږې بې‌رحمۍ او لږې بې‌عدالتۍ کړې نه وي، لکه څومره چې ده کړي دي.

---

۱ - رابرت کروز، افغان مدرن؛ تاریخ یک ملت جهاني، مترجم: عبدالله محمدي، کابل: نشر ناسوت، ۱۴۰۰، ۷۱ مخ.

داسې ښکاري چې احمد شاه د شخصي کرکټر له نظره بشاش، مینه-ناک او د ښه طبیعت خاوند و. په رسمي وختونو کې یې ښه وقار ساته، خو په نورو وختونو کې به د ده کړه وړه ساده او آشنا وو. له درانیو سره به یې د هغو مساوي او عادي خویونو او اخلاقو رعایت کاوه کوم چې ده له درانیو مشرانو سره پخوا له دې چې د پاچاهۍ لقب وګټي، لرل. ده ملایانو او پیرانو ته د سیاست او شخصي میل له نظره په قدر کتل. دی په خپله هم معنوي شخص او مؤرخ و او تل د یوه پیر د شخصیت په ارزو کې و.[1]

ګندا سنګ لیکي چې پنځه ویشت کاله پخوا چې د شمالي هند د اتلسمې پېړۍ د تاریخ په پلټنه او څېړنه لګیا وم، احمد شاه د لومړي ځل لپاره د منځنۍ آسیا د یوې سترې تاریخي څېرې په توګه پر ما اغېز وکړ. زه د ده پر خلاف د تعصب له مخې رالوی شوی او روزل شوی وم یا ما ته یوازې دا رازده شوي وو چې دی یو داړه مار او لوټمار مشر دی چې د ولجې لپاره پر هند راښکته شو او په ټنونو هندي سره‌زر او په زرهاوو هندي مریان یې افغانستان ته له ځانه سره یووړل. هر څومره چې مې د ده په باب زیاته مطالعه وکړه، هغومره د ده د سترتوب ځانګړتیاووو پر ما ژور اغېز وکړ او زما ذهن ته یې پخپله نفوذ وموند. زما په نظر دی دومره ستر ښکاره شو چې که له نادر شاه افشار څخه لوړ نه و، نو د هماغه په شان خو هرومرو لوی و.[2]

---

۱ - مونټ سټوراټ الفنسټن، د کابل سلطنت بیان، دویم ټوک، ژباړن: محمد حسن کاکړ، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: ګوندي مطبعه، ۱۳۶۱، ۲۶۷مخ.

۲ - ګندا سنګ، درانی احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه. ۱۳۶٦، ۳۱ مخ.

دغه راز گندا سنگ د «داو» د اثر د هندوستان تاریخ، دویم ټوک او د ۴۰۸-۴۰۹ مخونو په حواله لیکي چې احمد شاه ډېر لوړ، زړه راښکونکی او جذاب شخصیت درلود. په رښتیا هم ده په خپل نوارني مخ او بې ساري خوی کې داسې څه درلودل چې د ټولو محبت او تمجید یې ده ته ورپه برخه کړی و. دی چې له هلکتوب څخه ډېر بااستعداده و، د نادر افشار پاملرنه یې ځان ته واړوله او نوموړی دی د تل لپاره په خپل ځانګړي او شخصي ارکان حرب کې وساته او په خورا زیاته اندازه یې د ده ستاینه کوله. یو وخت نادر په عام دربار کې وویل: «ما په ایران، توران او هندوستان کې داسې کوم سړی چې د احمد شاه ابدالي په څېر د ستاینې وړ استعداد ولري، لیدلی نه دی.[1]

گندا سنگ د فیریر په قول لیکي: «د ده حکومت یو فدرالي جمهوریت ته ورته و او ده د دې پر ځای چې مطلقه پاچاهي وکړي، د دغه جمهوریت مشر و.»[2]

گندا سنگ وړاندې زیاتوي چې احمد شاه ابدالي نورو مذهبونو او عقایدو ته درنښت کاوه. په ۱۷٦۰م.کال یې د نغارو په وهلو سره اعلان کړه چې د ولایت (افغانستان) له خلکو څخه هېڅ یو د هندوستان هندوانو یا مسلمانانو ته باید مذهبي تعصب ونه ښیي او هم فاتحان (سربازان) نه باید د کمزورو په مقابل کې تېری، ظلم او ځورولو څخه کار واخلي، هېڅوک باید دې ته مجبور نه شي چې د بل یوه مذهبي او ټولنیز مراسم په زور ومني.

---

۱ - هماغه اثر، ۴۳۹-۴۴۰مخونه.

۲ - هماغه اثر، ۴۵۴مخ.

د کابل له بالاحصار سره نږدې د ارمني عیسویانو یوه مستعمره (د مهاجرینو ټاټوبی) موجود و. دوی لومړی ځل د نادر افشار له خوا د ترکیې په جنګي عملیاتو کې نیول شوي وو او په شمالي پارس کې یې مېشته کړي وو، خو له دغه ځایه احمد شاه افغانستان ته راوستل. هغوی ته د عیسوي دین د مراسمو په اجرا کې اجازه ورکړل شوې وه او د ده په بېلابېلو پوځي عملیاتو کې یې حضور درلود. که څه هم احمد شاه سنی مذهبه و، خو هغه د پارس شیعه‌ګانو سره په لبراله توګه چلند وکړ. د خراسان په برخه کې چې د افغاني امپراتور تر واک لاندې وه، پارسیانو پوره کورنی او مذهبي آزادي درلوده او په ندرت سره کېدلی شي څوک ورته په سپکه وګوري.[1]

مخدوم قلي فراغي د ترکمنستان هېواد نازکخیاله او خوږ ژبی شاعر او د لوی احمد شاه هممهالی لوی شخصیت د احمد شاه دراني شخصیت په خپل نظم کې داسې بیانوي:

**لومړی بند:** ای احمد شاه! زه باید تا وستایم، ځکه چې ستا ښه نوم تر اسمانونو تللی دی او لا پسې لوړېږي، ستا دوستان زړور دي، ستا دښمنان ستا په لاس کې ښکار «صید» دي.

**دویم بند:** ستا لښکر پر ایران باندې کښلې بمبل تورې ورځې دوی ستا تخت د خطرناکو دښمنانو په منځ کې ساتي، ته په سړو کې زمری یې او په زمریو کې سردار، ته د سمندرونو په تل کې د نهنګانو (لیویه‌فان) پاچا یې.

---

۱ - هماغه اثر، ۴۵۵-۴۵۷مخونه.

**درېيم بند:** په دښتو او ځنګلونو کې ته زمري غوندې غړومبېږې، ته په واورينو غرونو، لکه ديو ننوځې، ستا الماسين غشي پر نړۍ الوزي، ته په توفانونو کې تر خپل هموطن رستم (جهان پهلوان) وړاندې شوی.

**څلورم بند:** ته د ايران پالنه کوې، ستا رېښه خو د توران ده. ترکمنان چې په تا پسې وي، د دښمنانو په زړونو دې وېره ننوځي او نېکمرغه خلک ستا له پېرزوينې څخه ښه برخورداره دي. د توران د زامنو له خوا ته هم په لورينه او پيرزوينه وګوره.

**پنځم بند:** فراغي وايي: په تا اسلام غوړېږي، زه دا منم ته د پاچاهانو پاچا يې، خو په زړه کې درويش يې پرېږده چې تهران ستا په پښو کې ولوېږي، زه د دغسې بادار په ستاينه نه مړېږم.[1]

علامه اقبال د احمد شاه بابا زيارت ته ورغلی او په اړه يې ليکي: دا د هغه د ينپالي پاچا قبر دی چې افغانان يې د ايران له واکه وژغورل او خپلواکي يې ورکړه. د ده د قبر ګومبذه د اسمان په نظر کې ډېره د درنښت وړ ده او لمر يې د قبر د طواف په برکت رڼا مومي. جوته دې وي چې دا يوازې شاعرانه بيان نه دی، مطلب دا چې د ده قبر ډېر محترم دی.

د عثماني سلطان محمد فاتح غوندې دا پاچا د علومو او هنرونو، په ځانګړي ډول د شعر و شاعرۍ ډېر قدردان و او پخپله يې هم شعر وايه.

---

١ - علامه عبدالشکور رشاد، «فراغي او د هغه په شعرونو کې د احمد شاه بابا او نورو پښتنو ستاينې»، د مخدوم قلي فراغي ياد، د سيمينار د مقالو ټولګه، د علومو اکاډمي، کابل: شعيب مطبعه، ١٣٨٨، ٣٧-٣٩مخونه.

اقبال وړاندې زیاتوي چې ابدالي پاچا دومره پراخ زړی و، چې هېوادونه يې ونيول، خو د هېوادونو واک يې په خپل لاس کې وانخیست (د پاني پت جګړې ته يې اشاره ده).[1]

علامه شکېب ارسلان ليکي: «د احمد شاه بابا دمخه د هندوستان اسلامي دولت په خطر کې و؛ په ۱۷٦۰م.کال چې احمد شاه ډهلي ونيو، نو هندوانو لکه د غزنوي یا غوري حکومتونو په ډول د هند يو نوی دولت وباله، له هرې خوا يې مقابله ورسره وکړه، خو ده د پاني پت پر میدان د ۱۷٦۱م.کال د جنورۍ پر ۱۴مه لکه پخوا ببرته بری ورکی.» دغه راز علامه فريد وجدي،د مصر مشهور عالم ليکي: «احمد شاه بابا پر هغو مراټیانو چې تيموري شاهان يې عاجزه کړي وو، ښکاره بری يې ورباندې وموند او لويه ماتې يې ورکړه. دی زړور، پوه، عادل، زړه سواندی سړی و، پښتنو لکه مهربان پلار داسې باله او د بابا لقب يې ورکی.»

د هندوستان مشهور محقق علامه سید سلیمان ندوي ليکي: «احمد شاه ذاتاً لوی اولوالعزم، تجربه‌کار او فاتح سپه سالار و، خو لکه نور فاتحين په انتظام نه رسېدی، د هندوستان مسلمانان پر دغه د ده ډېر ممنون دي، چې مرهټیان يې له شمالي هنده وایستل.»[2]

---

۱ - محمد اکرام چغتايي، اقبال، افغان او افغانستان، ژباړن: زين الله منلی او نور، کابل ۱۳۹۸، ۲۲۹-۲۳۰مخونه.

۲ - د احمد شاه بابا دېوان، شاعر: احمد شاه بابا، سريزه او سمون د علامه عبدالحی حبيبي،۲۰۲۴م، ۹۴-۸۳مخونه.

ایچ. جي راورټي ليکي: «احمد شاه ابدالي د درانو د سلطنت لوی مؤسس او د پاني پت د ډگر لوی فاتح و، اشعار یې یوه عشقي د تصوف پیرایه لري چې ډېر د احترام وړ دي.» دغه راز ختیځپوه مسټر فریر لیکي: «احمد شاه بابا په ښندنه او سخاوت کې داسې کارونه وکړل چې په بل ډول گران وو.»

کلنل جي. بي ملي‌سون انگلیسي مؤرخ د افغانستان په تاریخ کې لیکي: «احمد شاه یو اتحادي حکومت، فیوډال سیستم جوړ کی، د ملت سرداران یې پر کارونو مقرر کړل او له پښتنو ښځه یې دا خواست وکی چې د خدای دپاره ننگ وکړئ او یو موټی شئ.»

د فرانسې معروف مؤرخ او فیلسوف دوکتور گورستاولوبون لیکي: «احمد شاه د مرټیانو ملا د پاني پت پر میدان په ۱۷٦۰م. کال ورماته کړه، د هغوی دوه لکه لښکر یې له منځه یووړ او له زوره یې وغورځول.» دغه راز انگلیسي مؤرخ سمټري اې مارسډن لیکي: «احمد شاه په اساني د ډهلي پاچا شو او لکه محمود غزنوي او محمد غوري په څېر یې څو واره پښتانه په هندوستان راوبهول او د مرټیانو دوه لکه لښکر یې ووژل.»

سرجان ملکم انگلیسي مؤرخ لیکي: «احمد شاه څو واره پر هند برید وکړ او هر وارې یې بری وموند، ده د قوم له فکر سره سم حکومت کاوه، ټول ملت په احترام ورته کتل، د هندوستان او افغانستان لوی فاتح دی، مرټیانو ته یې په پاني پت کې لویه ماتې ورکړه.» دغه راز گرانت ډف

انګليسي مؤرخ ليکي: «د پاني پت جګړه د هندوستان د مها بهارت تر جګړې وروسته لويه جګړه ده، په درو ورځو کې احمد شاه دوه لکه مرهټيان مړه کړل، يوازې شپږمه برخه يې ژوندي وتښتېدل.»[1]

ګانکوفسکي ليکي چې احمد شاه دراني د مغولو امپراتورۍ او د ايران واحد حکومت له زوال نه او د منځنۍ آسيا د واکمنو ترمنځ له کورنۍ جګړو نه په ګټې اخيستنې وکولای شول چې د افغانانو ځمکې په يوه واحد دولت کې راټولې کړي او د ګاونډيو هېوادونو ارتې ځمکې له خپل دولت سره وتړي.[2]

جنرال سرپرسي سايکس ليکي چې احمد شاه د افغانستان د سلطنت بنسټګر او يو بادرايته پاچا و، چې شېر او هوسۍ يوځای او په آرامه او سوله‌ييز ډول پکې اوسېدل. د فتوحاتو غږ يې د دښمنانو غوږونو ته رسېده.[3]

ايرانی ليکوال محمود طلوعي په خپل اثر «فرهنګ جامع سياسي» کې د احمد شاه بابا په اړه ليکي چې د افغانستان نوی تاريخ د احمد شاه دراني په سلطنت سره پيلېږي.[4]

شوروي مؤرخ ريسنر په خپل اثر «په افغانستان کې د فيوډالېزم وده او د دولت جوړول» کې ليکي چې احمد شاه د افغان خانانو او مشرانو ترمنځ

---

١ - هماغه اثر، ٨٢-٨٣مخونه.

٢ - يو. و. ګانکوفسکی، د درانيانو امپراتوري، ژباړن: دکتور ګل محمد نورزی، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ١٣٥٧، سريزه، دويم مخ.

٣ - جنرال سرپرسي سايکس، تاريخ افغانستان، جلد اول، مترجم: عبدالوهاب فنايي، د علومو اکاډمي، کابل: مطبعه آزادي، ١٣٨٢، ٣٤١ مخ.

٤ - محمود طلوعي،فرهنګ جامع سياسي، چاپ سوم، تهران: علم، ١٣٨٥، ١٨٠مخ.

يوازې لومړني کس و چې حکومت يې کاوه او پر هېڅا يې ځان لوړ نه باله.[1]

په شوروي لوی دايرة المعارف کې د احمد شاه بابا په اړه راغلي چې احمد شاه په ۱۷۴۷م. کې د افغانستان د خپلواک دولت او د دراني امپراتورۍ بنسټګرو او تر خپلې مشرۍ لاندې يې ټول افغانان متحد کړل. د احمد شاه د واکمنۍ پر مهال د افغانستان او روسيې ترمنځ لومړنی دوستانه تماس ټينګ شو.[2] ګانکوفسکي هم د احمد شاهي دولت او روسيې د تماس موضوع تاييدوي او ليکي چې بګدان اسلانوف په ۱۷٦۴م.کال افغانستان ته سفر کړی دی. دی د روسيې حکومت په سپارښت افغانستان ته راغلی و، تر څو د افغانستان او روسيې ترمنځ اړيکې ټينګې کړي. اسلانوف بايد احمد شاه دراني ته د روسيې د دوستۍ وړانديز او خواهش يې ترې کړی وای چې پترزبورګ ته خپل سفير واستوي، تر څو هلته موافقه لاسليک کړي. په خواشينۍ سره بايد ووايو چې روسي نماينده ته دغه ورسپارل شوې ماموريت ترسره نه شو، ځکه احمد شاه دراني دغه وخت په هندوستان کې و او اسلانوف ونه کولای شول چې له هغه سره ليدنې کتنې وکړي.[3]

«افغانستان په تاجيک دايرة المعارف کې» د احمد شاه بابا په اړه راغلي

---

۱ - يو. م. ريسنر، په افغانستان کې د فيوډالېزم وده او د دولت جوړول، مسکو، ۱۹۵۴، ۳۳۸مخ.

۲ - شوروي لوی دايرة المعارف، دويم ټوک، درېيم چاپ، مسکو: د شوروي دايرة المعارف اداره، ۱۹۷۰، ۴٦۱مخ.

۳ - يو. و. ګانکوفسکی، د درانيانو امپراتوري، ژباړن: دکتور ګل محمد نورزی، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷، سريزه، ۱۴مخ.

چې احمد شاه په ۱۷۴۷م.کال په کندهار کې د يوې جرگې له خوا د افغانستان د پاچا په توگه انتخاب شو. هغه د خپل سلطنت قلمرو د لښکرکشيو او د گاونډيو دولتونو د کمزورۍ او گډوډۍ څخه په استفادې په ختيځ او جنوب کې تر کشمير، سرهند، بلوچستان، سند او د پنجاب تر لوېديځو سيمو، په لوېديځ کې تر خراسان، سيستان او په شمال کې د آمو سيند تر غاړې وغزاوه.[۱] وړاندې زياتوي چې احمد شاه دراني يو لوی دولت جوړ کړ چې مساحت يې له دوو ميليونو کيلو متر مربع څخه زيات و. د دولتدارۍ او اردو د جوړولو طرز يې د منځني ختيځ د نورو پخوانيو هېوادونو په څېر جوړ شوی و. درباري ژبه يې دري وه. د احمد شاه په دوره کې تجارت، لاسي صنايعو په ښارونو کې رواج او رونق وموند او توليدي ځواکونو ترقي وکړه. زياتې ودانۍ جوړې شوې، د بېلگې په توگه د کندهار ښار، د احمد شاه دراني مقبره او نورې. احمد شاه دراني په خپل دربار کې شاعران، عالمان او هنرمندان راغونډ کړل. هغه پخپله هم شاعر و او شعر يې وايه او د اشعارو ديوان يې په ۱۹۴۰م.کال په کابل کې خپور شو.[۲]

جارج فاسټر لومړی انگرېز دی چې د گرجي سوداگر په جامه کې په ۱۷۸۳م.کال افغانستان ته راغلی او پخپله سفرنامه « A Journey from Bengal to England» کې يې د احمد شاه بابا په باب داسې ليکلي دي:

---

۱ - افغانستان در دايرة المعارف تاجيک، چاپ دوم، گزارنده و مترجم باتحشيه و تعليق: پوهاند داکتر جلال الدين صديقي باهمکاری داکتر قربان و پوهيالی شاه محمود محمود، کابل: بنگاه انتشارات ميوند، ۱۳۸۳، ۳۲۹-۳۳۰مخونه.

۲ - هماغه اثر، ۳۴۸ مخ.

احمد شاه له مذهب سره ډېره مینه درلوده، خو متعصب نه و، د دغه وسیع النظره پاچا په قلمرو کې هندوان، عیسویان او یهودان خپل مذهبي دودونه په خورا آزادۍ سره تر سره کوي. د افغانستان سوداګري د هندوانو په لاس کې ده. هغه عیسویان چې نادر افشار د ایران له شمال څخه فرار کړل، اوس په کابل کې اوسي. هندوان، یهودان او عیسویان په افغانستان کې ډېر هوسا او خوندي ژوند لري.[1]

د ایران د طوس د سیمې اوسېدونکي تکړه شاعر مرزا جعفر راهب پخپل یو شعر کې د احمد شاه ابدالي ستاینه په دې ډول کوي:

کنم جامه فکر را تازه سر
به مداح شهنشاه نیکو سر
جهاندار احمد شاه سرفراز
که درهای دلهاست بروی فراز
خداوند دولت بر ایرانیان
در درج اقبال درانیان

دغه راز د ختیځ شاعر او فیلسوف علامه اقبال د احمد شاه ابدالي شخصیت پخپل اثر «جاوید نامه» کې داسې ستایي:

آن جوان که سلطنت ها آفرید
بار در کوه و قفار خود درمید

---

۱ - اکاډمېسین پوهاند عبدالشکور رشاد، د پاني پت قهرمان لوی احمد شاه بابا د خلکو په نظر کې، د علومو اکاډمي، کابل: د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۷۰، ۹۷ مخ.

آتشـــــی در کـوهســـــارش فـروخـت
خوش عیار آمد برون یا پاک ســـوخت

همدارنگه علامه اقبال افغان شهنشاه احمد شاه ابدالي ته یو ملت جوړونکی شخصیت وایي:

مـــرد ابـــدالي وجـــودش آیـــتـــی
داد افـغــان را اســـــاس مــلــتــی

د ختیځ شاعر او فیلسوف علامه اقبال د لوی احمد شاه بابا هغې سترې کارنامې ته اشاره کوي، چې په تاریخي او لرغوني افغانستان کې یې د افغان تیت او پرک ولس د جوړښت په لاره کې سرته رسولې ده او هغه دا چې د آسیا په دې سرلوړي هېواد (افغانستان) کې یې بېلابېل قومونه او قبیلې چې جلا – جلا ژبې، سیمه‌ییز فرهنگونه، رواجونه او دودونه یې درلودل، د واحد افغاني هویت تر بیرغ لاندې سره راغونډ او یوځای کړل او نړۍ ته یې وروپېژندل.[1]

د میر عبدالکریم بخاري په وینا: «احمد شاه الحق پادشاهی خلیق و عادل و سخی و رعیت پرور و ملي مشر و سلیم و حلیم و غریب نواز بود.» او دغه راز مولف گلستان رحمت «حافظ رحمت خان» میگوید: «احمد خان به حلیه کمالات صوری و معنوی انسان کامل آراسته بود... و فضایل

۱ - غوث خبیري، د لوی افغان تاریخ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴، ۱۰۰-۱۰۲ مخونه.

پیراسته به وفور حق شناسي و دين پروری، تقوا و صلاح زهد، پرهيزگاري، متقي، ديندار ... گاهی (لب) به شرب و شراب نيالوده و گرد جميع مسکرات نگشته، قليان نگشيده، لباس نامشروع در برنکرده، پاکي طينت و غايت طهارت... همېشه باوضو نماز چهار گانه سوای نماز پيشين، باجماعت ميگذراند... قرآن ميخواند... به فيض رساني و احوال پرسی هر ضعيفي حکم بود که مظلومان را از آمدن مانع نشوند که به اظهار احوال بپردازند... دربار عام داشت و دربار خاص... باعلما و فضلا و مشايخ نماز ميگذارد ... باصلحا و علما و فضلا، تذکره ،تفاسير و احاديث و مسئله فقه به ميان مي‌آورد... عدالت گستری، صفت عفو و جرم بخش و خطا پوزش بيحد زيات داشت. شجاعت و شهامت و بهادری و دلاوری بيحد زياد داشت.»[١]

---

١ - کانديد اکاډمېسين اعظم سيستاني (بارکزی)، ظهور افغانستان معاصر و احمد شاه ابدالي، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، ١٣٨٦، ٣٥٦مخ.

# ماخذونه


۱- استرآبادي، محمد مهدي، تاریخ جهانگشای نادري، تهران: دنیای کتاب، ۱۳۸۷.

۲- الفنستېن، مونټ سټوراټ، د کابل سلطنت بیان، لومړی ټوک، ژباړن: محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن منګل، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۹.

۳- الفنستېن، مونټ سټوراټ، د کابل سلطنت بیان، دویم ټوک، ژباړن: محمد حسن کاکړ، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: ګوندي مطبعه، ۱۳٦۱.

۴- انگلس، فردریک او کارل مارکس، پیرامون استعمار، مسکو: اداره نشراتي پروگرس، ۱۹۸۴.

۵- اپریدي، میاجان، د خپلواکۍ ترون، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۱.

٦- احمد شاه بابا دیوان، سریزه او سمون عبدالحی حبیبي، علامه حبیبي څېړنیز مرکز، ۱۴۰۴.

۷- ارغندیوال، محمد نسیم، هویت، فرهنگ و تمدن آریانا دیروز یا افغانستان امروز، چاپ دوم، کابل: مطبعه وایگل، ۲۰۲۱.

۸- افغانستان در دایرة المعارف تاجیک، چاپ دوم، گزارنده و مترجم باتحشیه و تعلیق: پوهاند داکتر جلال الدین صدیقي باهمکاری داکتر قربان و پوهیالی شاه محمود محمود، کابل: بنگاه انتشارات میوند، ۱۳۸۳.

۹- بارکزی، کاندید اکاډمېسین اعظم سیستاني، ظهور افغانستان معاصر و احمد شاه ابدالي، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦.

۱۰- بېنوا، عبدالروف، پښتنې مېرمنې، کابل، ۱۳۲۳.

۱۱- بېنوا، عبدالروف، پښتو روزنه، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷.

۱۲- بلګرامي، اصغر حسن، افغانستان و هند برتانوي ۱۷۹۳-۱۹۰۷م. مترجم: عبدالواهاب فنایي، اکادمی علوم افغانستان، کابل: مطبعه دولتي، ۱۳٦۱.

۱۳- پوپلزی، عزیز الدین وکیلي، تیمور شاه درانی، جلد اول، طبع دوم، انجمن تاریخ، کابل، ۱۳٦٦.
۱۴- پوپلزی، عزیز الدین وکیلي، درة الزمان فی تاریخ شاه زمان، کابل: مطبعه دولتي دارالسلطنه، ۱۳۳۷.
۱۵- پوپلزی، عزیزالدین وکیلي، فرهنگ کابل باستان، جلد اول، وزارت اطلاعات و فرهنگ، کابل: مطبعه طباعتي و صنعتي احمد، ۱۳۸۷.
۱٦- جامي، محمود الحسین بن ابراهیم، تاریخ احمد شاهي، تهران: عرفان، ۱۳۸٦.
۱۷- چغتایي، محمد اکرام، اقبال، افغان او افغانستان، ژباړن: زین الله منلی او نور، کابل ۱۳۹۸.
۱۸- جلالي، علي احمد، مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکري، جلد دوم، کابل: دفاع مطبعه، ۱۳۴۷.
۱۹- جلالي، علي احمد، د افغانستان نظامي تاریخ، لومړی چاپ، ژباړن: شېر محمد کریمي، سروش کتابپلورنځي، ۱۴۰۱.
۲۰- حبیبي، عبدالحی، د افغانستان پېښلیک، لومړی ټوک، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۳.
۲۱- حبیبي، عبدالحی، تاریخ مختصر افغانستان، دویم ټوک، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۴۹.
۲۲- حبیبي، عبدالحی، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن: عبدالروف بینوا، دوهم چاپ، کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹.
۲۳- حبیبي، عبدالحی، لوی احمد شاه بابا، کابل، ۱۳۱۹.
۲۴- خانعلوم، د احمد شاه بابا د اشعارو شرح، د پوهاند رشاد په سریزه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵٦.
۲۵- خیبري، غوث، د لوی افغان تاریخ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴.
۲٦- دانشنامه ادب فارسی، به سرپرستي حسن انوشه، جلد سوم، تهران: سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامي، ۱۳۷۸.

۲۷- د احمد شاه بابا دیوان غورچاڼ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، کابل، ۱۳۵۷.
۲۸- دایرة المعارف بزرگ اسلامي، جلد هفتم، چاپ دوم، تهران: مرکز دایرة المعارف بزرگ اسلامي، ۱۳۷۷.
۲۹- رشاد، عبدالشکور، د احمد شاهي عصر نومیالي، کندهار: علامه رشاد اکاډیمي، ۱۳۹۴.
۳۰- رشاد، عبدالشکور، د پاني پت قهرمان لوی احمد شاه بابا د خلکو په نظر کې، د علومو اکاډمي، کابل: د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۷۰.
۳۱- رشاد، عبدالشکور، «فراغي او د هغه په شعرونو کې د احمد شاه بابا او نورو پښتنو ستاینې»، د مخدوم قلي فراغي یاد، د سیمینار د مقالو ټولگه، د علومو اکاډمي، کابل: شعیب مطبعه، ۱۳۸۸.
۳۲- رښتین، صدیق الله، د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه، کابل: عمومي مطبعه، ۱۳۲۵، ۹۸-۷۹ مخونه. ۳۳-
۳۳- ریسنر، یو. م.، په افغانستان کې د فیوډالېزم وده او د دولت جوړول، مسکو، ۱۹۵۴.
۳۴- زرملوال، غلام محمد، افغانستان تر وروستي افغانه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳.
۳۵- سایکس، سرپرسي، تاریخ افغانستان، جلد اول، مترجم: عبدالوهاب فنایي، د علومو اکاډمي، کابل: مطبعه آزادي، ۱۳۸۲.
۳۶- شوروي لوی دایرة المعارف، دویم ټوک، درېیم چاپ، مسکو: د شوروي دایرة المعارف اداره، ۱۹۷۰.
۳۷- طلوعي، محمود، فرهنگ جامع سیاسي، چاپ سوم، تهران: علم، ۱۳۸۵.
۳۸- عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳٦۲.
۳۹- عارض، غلام جیلاني، د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري وېش، ژباړن: محمد شریف ځدراڼ، د علومو اکاډمي، کابل: لایف سټار مطبعه، ۱۴۰۱.
۴۰- عصمتي، معصومه، موقف و نقش زنان از اواخر قرن هژده الی اخیر قرن نزده،

اکادمي علوم افغانستان، کابل، ۱۳٦۵.
۴۱- عطايي، محمد ابراهيم، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، کابل: د ميوند خپرندويې ټولنې مطبعه، ۱۳۸۹.
۴۲- عطايي، محمد ابراهيم، «سريزه»، د احمد شاه بابا د ديوان غورچاڼ، د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۵۷.
۴۳- غبار، مير غلام محمد، افغانستان د تاريخ په تګلوري کې، ژباړن:محمد بشير دوديال، کابل: ميوند د خپرندويې ټولنې مطبعه، ۱۳۹۳.
۴۴- غبار، مير غلام محمد، احمد شاه بابا افغان، ژباړن: امين الله دريځ، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷.
۴۵- غبار، مير غلام محمد، افغانستان په يوه نظر، ژباړن: جاويد آفتاب، د علومو اکاډمي، کابل: بهير مطبعه، ۱۴۰۲.
۴٦- فلېچر، آرنولد، افغانستان د سوبې لويه لار، د علومو اکاډمي، کابل: د پوهنې وزارت مطبعه، ۱۳٦۹.
۴۷- قاضي عطاءالله خان، د پښتنو تاريخ، لومړی ټوک، کابل: دفاع مطبعه، ۱۳۵٦.
۴۸- کاکړ، محمد حسن ، افغان و افغانستان، پوهنتون کابل، پوهنځی ادبيات، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷.
۴۹- کارو، سراولف، پښتانه، ژباړن: شېرمحمد کريمي، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه (جرمني)، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۸.
۵۰- کروز، رابرت، افغان مدرن؛ تاريخ يک ملت جهاني، مترجم: عبدالله محمدي، کابل: نشر ناسوت، ۱۴۰۰.
۵۱- کهزاد، احمد علي، د افغانستان پخوانی تاريخ، لومړی ټوک، کابل، ۱۳۳۴.
۵۲- ګندا سنګ، دراني احمد شاه، د نصرالله سوبمن ژباړه، د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳٦٦.
۵۳- گلستانه، ابوالحسن بن محمد امين، مجمل التواريخ، تهران: کتابخانه ابن سينا، ۱۳۴۴.
۵۴- ګانکوفسکي يو. و، د درانيانو امپراتوري، ژباړن: دوکتور ګل محمد نورزی، دعلومو

اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۷.
۵۵- گریگوریان، وارتان، ظهور افغانستان نوین، چاپ دوم، مترجم: علي عالمي کرماني، تهران: عرفان، ۱۳۸۸.
۵٦- لکهارت، لارنس، انقراض سلسله صفوی و ایام استیلای افاغنه در ایران، مترجم: مصطفی قای عماد، تهران: تابان پریس، ۱۳۴۳.
۵۷- مرغزی، حافظ گل محمد، احمد شاهي شهنامه، پېژندنه او تعلیقات د علامه رشاد، کندهار: علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۸۷.
۵۸- مینورسکي، ایرن در زمان نادر شاه، څلورم چاپ، ژباړن: رشید یاسمي، تهران: دنیای کتاب، ۱۳۸۵.
۵۹- محمد حیات خان، حیات افغاني، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦.
٦۰- مجله کهول، سال دوم، شماره پنجم، قوس و جدی، ۱۳۵٦.
٦۱- منیب، عبدالعزیز، تاریخ معاصر افغانستان، چاپ پنجم، انتشارات محمدي، کابل، ۱۳۹٦.
٦۲- محمود، شاه محمود، تاریخ نویسي در افغانستان، پوهنتو کابل، پوهنځي علوم اجتماعي، شعبه تاریخ عمومي، کابل، ۱۳۷۷.
٦۳- مبارز، عبدالحمید، تحلیل سیاست خارجي افغانستان از احمد شاه بابای دراني تا حامد کرزی، کابل: انتشارات سعید، ۱۳۹۰.
٦۴- نامه احمد شاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثماني، تعلیق و تحشیه استاد غلام جیلاني جلالی، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳.
٦۵- نگاهی بر نقش فرهنگي افغانستان در عهد اسلامي، وزارت اطلاعات و کلتور، مدیریت سالنامه، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۵.
٦٦- وحدت، احمد شاه، د افغانستان ۳۲۰ کلن پېښلیک، کابل، ۱۴۰۳.
٦۷- وارما، بیرندرا، افغانها و کمپاني هند شرقي بریتانیا، مترجم: محمد کاظم کاظمي، کابل: انتشارات امیري، ۱۳۹۹.
٦۸- هوتک، محمد معصوم، احمد شاهي کندهار، کندهار: رشاد خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳.
٦۹- یزدي، محمود افشار، افغان نامه، کتاب اول، تهران، ۱۳۵۹.

## د لیکوال آثار

۱. د شوروي اتحاد نړیواله تجربه او په افغانستان کې د ځمکو اصلاحات (د ماستېرۍ تېزس)، په روسي ژبه، ۱۹۸۴. (ناچاپ)
۲. د افغان- شوري د متقابلو اړیکو تاریخ (۱۹۴۰- ۱۹۷۰م.) (دکتورا تېزس) په روسي ژبه، ۲۰۱۶م. (چاپ)
۳. اوتوریفرات (د دوکتورا تېزس لنډیز)، په روسي ژبه، ۲۰۱۶م. (چاپ)
۴. د شپاړسمې میلادي پېړۍ په پیل کې د پښتنو سیاسي، اقتصادي او کتلوري حالت. (چاپ)
۵. د مغلو او تیموریانو د واکمنۍ پر مهال د پښتنو حالت. (چاپ)
۶. پښتانه د تاریخ په بهیر کې، لومړی ټوک، (چاپ)
۷. پښتانه د تاریخ په بهیر کې، دوهم ټوک، (چاپ)
۸. د خوشحال خان ژوند، مبارزه او تاریخ لیکنه. (چاپ)
۹. د غازي امان الله خان شخصیت او کارنامې، (چاپ)
۱۰. محمد موسی شفیق د خپلو افکارو او آثارو په هنداره کې، ټولونه، سمونه او لیکنه. (چاپ)
۱۱. د پښتنو او بلوڅو د آزادۍ د لارې غازیان او ملي مبارزین. (چاپ)
۱۲. د برتانوي او پاکستاني استعمارگرو پر ضد د پښتنو او بلوڅو د مبارزو تاریخ. (چاپ)
۱۳. کرلاڼي څوک دي؟ (چاپ)
۱۴. د پارتیانو تاریخ. (چاپ)
۱۵. په ننگرهار کې د غیر پښتنو قومونو پېژندنه. (چاپ)
۱۶. واحد افغان ملت د تاریخ په رڼا کې. (چاپ)
۱۷. د افغان ملت پېژندنه (چاپ)
۱۸. د عبدالعظیم رضایي د اثر «تاریخ ده هزار ساله ایران» د لومړي ټوک پر دویم او درېیم څپرکو کره‌کتنه
۱۹. سهاک څوک دي؟ (چاپ)
۲۰. په افغانستان او نړۍ کې د اسلام دین په خپرولو کې د سیاسي نظامونو رول(چاپ)
۲۱. احمدشاهي دولتدارۍ ته کتنه (همدا اثر)

## ژباړې

۲۲. د افغان- شوري د متقابلو اړیکو تاریخ (۱۹۴۰- ۱۹۷۰م.)، (چاپ)
۲۳. شوروي افغان پېژندنه (۱۹۱۷- ۱۹۵۷م.)، (چاپ)
۲۴. د افغانستان معاصر تاریخ، (د پوهنې وزارت لپاره)، (ناچاپ)
۲۵. افغان ملت پالنه د تاریخ په اوږدو کې. (چاپ)
۲۶. د منځنۍ آسیا د فرهنگ په لېږد کې د افغانستان ونډه. (چاپ)
۲۷. آریانا یا افغانستان. (چاپ)
۲۸. په کابل او هند د بابر واکمني. (چاپ)
۲۹. د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري وېش. (چاپ)
۳۰. ظهیرالدین محمد بابرشاه (چاپ)